**د اروپا د امنیت او همکاریو سازمان**

**د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو اداره**

# د افغانستان اسلامي جمهوریت

د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو ټاکنې

د ۲۰۱۴ کال د اپریل ۵ او د جون د میاشتې ۱۴

وارسا
د ۲۰۱۴ کال د ډیسمبر ۵ مه

د محتویاتو فهرست


1. مهم لنډيز ........................................................................................................ 1
2. دټاکنو د حمايوی تيم په هکله عام نظر ........................................................................ 7
الف. د مکلفيتونو په هکله عام نظر ..................................................................... 7
ب. اجرائيوی او امنيتی مسلی ............................................................................... 8
ج. ميتودالوژی ...................................................................................................... 8
د. يادوونه ............................................................................................................ 9
3. سياسی او امنيتی شاليد ..................................................................................... 9
الف. د حکومت سيستم او سياسی جوړښت .............................................................. 9
ب. امنيتی حالت ............................................................................................... 10
4. حقوقی چوکاټ ................................................................................................ 10
الف. د اساسی قانون له نظره حقوقی چوکاټ ........................................................ 10
ب. د کانديدانو ثبت ............................................................................................ 13
5. دټاکنو اداره ................................................................................................... 14
الف. لوژستيک، روزنه او د عامه خبرتيا فعاليتونه .............................................. 16
6. درايو اچونکو ثبت .......................................................................................... 16
7. کمپاين ......................................................................................................... 18
الف. د کمپاين چاپيريال .................................................................................... 18
ب. درسنيو کميسيون ........................................................................................ 20
ج. د ټاکنيز کمپاين تمويل .................................................................................. 21
8. ملی او نړيوال نظارت ..................................................................................... 22
9. د ټاکنو ورځ .................................................................................................. 26
الف. د رايی اچونی د مرکزونو ليست .................................................................... 26
ب. د ټاکنو د ورځی امنيت .................................................................................. 27
ج. د درغليو د مخنيوی لپاره هڅی ....................................................................... 28
د. د ټاکنو د ورځی اجراآت ................................................................................. 29
ه. د رايی اچونی په ځايونو کی د رايو شميرنه ........................................................ 30
10. ثبت او جدول بندی ........................................................................................ 31
11. د قسمی او لومړنيو نتايجو اعلان ...................................................................... 33
الف. قسمی نتايج ............................................................................................... 33
ب. لومړنی نتايج ............................................................................................... 34
12. د دويم پړاو ټاکنو له ورځی څخه وروسته انکشافات .............................................. 35
الف. د ټاکنو خپلواک کميسيون د اجرايی رييس استعفا ............................................. 35
ب. د ټاکنو د خپلواک کميسيون تفتيش ................................................................. 36
ج. بشپړ تفتيش .................................................................................................. 38
13. شکايتونه او استيناف غوښتنی .......................................................................... 40
الف. بنسټيز او حقوقی چوکاټ ............................................................................. 40
ب. شکايتونوته رسيدنه ........................................................................................ 42
14. د نهائی نتايجو اعلان او خپرول ......................................................................... 45
15. سپارښتنی .................................................................................................... 45
الف. د لومړيتوبونو په هکله لنډ مهاله سپارښتنی ..................................................... 45
ب. اوږدمهاله سپارښتنی ....................................................................................... 49
لومړی ضميمه: دجمهوری رياست د ټاکنو نتايج ....................................................... 51
د OSCE د ديموکراتيکو بنسټونو او بشری حقوقو اداری په اړه ................................... 52

## افغانستان اسلامي جمهوريت
## د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو ټاکنې
## د ۲۰۱۴ کال د اپريل ۵ او د جون د مياشتې ۱۴ مه

## د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونواو بشري حقوقو د ادارې د حمايوي ټيم رپوټ[1]

### 1. مهم لنډيز

د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمسيون د غوښتنليک او د OSCE د دايمي هيأت د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر مياشتې د ۱۰۹۴ پريکړې پر اساس د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونواو بشري حقوقو د ادارې(ODIHR) له خوا د ۲۰۱۴ کال د اپريل د مياشتې د ۵ نيټې د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو د ټاکنو څخه د افغانستان د حکومت او نړيوالې ټولنې د ټاکنيزو هڅو د ملاتړ لپاره د ټاکنو يو حمايوي ټيم واستوول شو. د دغه ټيم هدف دا و تر څو د ټاکنو د پروسې په هکله يو رپوټ چمتو کړي چې پکې حکومت ته د ټاکنو څخه په وروسته موده کې د اصولو د تطبيق او د راتلونکو ټاکنو په تر سره کولو او اجراآتو کې د ښه والي او د افغانستان د حقوقي چوکاټ د بهبود په اړه يو لړ سپارښتنې هم شاملې دي. د بن د موافقتنامې نه وروسته په افغانستان کې د ۲۰۰۴ کال د جمهوري رياست د ټاکنو څخه را پديخوا دا پنځم ټيم دی چې د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونواو بشري حقوقو د ادارې لخوا د ټاکنو څخه د ملاتړ په موخه افغانستان ته استول کيږي.

د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونواو بشري حقوقو د ادارې د ټاکنو حمايوي ټيم افغانستان ته د ۲۰۱۴ کال د مارچ د مياشتې په ۵ نيټه واستول شو چه په لومړي مرحله کې په OSCE کې د ۱۳ ګډون کونکو دولتونو څخه ۱۵ تنه کارپوهان شامل و. په کابل سريناهوټل باندې د غمجنې حملې څخه ورسته د ټاکنو حمايوي ټيم د ۹ کارپوهانو په لرلو سره د جولای تر ۳۱ نيټې پورې فعاليت درلود، خو د بوديجې د نه لرلو په وجه بيا ورسته دغه ټيم خپل فعاليت بند کړ. د ټيمونو د ليږلو په وخت کې دOSCE د ډيموکراتيکو بنسټونواو بشري حقوقو د ادارې ټيمونو په منظم ډول د ټاکنو د کميسيون له مقاماتو، کانديدانو، سياسي ګوندنو، څارونکو، امنيتي او دولتي چارواکو او رسنيو سره ناستې درلودې. دغه راز دې ټيم له نړيوالو همکارانو سره چې په کې اوږد مهاله بسپنه ورکونکي، ديپلوماتيکه ټولنه او نړيوال څارونکي سازمانونه شامل و، غونډې هم درلودې.

د ۲۰۱۴ کال ټاکنې د افغانستان په تاريخ کې د يوې مهمې پيښې په حيث په پراخ ډول وکتل شوې چې په سوليز ډول د قدرت د ليږد لپاره يې د نړيوالو ځواکونو د وتلو په درشل کې زمينه برابره کړه.
پداسې حال کې چې د ټاکنيز چوکاټ، د ټاکنو لپاره يو جامع او مناسب چوکاټ دی خو د اساسي قانون ځنې احکام د نړيوالو معيارونو سره سمون نه لري. په ۲۰۱۳ کال کې د ټاکنو د دوو قوانينو تصويب د ټاکنيز چوکاټ د بهبود په اړه يو لوی ګام و ځکه مخکينې ټاکنې به د جمهور رييس د فرمان په واسطه تر سره کيدې. پداسې حال کې چې نوي قانون د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د ادارې سپارښتنې عملي کړې خو ځنې احکام د نړيوالومعيارونه سره سمون نه لري. د قانوني ميعاد څخه وروسته د ځنې کليدي مقرراتو تصويب د ټاکنيزو همکارانو د ټاکنو په اصولو باندې د پوهيدو مخه ونيوله. برسيره پردې د ټاکنيزو همکارانو لخوا د ټاکنيز چوکاټ په مناسب ډول تطبيق کول چې په پخوانيو ټاکنو کې به هم ستونزمن وو، لا هم بشپړتيا ته اړتيا لري.

د حقوقي او بنسټيزو کمښتونو سره سره د کانديدانو د ثبت پروسه جامع وه او رايه ورکونکو د ټاکنو په ورځ د خپل په زړه پورې کانديد لپاره د رايو اچونه په ښه توګه تر سره کړه. د ډيرو محدوديتونو سره سره ټاکنيز کانديدان مجبور وو چې د خپلو پلويانو د لاسليکونو لست ( يا د ګوتې چاپ) او مالي بسپنه تسليم کړي. د ولايتي شورا کانديدانو ته د تحصيلاتو شرط ايښودل شوي و چې په غير متناسب ډول ميرمنې ترې متاثره کيدې. د ټاکنو خپلواک کميسيون ونشوای کولای چې د کانديدانو د رد د دلايلو په هکله پوره معلومات ورکړي.

د ټاکنو په ادراه کې د ټاکنو خپلواک کميسيون، او د دغه کميسيون ولايتي دفترونه، د رايو اچونو د مرکزونو مديران، او د رايو اچونو د مرکزونو کميسيونونه شامل و . پداسې حال کې چې ټاکنيز حقوقي چوکاټ د تعيناتو او مقرريو په هکله د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د ادارې د پخوانيو سپارښتنو سره سم يو شفاف او جامع ميکانيزم بيانوي خو ځنې ټاکنيزو همکارانو د ټاکنو خپلواک کميسيون د کميشنرانو د استقلاليت په هکله شک څرګند کړ. د ټاکنو خپلواک کميسيون په ځنې ټاکنيزو کړنو کې شفافيت نه درلود خو شکايتونو ته يې قانع کونکي ځوابونه وويل او بيا ورسته په خاصه توګه د جمهوری رياست د ټاکنو په دوهم پړاو کې اصلاحات پکې راغلل. د نړيوالې ټولنې پرله پسې

---

[1] د دغه رپوټ انګليسي نسخه يوازنی رسمي سند دی. غير رسمي دري اوپښتو ژباړې يې هم موجودې دي.

ملاتړ، په خپل وخت سره د ستراتیژیکو اسنادو تیارول، او دغه راز د د ټاکنو خپلواک کمیسیون لخوا د تیرو ټاکنو څخه د تجربو زده کړه ټول هغه څه وو چي د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو په هکله یې د ټاکنو د اداري سره په چمتو والي کې مرسته وکړه.

د رایه اچوونکو ثبت یو فعاله پروسه ده او رایه اچونکي باید د رایي ورکولو په مرکز کې حاضر وي او باید د هویت اسناد ښکاره کړي تر څو د رایې کارت تر لاسه کړي. په ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کلونو کې د رایه ورکونکو لپاره د ثبت د اضافي کارتونو ویش پر مهال کابو ۲۱ میلیونه کارتونه د ۱۳ میلیونو رایه اچونکو په منځ کې په دوران کې وو. په دوران کې بیشمره موجود کارتونه او د رایو د پاڼو بې حده تخصیص د خلاف ورزۍ لپاره زمینه برابروي او د درغلۍ تشخیص کمزوری کوي.

د ژمي د هوا د حالاتو له کبله د جمهوري ریاست د لومړي پړاو کمپاینونه لومړۍ ډیر ورو پیل شول خو بیا یې ورسته سرعت پیدا کړ. اکثره کاندیدانو د کابل دننه او بهر ښي غونډې تر سره کړې. د جمهوري ریاست د مرستیالی لپاره د مختلفو قومونو څخه د کاندیدانو ټاکنې اکثرو کاندیدانو ته دا زمینه مساعده کړه چي مختلفو قومونو ته ځان ورسوي. د کمپاینونو روحیه په عام ډول د پروسې تر پایه ډیره مثبته وه خو د ټاکنو په وخت کې ټاکنیز چاپیریال تغیر وموند. که څه هم منفي رقابتونه او قومي لانجي د یوه کاندید له خوا څخه د بل کاندید د ټیټ شمیرلو لپاره پیل شوې خو په عام ډول داسې کسان د مدني ټولنې ، مقاماتو او حتې د کاندیدانو لخوا وغندل شول.

د رسنیو کمیسیون د ۲۰۱۳ کال په دیسمبر کې د ټاکنو د کمیسیون لخوا د یوې موقتي مرجع په ډول تاسیس شو تر څو د ټاکنو په وخت کې د رسنیو له فعالیتو څخه څارنه وکړي. د رسنیو کمیسیون د کمیشنرانو په تعیناتو کې د شفافیت د نه شتون په هکله ریپوټ ورکړ. برسیره پردې د کارمندانو په مقررۍ او د رسنیو د کمیسیون لپاره د بودجې په تخصیص کې ځنډ چي د دواړو مسوولیت د ټاکنو خپلواک کمیسیون په غاړه و، د رسنیو پر کمیسیون منفي اغیزه وکړه تر څو د رسنیو له فعالیتونو څخه په ښه توګه څارنه وکړي.

د کمپاین د تمویل چارې د ټاکنو د قانون او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مقررې په واسطه تنظمیږي. حقوقي چوکاټ د نړیوالو معیارونو مطابق د کمپاین د تمویل د شفافیت او بشپړتیا لپاره خاص شروط وضع کوي خو د خلاف ورزیو په صورت کې د تعزیراتو په هکله وضاحت نلري. د ټاکنو د دواړو پړاونو د لګښتونو د تخصیص د ټیټ والي په اړه د نړیوالو همکارانو اوکاندیدانو لخوا ډیر انتقادونه وشول. دغه کار د کاندیدانو لخوا د پټو مصارفو باعث وګرځید چه د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته یې په اړه غلط ریپورټونه ورکړل شول.

د ټاکنو قانون د داخلي او بهرني نظارت حکم کوي. په عام ډول دغه طرزالعمل پر وخت او جامع و. د ټاکنو خپلواک کمیسیون څه ۱۸۰۰۰ کورنی څارونکي د ټاکنو لپاره د اعتبار وړ وبلل چي ۳۰ فیصده یې ښځې وې. د څارونکو ریپوټونو اکثرآ نیمګړتیاوې په ګوته کولې خو ضروري تفصیلات یې د موندل شویو حقایقو په اړه نلرل. علاوتآ ۳۴۵۷۱۵ تنه د کاندیدانو او د سیاسي ګوندونه استازي د اپریل د ۵ نیټې د ټاکنو او۸۷۳۴۶ تنه د جمهوري ریاست د ټاکنو څار لپاره د اعتبار وړ وبلل شول. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خولې د رایی اچونې د نتایجو ۹۵ فیصده پاڼې د کاندیدانو د استازو له خوا د جمهوري ریاست په ټاکنوکې لاسلیک شوې.

د ټاکنو دواړو پړاونو په ورځوکې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د پیاوړې پلان جوړونې له ننګونو سره مخ شو او مجبور و چي د بشپړو ټاکنو د تر سره کولو او د خطرونو او درغلۍ د مخنیوې لپاره چي د بې شمیره رایې اچونې د پاڼو د دوران په نتیجه کې رامنځ ته کیدای شواې چمتو والی ولري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کورنیو چارو د وزارت څخه د رایي اچونې د نیږدې مرکزونو د امنیت په اړه نظر وغوښت او د رایې اچونې د مرکزونو، د ټاکنیزو همکارانو او کاندیدانو لست یې ولوست او بیا یې د مرکزونو د تعداد او پرانیستلو په اړه فیصله وکړه.

د ۲۰۱۴ کال له ټاکنو مخکې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د درغلیو د له منځه وړلو لپاره یوه ستراتیژي جوړه کړه چي پکې د کارمندانو او مقاماتو لپاره څیړنه، د رایې اچونې د مرکزونو څخه د حساسو معلوماتو د لیږد رالیږد د محرمیت او د نتایجو د اصلیت په اړه څیړنې شاملې وې.

د ټاکنو په دواړو پړاونو په ورځوکې په خاص ډول د دوهم پړاو په ورځ د بې امنیتې د پیښو سره سره او د اداري ننګونو باوجود، د افغانستان د امنیتي قواوو فعالیت د افغانستان د خلکو او بهرنیو همکارانو له خوا د یوه لوی بریالیتوب په توګه وستایل شو.

د ټاکنو په دواړو ورځوکې د رایې اچونکو د ګوتو رنګ او دهغوی د کارتونو سورۍ کولو د تقلبي او دوهم ځل رایه اچونې مخه ونیوله. د رایې اچونکو کارتونو شمیره په دواړو ټاکنو کې په یوه کتاب کې ثبت شوه، خو د یوه مرکزي سیستم د نه شتون له کبله دغه میکانیزم د درغلیو د مخنیوي لپاره د پوښتنې وړ و. په دواړو پړاونو کې، دټاکنو خپلواک

کميسيون په ډېرو سيمو کي د رايو د پاڼو د کمښت ريپوټونه تر لاسه کړل او خپلو کار مندانو ته يې امر وکړ تر څو احتياطي پاڼي دغه سيمو ته وليږدوي. د ټاکنو د خپلواک کميسيون اجراآت د جعلي رايه اچونکو په هکله ډېر بريالي و، يوازې څو داسي قضيې وې چې په هغه کي در درغلګرو رايه اچونکو په هکله ريپوټونه ورکړل شول. د رايي د پاڼو په اړه ستونزې کيدای شي تر هغه پورې دوام ومومي تر څو پورې چی د هر رايي اچوني د مرکز او د رايه اچونکو د تعداد يو مرکزی ثبت سيستم نه وي موجود.

د قانون سره سم، د رايو شميرنه په هر مرکز کي تر سره شوه. خو نه قانون او نه هم د ټاکنو د خپلواک کميسيون مقررې دا خبره واضح کړې چي د رايه اچوني د مرکز مديران او مسولين حق نلري چي مخکي له دې چي د نتايجو فورمي د ټاکنو د خپلواک کميسيون د ثبت ملي مرکز ته واستوي، د رايو په پاڼو کي لاس وهنه و کړي چي د نړيوالو اصولو سره مخالف کار دی. د ثبت په ملي مرکزکي د ثبت او شميرلو طرزالعمل ښکاري چي ښه ډيزاين شوي وي او مخکي له مخکي آزمويل شوی دی. د ولايتي شوراګانو او د جمهوري رياست د ټاکنو د دواړو پړاونو د معلوماتو ثبت په ښه توګه ترسره شو. د ټولو اچول شويو رايو په مقابل کي د رايه اچونکو د تعداد شميرل طرزالعمل ضرور نه ګڼي نو ځکه د ثبت د ملي مرکز په پروسه کي ترسره نه شو. يوازې که د نتايجو د فورمو په هکله کومه پوښتنه راپورته شوې واي، نو دا دوه اعداد سره مقايسه کيدل. په دوهم پړاو جدول بندی کي د ټاکنو د خپلواک کميسيون د دغه مهم شفافيت او حساب ورکولو اقدامات، پريښودل.

دقانون مطابق د ټاکنو د خپلواک کميسيون مکلفيت دا دی چي د ټاکنو لومړني او نهايي نتايج خپاره کړي. په لومړي پړاوکي قسمي نتايج په داسي شکل اعلان شول چي د څارونکو له خوا د ارايي اچوني په مرکزونو کي د ثبت شويو نتايجو سره نه مقايسه کيدل. په دوهم پړاوکي قسمي نتايج هيڅ کله خپاره نشول.

د قسمي نتايجو په نسبت، د لومړيو نتايجو خپريدل بايد د ټاکنو د خپلواک کميسيون د فيصلي سره سم تر سره شي او نتايج کيدای شي له حقوقي اړخه د کانديدانو لخوا د ننګونو سره مخ شي. قسمي نتايج د لومړی پړاو نه وروسته د ټاکنو د خپلواک کميسيون لخوا د هر کانديد لپاره د سمو اچول شويو رايو په شکل کي اعلان شول. دغه راز د سپينو او تخريب شويو رايو حساب و نشو. دغه کار د کانديدانو او د هغوی د استازو لپاره د شکاياتو د صادرولو په مخ کي لوی خنډ شو. د ټاکنو خپلواک کميسيون د دوهم ځل ټاکنو د لومړنيو نتايجو اعلان د سياسي ملحوظاتو په بنا وځنداوو.

په دواړو پړاونو کي د ټاکنو خپلواک کميسيون له داسي معيارونو څخه ګټه واخيسته چي دا خبره مشخصه کړي چي د رايي اچوني د کوم مرکز د رايو په هکله بايد تفتيش او بيا شميرنه ترسره شي. د جمهوري رياست يوه کانديد له ټاکنيزې پروسې څخه ځان و ايست او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د رييس د استعفا او د ثبت شويو رايو لپاره يې د تفتيش د يو شمير زياتو اقداماتو او باطلولو غوښتنه وکړه. د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کوښښونو سره چي د رايو د بيا شميرلو له لارې يې پيدا کړي، همدغو کانديدانو لومړی نتايج رد کړل او د ټاکنو د خپلواک کميسيون د صلاحيتونو په اړه يې پوښتني پيل کړې. کله چي سياسي تاوتريخوالی زيات شو او نړيوالي ټولني مداخله وکړه تر څو د جمهوري رياست د دوو کانديدانو تر منځ جوړجاړی وکړي نو د ټاکنو کمسيون ډير بې وسي شو. خو کله چي هر اړخيزه تفتيش پيل شو، د ټاکنو خپلواک کميسيون بيا په پښو ودريد او د ستونزو د حل لپاره يې اقدامات پيل کړل.

د دوو کانديدانو تر منځ پر خبرو اترو او جوړ جاړې چي د ملګرو ملتونو او د امريکا د متحده ايالاتو د خارجه وزير په وساطت تر سره شول د يوه کانديد لخوا د ټاکنو پر ادارو باندې د نيوکو په ځواب کي د ټاکنو خپلواک کميسيون فيصله وکړه تر څو د درايو ټول صندوقونه کابل ته د پاکو او نا پاکو رايو د جلا کولو لپاره انتقال کړي. په دې هکله پرته له دې چي د رايو د بيا شمير او باطلولو باندې موافقه وشي يو بشپړ تفتيش هم پيل شو. دا کار د دواړو کانديدانو تر منځ د دوامدارو خبرو اترو موضوع وه چي د ملګرو ملتونو لخوا يې وساطت وشو، او د تفتيش له پيل کيدو دوه اونۍ وروسته د واړو کانديدانو تر منځ موافقه وشوه. د ټاکنو خپلواک کميسيون د کانديدانو د استازو او ناظرينو پر وړاندې د تفتيش د نتايجو د بيا کتني پروسه پيل کړه او د شکاياتو کميسيون ته د بيا کتني د کميټي د پريکړې لپاره د استيناف غوښتني حق ورکړ.

د شکايتونو ترلاسه کول او د هغوی په هکله د پريکړې کولو صلاحيت يوازې د شکاياتو د کميسيون او په ولايتونو کي د هغه د اړوندو دفترونه سره دی. د شکاياتو کميسيون ته قانون يو شمير زيات مکلفيتونه او صلاحيتونه ورکړي او د ټاکنو په هکله د شکاياتو په وړاندې د پريکړې يوازنی مرجع ده. د نوي حقوقي چوکاټ سره سم او د OSCE د سپارښتنو پر اساس د شکاياتو د کميسيون رامنځ ته کيدل يو مثبت پرمختګ و. خو د ټاکنو په قانون کي د راجستر شويو کانديدانو د لومړي لست د چمتو کولو د ميعاد او د ټاکنو د ورستيو پايلو د صلاحيت په هکله متضاد او نيمګړي احکام موجود دي. د ټاکنيزو لانجو د حل د سيستم دبسنتيزو انکشافاتو د زيات پرمختګ سره د شکايتونو په هکله د پريکړو پروسې د شکاياتو د کميسيون د کارمندانو د ظرفيت ټيټوالی په ګوته کړ ځکه هغوی و نشوی کولای چي په ولايتي کچه پوره تحقيقات تر سره کړي .

د سپټمبر په ۲۹ د بشپړتفتیش د نتایجو څخه وروسته، ډاکترغني د افغانستان د جمهور رییس او ډاکتر عبدالله د ملي یووالي د حکومت د اجراییه رییس په توګه اعلان شول. د ولایتي شوراګانو د ټاکنو پایلې د ۲۱۰۴ کال د اکتوبر په ۲۵ نیټه اعلان شوې.

## 2. د ټاکنو د حمایوي ټیم په هکله عام نظر

### الف. د مکلفیتونو په هکله عام نظر

د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمسیون د غوښتنلیک او د OSCE د دایمي هیآت د ۲۰۱۳ کال د اکتوبر میاشتې د ۱۰۹۴ پریکړې پر اساس د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو د اداري(ODIHR) له خوا د ۲۰۱۴ کال د اپریل د میاشتې د ۵ نیټې د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو د ټاکنو څخه د افغانستان د حکومت او نړیوالې ټولنې د ټاکنیزو هڅو د ملاتړ لپاره د ټاکنو یو حمایوي ټیم واستول شو. د دغه ټیم هدف دا و تر څو د ټاکنو د پروسې په هکله یو ریپوټ چمتو کړي چې پکې حکومت ته د ټاکنو څخه په وروسته موده کې د اصولو د تطبیق او د راتلونکو ټاکنو په تر سره کولو او اجراآتو کې د ښه والي او د افغانستان د حقوقي چوکاټ د بهبود په اړه یو لړ سپارښتنې هم شاملې دي.[2] د ۲۰۰۴ کال د جمهوري ریاست د ټاکنو څخه را پدیخوا او د بن د موافقتنامې نه وروسته په افغانستان کې دا پنځم ټیم دی چې د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو د اداري لخوا د ټاکنو څخه د ملاتړ په هدف افغانستان ته استول کیږي.[3]

د ښاغلي هرالد جیسن په مشرۍ د OSCE د ټاکنو حمایوي ټیم افغانستان ته د ۲۰۱۴ کال د مارچ د میاشتې په ۵ نیټه واستول شو چه په لومړي مرحله کې په OSCE کې د ۱۳ ګډون کونکو دولتونو څخه ۱۵ تنه کارپوهان شامل و. په کابل سریناهوټل باندې د غمجنې حملې څخه وروسته ، چیرته چې دغه ټیم استوګنه لرله، د ټاکنو حمایوي ټیم په موقت ډول د مارچ په ۲۱ استانبول ته انتقال شو چې بیا یوازې ۶ تنه غړي یې د مارچ په ۲۸ بیرته کابل ته را ستانه شول چې کار بیا پیل کړي. دغه ټیم د یوه کارپوه په لرلو سره په مې او دوه نورو کسانو د جون په میاشت کې د جمهوری ریاست د دوهم پړاو د ټاکنو نه مخکې کار پیل کړ. د ټیم د غړو په تعداد کې کموالي په ټاکنیزو مسئلو باندې اغیزه وکړه چې OSCE دا خلا ډکه کړه. د ټاکنو حمایوي ټیم د ۹ کارپوهانو په لرلو سره د جولای تر ۳۱ نیټې پورې فعالیت درلود، خو د بودجې د نه درلودلو په وجه بیا وروسته دغه ټیم خپل فعالیت بند کړ او د ټاکنو د نتایجو د پوره تفتیش، د شکایتونو په هکله د پریکړو او د نهایي نتایجو څخه یې مخکې بیرته افغانستان پریښود. که څه هم د جولای د ۳۱ څخه وروسته OSCE د ټاکنو د پروسې د تفصیلاتو څخه خبر کړای شو، خو د ټاکنو حمایوي ټیم د تلو نه وروسته محدود راټول شوي معلومات چې پدې ریپوټ کې شامل دي په مستقل ډول نشي تصدیق کیدای.

د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمایوي ټیم خپله پاملرنه د اضافي مهارتونو په شکل کې مرستو ته واړوله تر څو د نورو نړیوالو مرستندویو کارونه تکمیل کړي او د راتلونکو ټاکنو لپار سپارښتنې هم ورکړي. پدې ریپوټ کې نغښتې سپارښتنې د پخوانیو سپارښتنو تکمیلوونکې دي چې د افغانستان دولت ته د ۲۰۱۵ کال د ټاکنو د چمتووالي او د اوږدمهاله ټاکنیزو ریفورمونو په هدف وړاندې کیږي. پداسې حال کې چې ځنې پخوانی سپارښتنې عملي شوې دي خو ځنې یې لا پاته دي چې باید عملي شي.

### ب. اجرایوي او امنیتي مسایل

د OSCE د دایمي هیآت د ۱۰۹۴ پریکړې پر اساس د OSCE سکرتریت او د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو اداري ته یو ځای دنده ورکړل شوه تر څو د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي قوتونو او د ملګرو ملتونو په شمول د نړیوالو همکارانو سره مشوره وکړي تر څو په ښه توګه امنیتي تدابیر ونیول شي. د ټاکنو د حمایوي ټیم لیږد او د OSCE سکرتریت او د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د امنیتي ارزونې لپاره افغانستان ته سفر د ۲۰۱۳ کال د نومبر د ۱۹ څخه تر ۲۲ صورت وموند چې بیا وروسته د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ارزونې ټیمونو د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د میاشتې د ۶ څخه تر ۹ نیټې پورې د افغانستان بیا دوره کړه تر څو د ټاکنو د چاپیریال او ټاکنو لپاره د تیاري نیولو په هکله ارزونه تر سره کړي.[4] له دغه لیدنو نه وروسته، د OSCE د دایمي کمیسیون رییس د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو د حمایوي ټیم د تشکیل، دندې، دوام او د امنیتي تدابیرو په هکله یو پروپوزل توزیع کړ.

[2] د دایمي هیآت د پریکړې د کتو لپاره لطفاً دا لینک کلیک کړئ http://www.osce.org/pc/107429
[3] په افغانستان کې د ټاکنو په اړه د OSCE/ODIHR مخکیني ریپوټونه دلته موندل کیږي http://www.osce.org/odihr/elections/afghanistan/74786.

[4] د OSCE/ODIHR د تحقیقاتي ټیم ریپوټ دلته موندل کیږي http://www.osce.org/odihr/elections/110503

د فبروري په ۷ نيټه د افغانستان د دولت او OSCE تر منځ يو تفاهم ليک لاسليک شو چې له مخې يې د ټاکنو د حمايوي ټيم د ليږد د شکل او امنيت په هکله موافقه وشوه. د ناټو د سکرتر جنرال او OSCE تر منځ هم ليکونه تبادله شول چې له دغه ټيم څخه يې د زيات ملاتړ تاکيد کاوه. برسيره پر دې د ملګرو ملتونو د سکرتر جنرال د خاص استازي او OSCE تر منځ هم ليکونه تبادله شول چې د ملګرو ملتونو لخوا د امينتي ملاتړ هوډ يې څرګندواوه او پکې د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د ادارې د ټاکنو د حمايوي ټيم او د ملګرو ملتونو د مصئونيت او امنيت ځانګې اړيکې هم شاملې وې.

### ج. ميتودالوژي

د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم په منظم ډول د ټاکنو د کميسيون له مقاماتو، کانديدانو، سياسي ګوندونو، څارونکو، امنيتي او دولتي چارواکو او رسنيو سره ناستې درلودې. دغه راز دې ټيم له نړيوالو همکارانو سره چې په کې اوږد مهاله بسپنه ورکونکي، ديپلوماتيکه ټولنه، نړيوال څارونکي سازمانونه، د ملګرو ملتونو استازي او د شکاياتو کميسيون شامل و، غونډې درلودې. علاوتآ دغه ټيم د امکان تر بريده ټاکنيز پروګرامونه لکه د چارواکو لپاره تعليمي پروګرام، د ټاکنو د ورځ رايه اچونه ، د شمير پروسه او د تفتيش پروسه تعقيب کړې. دغه ټيم په مطبوعاتي کنفرانسونو، تشريحاتو، او د همکارانو په غونډو کې هم ګډون وکړ.

د کار په ترڅ کې د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم يو سند چمتو کړ چې پکې ځنې مهم ټکي د غور لپاره ذکر شوي و او د پروسې په هکله سپارښتنې هم پکې شاملې وې. دا سند د ټآکنو د خپلواک کميسيون، د شکايتونو کميسيون او د يو اين ډي پي د ايليکټ پروژې د کارمندانو د غور لپاره له دوی سره شريک کړای شو چې کاپي ګانې يې د ټاکنو کليدي همکارانو ته هم واستول شوې. دغه راز داخلی ناظرينو ته هم پدې مورد کې نظريات ورکړل شول او مرسته ورسره وشوه. د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم هيڅ مطبوعاتي پاڼه خپره نکړه او د رسينو سره يې هم د ټاکنو د پروسې په اړه مرکې و نکړې.

### د. يادوونه

د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم د افغانستان له دولت، په خاص ډول د کورنيو او بهرنيو چارو له وزارتونو څخه د مرستې په خاطر ډيره مننه کوي . دغه راز دا ټيم د ټاکنو له خپلواک کميسيون، د شکايتونو کميسيون او په مختلفو سطحو کې له افغان چارواکو څخه د زړه له کومې څخه د دوی له مرستو او همکاريو په خاطرمننه کوي. د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم غواړي د يوناما له دفتر څخه د ليږد په موده کې د همکارۍ او د آيساف څخه د سرينا هوټل د حملې څخه ورسته ټيم ته د پناه ورکولو له کبله مننه وکړي. د يو اين ډي پي د ايليکټ پروژې د کارمندانو او آيفيس IFES موسسې او نورو نړيوالو همکارانو مرستې او هڅې هم د ستايلو وړ دي. د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم په افغانستان کې اروپايي اتحاديې د استازي هيآت او اروپايي اتحاديې د ټاکنو د ارزونې د ټيم او نورو بين المللي څارونکو او تحليل ګرو چارواکو سره د افکار د تبادلې هرکلی وکړ. او په پای کې د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونواو بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم د OSCE ګډونکونکو دولتونو ته د دې پروژې لپاره د مالي مرستو له کبله د زړه له کومې د مننې مراتب وړاندې کوي.

### 3. سياسي او امنيتي شاليد
### الف. د حکومت سيستم او سياسی جوړښت

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د حکومت سيستم يو رياستي سيستم دی چې يو جمهور رييس دوه ځله د پنځو کلونو لپاره ټاکل کيدای شي. د اساسي قانون مطابق جمهور رييس د دولت او اجرايي قوا په راس کې قرار لري. په دغه هيواد کې پارلمان دوه مجلسه لري چې يو يې ولسي جرګه او بل يې مشرانو جرګه دي. ولسي جرګه ۲۴۹ غړي لري چې په مستقيم ډول د پنځو کلونو لپاره ۳۴ ولايتونو څخه ټاکل کيږي او مشرانو جرګه ۱۰۲ غړي لري[5] . ولايتي شوراګانې په ۳۴ ولايتونو کې ۴۵۸سيټونه لري چې د سيټونو تعدا د هر ولايت د لويوالي او نفوسپه سر فرق کوي چې له ۹ څخه تر ۳۳ غړو پورې پکې ټاکل کيدای شي. د ولايتي شوراګانو غړي د څلورو کلونو لپاره ټاکل کيږي.

د ۲۰۱۴ کال ټاکنې د افغانستان په تاريخ کې د يوې مهمې پيښې په حيث په پراخ ډول وکتل شوې چې په سوليز ډول د قدرت د ليږد لپاره يې د نړيوالو ځواکونو د وتلو په وخت کې زمينه برابره کړه.

[5] مشرانو جرګه له هغه غړو څخه تشکيل شوې چې د جمهوررييس لخوا تعينيږي اوله ولايتي او د ولسوالی له شوراګانو څخه ټاکل کيږي. د ولسوالی له شوراګانو څخه تر اوسه څوک ندي ټاکل شوي اوټاکنې بهيې ورسته تر سره کيږي.

جمهور رییس حامد کرزي چې لومړی په ۲۰۰۴ کال کې انتخاب شو او بیا په ۲۰۰۹ کال کې د بیا ځل لپاره وټاکل شو، د اساسي قانون د حکم سره سم بیا نشوای کولای چې د دریم ځل لپاره ټاکنو ته ودریږي. د جمهوري رياست او ولایتي شورا ګانو ټاکنې د اپریل په ۵ نیټې او دوو کاندیدانو ترمنځ ټاکنیزې سیالی د مې میاشتې ۲۸ نیټې ته پلان کړای شوې و. د ولایتي شورا ګانو ټاکنې باید په ۲۰۱۳ کال کې ترسره شوې وای خو د ټاکنو د کمیسیون له خوا دځنې لوژیستیکي ستونزو له امله وځنډول شوې او بیا په ۲۰۱۴کال کې د جمهوري رياست د ټاکنو سره یو ځای ترسره شوې.

د ۲۰۱۴ د جمهوري رياست او ولایتي شورا ګانو ټاکنې د بن د موافقې څخه وروسته پنځم ځل ټاکنې دي. د نړیوالې ټولنې رول د افغانستان په ټاکنو کې مخ په کمیدو دی او د ۲۰۱۴ د جمهوري رياست او ولایتي شورا ګانو ټاکنې د افغانانو لخوا د رهبري کولو او اداره کولو په وجه له ډیرو نیوکو سره مخ شوې.

### ب. امنیتي حالت

د جمهوري رياست او ولایتي شورا ګانو د ټاکنو په وخت کې امنیتي وضعیت یو له لویو ننګونو څخه و چې د ټاکنو د چمتووالي، د کاندیدانو د کمپاینونو او د کمپاین د ټیمونو فردي امنیت باندې یې اغیزه کړې وه. طالبانو د ټاکنو څخه مخکې داسې بیانونه خپاره کړل چې دوی به د ټاکنو پروسه ویجاړوي او دغه راز یې د کاندیدانو د کمپاینونو په دفترونو، د ټاکنو پر مرکز او ولایتي دفترونو او دولتي چارواکو باندې خونړۍ حملې ترسره کړې. دغه امنیتي ستونزو پر نړیوالو باندې هم اثر وکړ او د څارنې فعالیتونه یې کمزوري کړل. ډیرو نړیوالو موسساتو خپل اکثره کارکونکي د ټاکنو د ورځې څخه لږ مخکې وایستل او نورو سازمانونو د متواترو تهدیداتو او بې امنیتي په سبب خپل فعالیتونه کم کړل.

## 4. حقوقي چوکاټ

### الف . د اساسي قانون له نظره حقوقي چوکاټ

د جمهوري رياست او ولایتي شورا ګانو ټاکنې د ۲۰۰۴ کال د اساسي قانون او ۲۰۱۳ کال د ټاکنو د نوي تصویب شوي قانون او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دندو او صلاحیتونو او د ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون د قانون ( تشکیل قانون) له مخې تر سره شوې. د ۲۰۰۹ کال د سیاسي ګوندونو قانون، د ۲۰۰۲ کال د غونډو او مظاهرو قانون او د ۲۰۰۴ کال د رسنیو قانون د ټاکنو حقوقي چوکاټ بشپړ کړ. بر سیره پر دې ډیر داسې مسایل لکه د کاندیدانو ثبت او راجستریشن، د جمهور رییس د مرستیالانو تعیین، د رایو اچونکو ثبت، د رایې اچولو او شمیرلو طرزالعمل، تفتیش او څیرنې، د ټاکنو د کمپاین موده، او د کمپاین تمویل ټول د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د مقررو او طرزالعملونو له مخې ترسره کیږي، کوم چې مربوطه قوانینو کښې یې اړوند حکمونه نه موندل کیږی.

*موږ سپارښتنه کوو چې د کاندیدانو ثبت او راجستریشن، د ټاکنو د کمپاین موده، د کمپاین تمویلا، او ټاکنو نتایجو شفافیت او حقوقي پیاوړتیا ته پاملرنه وشي ترڅو چې قانوني وضاحت رامنځته شي.*

د افغانستان اساسي قانون د آزادو، نړیوالو، محرمو او واضح ټاکنو حکم کوي او د سوله ایزو غونډو، ټولنو، بیانونو او حرکتونو اساسي آزادي تآمینوي. د افغانستان د اساسي قانون سریزه او ۷ ماده له دولت څخه غواړي چې د بشري حقوقو د اعلامیې درناوی وکړي او ټول هغه میثاقونه چې افغانستان یې غړیتوب لري مراعات کړي. افغانستان د مګرو ملتو د غړو هیوادونو څخه و چې د بشري حقوقو اعلامیه یې په ۱۹۴۸ کال کې تصویب کړه او دغه راز د ټاکنو په اړه نور میثاقونه لکه د سیاسي او مدني حقوقو نړیوال تړون، او د ۱۹۶۶ کال د هر ډول قومي تعصباتو پر خلاف د مبارزې تړون پکې شامل دي.[6] پر دې برسیره افغانستان یو لړ نړیوال تعهدات او مکلفیتونه لري چې د هغو پواسطه د ښځو حقوق باید خوندي وي.[7] د اساسي قانون پراحکامو سربیره افغانستان د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د کنوانسیون غړی دی. [8] د OSCE د یوه همکار په حیث افغانستان د OSCE د یموکراتیکو ټاکنو د تعهداتود اداري د OSCE د کوپین هاګن د ۱۹۹۰ اسنادو سره سم ددی اداری غړی ندی خو د OSCE ګډونکونکو دولت له مدیترانې او آسیایي همکارانو څخه وغوښتل چې په داوطلبانه ډول د OSCE مقررات تطبیق کړي.

پداسې حال کې چې اساسي قانون د دیموکراتیکو ټاکنو لپاره یو پیاوړی حقوقي بنسټ بیانوي خو ځینې احکام یې د

6 افغانستان د ICCPR او ICERD د ۱۹۸۳ کال دجنوری په ۲۴ او آګست په ۵ نیټه تصویب کړې..

7 افغانستان د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع کنوانسیون د ۱۹۷۹ د دیسمبر په ۱۸ لاسلیک کړ او د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د منع قانون یی په ۲۰۰۹ کال کې تصویب کړ چې دغه قانون ټول هغه فعالیتونه چې جبرآ د ښځو په وړاندې تر سره شي چې د هغې په نتیجه کې د ښځې جسم، روح، مغز، عزت او ملکیت متضرر کیږي جرم وګڼل.

8 د OSCE په۲۱ قرن کې د امنیت اوثبات د تهدیدنوسره د مبارزې ستراتیژي وګوری چې په ۲۰۰۳ کال کې د ماستریچت د وزیرانو د شورا لخوا تصویب شوه او په دې لینک کې موجوده ده[http://www.osce.org/mc/17504](http://www.osce.org/mc/17504).

نړیوالو معیارونو سره مطابقت نلري او تعدیل ته اړتیا لري.[9] په خاص ډول د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلونو د OSCE د ټیم د ریپوټونو سره سم که چیرې اساسي قانون تر تعدیل لاندې وي، د جمهور رییس هغه صلاحیت ته چې په ځنې مواردو کې قانون تصویب کړي باید لومړیتوب ورکړل شي، ځکه چې دا کار د مقننه قوا د قانون جوړولو د حق سره په ټکر کې راځي او د قواوو د تفکیک اصول تضعیفوي. لکه مخکې چې ورته اشاره وشوه د اساسي قانون د حکم مطابق یوازې مسلمان افغان چې مور او پلار یې مسلمانان وي کولی شي د افغانستان جمهور رییس شي.[10]

*که چیرې اساسي قانون تعدیل کړای شي، نو باید د دیموکراتیکو ټاکنو لپاره نړیوال معیارونه او هغه میثاقونه چې افغانستان لاسلیک کړي او د جمهور رییس د هغه صلاحیت په هکله سپارښتنې چې په ځنې مواردو کې قانون تصویب کړای شي، باید په پام کې ونیول شي.*

لکه څرنګه چې په لومړي پړاو ټاکنو کې هیڅ یو له کاندیدانو څخه و نه شول کولای چې د ګټلو لازمې رایې وګټي نو د ټاکنو کمسیون دوهم پړاو ټاکنې اعلان کړې. کمیسیون بیا اعلان وکړ چې د دوهم پړاو ټاکنې د مې میاشتې په ۲۸ نیټه د تخنیکي ستونزو له کبله نشي ترسره کیدای او د جون ۱۴ نیټه یې د دوهم پړاو د ټاکنو لپاره اعلان کړه. خو نه د مې میاشتې ۲۸ او نه هم د جون ۱۴ نیټه د جمهور رییس د میعاد د ختمیدو سره برابرې وې، چې دغه موضوع تر ډیره حده مطرح نشوه او جمهور رییس کرزي خپل کارته د مې تر ۲۲ نیټې پورې دوام ورکړ. د جمهور رییس فرمان د دې په هکله چې حکومتي او امنیتي چارواکي د دې اجازه نلري چې د ټاکنو په دوهم پړاو کې مداخله وکړي د جولای په ۲ نیټه صادر شو چې په تخنیکي لحاظ د جمهور رییس د میعاد د ختمیدو نه وروسته وو.[11] نه اساسي قانون او نه هم د ټاکنو قانون د دوه اونیو حقوقي معیاد څخه بهر او د جمهور رییس د معیاد د پوره کیدو څخه وروسته چه بنسټیز بحران یې منځ ته کاوه د دوهم پړاو ټاکنو ته اشاره کوله.

سربیره پر دې چې د مختلفو ادارو لپاره د ټاکنو مهال ویش د ټاکنو د حقوقي چوکاټ سره مطابقت نلري، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د شکایاتو کمیسیون کافي وخت نه درلود تر څو د ولایتي شورا ګانو د ټاکنو پایلې د دوهم پړاو د ټاکنو څخه مخکې اعلان کړي، چې دغه کار د ټاکنیزو همکارانو تر منځ اندیښنې را منځ ته کړې.

*د مختلفو ټاکنو مهالویش باید د جمهور رییس د قانوني معیاد د پوره کیدو سره سم عیارشي تر څو ټاکنې په پوره ډاډ تر سره شي او که دوهم پړاو ټاکنو ته خبره لاړه شي نو د چمتو والي لپاره باید کافي وخت موجود وي.*

لکه څرنګه چې د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمایوي ټیم یو شمیر همکارانو په ډاګه کړه چې په اساسي قانون کې د تفسیر کولو صلاحیت ندی واضح. د اساسي قانون ۱۵۷ ماده د تفسیر صلاحیت د جمهور رییس، ملي شورا، سترې محکمې، او اجراییه قوا په غوښتنه د اساسي قانون د تطبیق څخه د څار خپلواک کمیسیون ته یې ورکړی. د دغه کمیسیون غړي د جمهور رییس لخوا تعینیږي او د پارلمان لخوا باید منظور شي.[12] په همدې حال د اساسي قانون ۱۲۱ ماده د تفسیر صلاحیت سترې محکمې ته ورکوي چې د حکومت او محاکمو په تقاضا به دا کار کوي.
*دا مسله چې د ټاکنیزو مسایلو په اړه کوم ارګان د اساسي قانون د تفسیر مسولیت لري باید په حقوقي ډول واضح او ډاډمنه شي. د ټاکنیزو مسایلو په اړه د اساسي قانون د تطبیق څخه د څار د خپلواک کمیسیون او د سترې محکمې رول باید واضح کړای شي، دا چې په کومو شرایطو کې دوی کولای شي مداخله وکړي، دا خبره باید په قانون کې واضح ذکر شي.*

د تیرو ټاکنو څخه سمدستي وروسته د ټاکنو د نوي قانون تسوید په ۲۰۱۱ کال کې پیل شو چې په اړه یې د اړوندو همکارانو تر منځ مشورتي غونډې وشوې. وروسته د ملي شورا دواړو مجلسونو یو کمیسیون جوړ کړ تر څو ځنې اختلافات حل او د تسوید پروسه نهایي کړي. د تسوید پروسه ډیره جامع پروسه وه اود دخیلو همکارانو تر منځ سلا مشورې وشوې چې پکې د مدني ټولنې استازي هم شامل و. د ټاکنو قانون او د تشکیل قانون له اوږدو بحثونو څخه وروسته د ۲۰۱۳ کال د جولای په منځ کې د ملي شورا د دواړو مجلسونو لخوا تصویب شول چې بیا وروسته د ۲۰۱۳

---

9 دا حقیقت باید درک کړای شي چې د اساسي قانون تعدیلول ګران کار دی ځکه دې کار ته باید لویه جرګه چې د اساسي قانون د ۱۱۱ مادې مطابق راوغوښتل شي. لویه جرګه دا صلاحیت لري تر څو د ملي مسایلو لکه استقلال، ملي بشپړتیا، ارضي تمامیت او د ملت ملي ګټو د پاره د اساسي قانون احکام تغیرولای شي.

10 د ICCPR د ۲۵ مادې په هکله د ملګروملتونو د بشري حقوقو د کمیټې نمبر۲۵ عامه تبصره کې (۱۹۹۶) داسي راغلي : ټاکنو ته د دریدو په وړاندې هر محدویت باید د موجه دلایلو پر بنا توجه کړای شي. هغه اشخاص چې غواړي ټاکنو ته ودریږي باید د تبعیض او غیر موجه دلایلو لکه تعلیم، استوګنه، او یا هم د سیاسي تړاو پر بنا باید رد نشي: دغه راز هبیدی دریم پرګراف چې وایي : د تبعه و تر منځ د حقوقو په تر لاسه کولو کې هیڅ تو پیر ندی جایز : د OSCE د ۱۹۹۰ کال د کوپن هاګن د سند په ۷,۵ پرګراف کې داسي تبصره شامله ده: د هغو تبعه حقوقو ته چې سیاسي او عامه اداره غواړي، د سیاسي ګوندونو د استازو په حیث د تبعیض څخه پرته درناوی وکړئ.

11 د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د ټاکنو مهالویش په دې لینک کې تر لاسه کولای شئ:

http://www.د ټاکنو خپلواک کمیسیون.org.af/component/content/article/17-english-uk/parties-candidates/148-timeline..

12 اکثرو هغه کسانو چې د **OSCE** د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمایوي ټیم غړو سره چې خبری کړی د اساسي قانون د تطبیق څخه د څار خپلواک کمیسیون خپلواکي په اړه پو ښتنې پوښتنی درلودی.

کال د جولای په ۱۷ د جمهور رييس حامد کرزي له خوا لاسليک شول .

د دواړو قوانينو تصويب د ټاکنو د حقوقي چوکاټ په غبنتلی کيدو کې يو لوی ګام و، څرنګه چې مخکينۍ ټاکنې د جمهور رييس د فرمان په بنسټ تر سره شوې. نوي قانون د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري سپارښتنې په پام کې ونيولې چې پکې د ټاکنو خپلواک کميسيون د کميشنرانو د تعيناتو ميکانيزم او دا مسله شامله وه چې په رسمي توګه د مستعفی کانديدانو لپاره اچول شوې رايې چه نومونه يې د رايو په پاڼو کې موجود دي بايد باطلې وشميرل شي. له هر څه نه مهمه دا چې نوي قانون د شکايتونو کميسيون د ټاکنيزو شخړو يوازنۍ مرجع وګڼله. د ټاکنيز حقوقي چوکاټ اوس يو جامع چوکاټ دی چې کولای شي هر راز ديموکراتيکې ټاکنې تر سره کړي، خو د ټولو ټاکنيزو همکارانو نظر دادی چيد ټاکنيز حقوقي چوکاټ تطبيق چې په تيرو ټاکنو کې ستونزمن و، اوس نورې پياوړتيا ته هم اړتيا لري.

*سپارښتنه کيږي چې ملي شورا د ټاکنيزو ادارو او نورو همکارانو په مشوره سره، چې پکې دداخلی څارونکې ډلې شاملې دي بايد د نوي جوړ شوي ټاکنيز حقوقي چوکاټ د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د تجربو په پام کې نيولو سره د دغه چوکاټد عملي تطبيق ارزونه ترسره کړي تر څو راتلونکې ټاکنې لا هم په ښه ډول ترسره شي.*

د دغه قوانينو نور احکام د رايه اچونکو، او څارونکو ډلو دشکاياتو دثبتولو باندی يو لر محدوديتونه را نغاړی چې د رايي اچونې، رای شميرنې او جدول بندی، په اړه دي چې د ټاکنيزې پروسې شفافيت د نړيوالو قبول شويو تجربو په رڼا کې محدودوي.[13] علاوتاً، د کوچيانو په رايه اچولو باندې هم محدوديتونه وضع شوي و چې هغوی يوازې په ۷ ولايتونو کې کولای شواې رايې واچوي چې دغه کار ځنې کوچيان د نړيوالو معيارونو پر خلاف د رای اچونې د حقوقو څخه محروموي.[14] پر تيرو سپارښتنو سر بيره، داسې يو حکم چې دوهم پړاو ټاکنې تنظيم کړي، په هغه صورت کې چې يو له کانديدانو څخه ميدان پريږدي تر اوسه ندی موجود.

*ټاکنيز حقوقي چوکاټ بايد لا پياوړی شي او موجودې خلا ګانې يې ډکې او د نړيوالو معيارو سره بايد معياري شي. په راتلونکو ټاکنو کې حقوقي ريفورمونه بايد د ټولو ټاکنيزو همکارانو، سياسي ګوندونو او مدنې ټولنو سره د مشورو له لارې دير مخکې د راتلونکو ټاکنونه، راوسنل شي.*

پردې سربيره د ټاکنو نوي قانون په ولايتي شورا ګانو کې د ښځو لپاره سيټونه د ۲۵ سلونه ۲۰ فيصدوته کم کړل چې په سياسي ژوند کې د ښځو په ګډون يې منفي اثر وکړ.

*سپارښتنه کيږي چې په ولايتي شورا ګانو کې د ښځو لپاره د سيټونو په هکله بايد تجديد نظر وشي او په سياسي ژوندانه کې د ښځو ګډون لا زيات شي.*

د ټاکنيزحقوقي چوکاټ او د ټاکنو په پروسه کې د منازعاتو د حل په مقرره کې تناقضات ليدل کيږي. د ټاکنو خپلواک کميسيون او د شکاياتو کميسيون مقررې او طرزالعملونه د رايه اچونکو لخوا د لومړنيو نتايجو په اړه د شکايتونو په درج کولو حکم کوي، چې دغه حکم د انتخاباتو په قانون کې ندئ موجود.[15]

*د رايه اچونکو لخوا د رايې اچونې په مرکز کې د شکايت درج کول او د لومړنيو نتايجو په اړه د شکايتونو د درج کولو ميعاد بايد په قانون کې په واضح ډول ذکر شي. د ناهواريو د مخنيوي لپاره بايد قانون تعديل شي تر څو هغه اصول په قانون کې درج شي چې په اړوندو مقرروکې موجود دي.*

په داسې حال کې چې د ټاکنو قانون د۷۹ مادی دوهم فقره په واضح ډول حکم کوي چې د ټاکنو خپلواک کميسيون او د شکاياتو کميسيون بايد خپلې مقررې او طرز العملونه ۹۰ ورځې مخکې د ټاکنو د پيل څخه خپرې کړي. دواړو کميسيونو د نوموړي ميعاد د ختميدو څخه ورسته څو کليدي مقررې خپرې کړې. د قانون پر خلاف، د شکاياتو کميسيون د رايو د صحت د ارزونې مقرره او د ټاکنو کميسيون د تفتيش په نتيجه کې د رايو د باطلولو مقرره د ۲۰۱۴ کال د اپريل په ۱۷ نيټه د تفتيش د پروسې په منځ کې تصويب کړې. دغه ځنډ کانديدانو ته دا مهال ورنکړل چې د تفتيش د پروسې اوطرزالعمل سره په ښه ډول آشنا شي، چې دغه کار د ټاکنې په پروسه کې شفافيت او حساب ورکول کمزوري کړل. د تفتيش د اصولو په خپرولو کې ځنډ د ډيرو هغو کسانو له خوا چې د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو د حمايوي ټيم ورسره مرکې او خبرې اترې کړې، تر نيوکو لاندې راغې.

13 ۳,۳ پراګراف (۹۹)، ۳۱ مخ، د اروپا وينيس د ټاکنيزو مسايلو شورا د ښو تجربو طرزالعمل

14 د ICCPR (ب)۲۵پراګراف وګورئ. دغه راز د ۱۹۹۰OSCE د کوپينهاګن د اسنادو ۷,۳ پراګراف وګورئ.

15 د ټاکنو د کميسيون د شميرنې او او رايه اچونې طزرالعمل او رلاربښود وګورئ.

.

د دوهم پړاو ټاکنو د ورځې څخه ورسته، د ټاکنو کمیسیون د ټاکنو د قانون ۵۸ مادې پر اساس د تفتیش یو کلکه پروسه پیل کړه خو د ټاکنو د کمیسیون د پریکړې تفصیل چې د رایو د صندقونو د تفتیش د تنظیمولو، د رایو بیا شمیرنه او باطلول پکې شامل و د دغې پروسې د پیل څخه مخکې نه و خپور شوی.

په آخري شیبو کې د حقوقي احکامو تصویب، د ټاکنو د پروسې مشروعیت او اعتبار کمزوری کړ او د ټاکنو د پروسې د اصولو په هکله د ټاکنیزو همکارانو پر وخت پوهیدلو څخه یې مخنیوی وکړ. نړیوال معیارونه او تجربې ښیي چې د ټاکنو د پروسې د اعتبار لپاره د قانون ثبات یو اړین کار دی.[16]

*د نړیوالو معیارونو او تجربو مطابق، د ټاکنو دپاره قانون جوړونې باید د ټاکنو د پیل څخه مخکې تصویب شي تر څو ټاکنیزو همکارانو او رایه اچونکي کافي وخت ولري چې په هغه اصولو او قواعدو ځان پوه کړي چې په ټاکنو کې پلي کیږي.*

**ب. د کاندیدانو ثبت**

د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو لپاره د کاندیداتورۍ لپاره شروط په اساسي قانون ذکر شوي او د ټاکنو د قانون په ۱۳ او ۱۵ ماده کې پرې ټاکید شوی. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د کاندیدانو د ثبت مقرره تصویب کړه تر څو نومړي احکام بشپړ کړي. دغه مقرره حکم کوي چې یو کاندید باید لږ تر لږه د ۱۰۰۰۰۰ ملاتړ کونکو لاس لیکونه او یا د ګوتې چاپ ولري چې باید لږ تر لږه د۲۰ ولایتونو څخه وي او د هر ولایت څخه باید ۲ فیصده ملاتړ کونکي ولري او یو میلیون افغانۍ د تضمین په توګه هم د ټاکنو کمیسیون ته وسپاري.[17] دغه د پیسي کاندید ته د ټاکنو د ګټلو او یا حد اقل ۱۰ ٪ با اعتماده رایې ګټلو څخه وروسته بیرته ورکول کیږي. د جمهوري ریاست معاونیت ته کاندیدان اړتیا نلري چې یاد ملاتړو کسانو لاسلیکونه او یا هم پیسې دیپوزټ کړي.

*د لاسلیکونو او د پیسو د تضمین شروط د جمهوري ریاست د کاندیدانو لپاره کیدای شي د دوی د کاندیداتورۍ مخه ونیسي. د ثبت شرطونه یا خو باید لاسلیکونه او یا هم د پیسو دیپوزیټ وي. که څه هم د پیسو د ډیپوزیټ مقدار باید د اضافي کاندیدانو د مخنیوي لپاره کافي وي خو دغه مبلغ باید په احتیاط سره وسنجول شي تر څو زیاتوالی یې د مستحقو کسانو د کاندید کیدلو حق مخه و نه نیسي.*

د نورو سرایطو سره سره د ولایتي شوراګانو کاندیدانو لپاره یو بل شرط دا و چې د ۱۲ ټولګي د فراغت سند باید ولري چې دغه شرط د نړیوالو معیارونو سره په ټکر کې دی.[18] یو شمیر زیات کاندیدان له همدې کبله له کاندیداتورۍ څخه محروم شول. سربیره پر دې، د دولسم ټولګي د فراغت شرط کیدای شي د ډیرو ښځو د کاندید کیدلو مخه نیولې وي، ځکه په کلتوري لحاظ ډیرې کمې ښځې د نارینه و په پرتله زده کړو ته لاس رسی لري.[19]

*د ولایتي شوراګانو د کاندیدانو لپاره موجود شرطونه ډیر له محدودیتونو څخه ډک دي او باید بیا د سره پرې غور وشي.*

په اوله کې جمهوري ریاست ته ۲۷ تنو کاندیدانو او ولایتي شوراګانو ته ۳،۰۵۶ کاندیدانو (د ۳۲۳ښځو په شمول) خپل درخواستونه د ټاکنو کمیسیون ته تسلیم کړل. د ارزیابۍ د پروسې نه وروسته د ټاکنو کمیسیون جمهوري ریاست ته ۱۱ تنه کاندیدان او دهغوی اړوند مرستیالان منظور کړل. ولایتي شوراګانو ته ۲۷۱۳ تنه کاندیدان (د ۳۰۸ ښځو په شمول) و منل چې د دواړو کټګوریو لستونه خپاره شول.[20] په هغه وختونو کې د ټاکنو کمیسیون په دې بریالی نشو چې د رد شویو کاندیدانو د علت په هکله پوره معلومات ورکړي، چې اکثره دغو کاندیدانو د خپل حالت په هکله له رسنیو څخه خبر شول.

*د کاندیدانو د ثبت په اړه حقوقي احکام او طرزالعملونه باید اصلاح کړی شي او د دوی د کاندیداتورۍ د وړتیا لپاره د ارزونې د نتایجو په هکله دوی ته پوره معلومات ورکړای شي او دا ورته په داګه شي چې د دوی په اسنادو کې څه ستونزې موجودې وې تر څو دوی ته د بیا ثبت لپاره د دوهم ځل درخواست زمینه برابره شي.*

---

[16] د ICCPR د ۲۵ مادې په هکله د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو د کمیټې نمبر۲۵ عامه تبصره کې (۱۹۹۶) وګورئ. دغه راز د اروپا وینیس د ټاکنیزو مسایلو شورا د ښو تجربو طرزالعمل ۳ پراګراف وګورئ چې پدې لینک کې موجود دی http://www.venice.coe.int/webforms/documents/?pdf=CDL-AD(2002)023-e

[17] د کاندیدانو د ثبت په اړه د ټاکنو د کمیسیون ۲۰۱۳ کال د جولای د مقررې د ۱ ماده الف جزؤ وګورئ. یومیلیون افغانۍ د ۱۳۲۰۰ ایروسره انډول دي.

[18] ۲۵ نمبر عامه تبصره د کال (۱۹۹۶) کې ۱۵ پرګراف وګورئ.

[19] په کلیوالۍ سیمو کې تخمیناً ۹۰ فیصده ښځې او ۶۳ فیصده نارینه بې سواده دي. د ۲۰۱۲ – ۲۰۱۵ کال د معارف وزارت د سواد کاري پلان وګورئ: http://www.unesco.org/new/fileadmin/MULTIMEDIA/HQ/ED/pdf/Afghanistan.pdf.

[20] لومړی د جمهوري ریاست د کاندیدانو لست ۱۰ نفره درخواست ورکونکي و. ښاغلی داود سلطان زوی وروسته له هغه قبول شو چې د جمهوري ریاست د کاندیداتورۍ لپاره یې درخواست منظور شو.

له لومړي پړاو ټاکنو څخه مخکې دریو کاندیدانو په رسمي ډول د جمهوري ریاست د ټاکنو د پرېښودلو اعلان وکړ چې پدې ترتیب ۸ تنو ته په ټاکنو کې د سیالي لاره هواره شوه.[21] پداسې حال کې چې په دغه ټاکنو کې هیڅ ښځې د جمهوري ریاست لپاره د ټاکنو په کاندیدانو کې نوې موجودې خو دریو تنو ښځو د مرستیالی لپاره ځانونه ثبت کړي و. د ټاکنو قانون دغه حکم په نظر کې نیولی چې هغو کاندیدانو چې د ټاکنو څخه وتلي د دوی رایې باید باطلې و شمیرل شي. ولایتي شوراګانو ته ۲۵۹۰ تنه کاندید و چې ۲۹۷ یې ښځې وې .[22] د کاندیدانو لست د ټاکنو د کمیسیون په ویبسایټ کې نشر شو خو د وخت سره سم نه تجدید کیدو، او د هغو کاندیدانو په هکله چې له ټاکنو څخه وتلي و هیڅ معلومات نه وموجود. د حقوقي او اداري کمښتونو سره سره، د ثبت پروسه جامع او مشتمله وه او رایه اچونکو د خپلې خو ښې کاندید ته رایې واچولې.

## 5. د ټاکنو اداره

د ټاکنو اداره له دریو واحدونو څخه تشکیل شوې وه، چې یکې د ټاکنو خپلواک کمیسیون، ۳۴ ولایتي دفترونه، د رایې اچونې مدیران، د رایې اچونې کمیټې او مرکزونه شامل و. برسیره پر دې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ولسوالیو ساحوی کواردیناتوران پدغه پروسه کې شامل کړل چې د ولایتي دفترونو لخوا استخدام شول.

د ۲۰۱۳ کال د تشکیلاتو قانون د ټاکنې یوه کمیټه معرفي کړه چې د ملي شورا، سترې محکمې، د بشر د حقوقو د کمیسیون او د مدني ټولنې له غړو څخه تشکیل شوې وه، تر څو د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د شکایتونو د کمیسیون د کمشنری پوستونو لپاره د نواماندانو څخه د یوه شفاف او جامع میکانیزم له طریقه او د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو د ادارې د سپارښتنو سره سم نوماندان وټاکي.[23] د تشکیلاتو د قانون مطابق، د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لپاره د ۲ ښځو په شمول ۹ کمیشنران د ښاغلي کرزي له خوا د ۶ کلونو لپاره د ۲۰۱۳ کال د جولای په ۲۹ نیټه د ۲۷ کسه نوماندانو له جملې څخه وټاکل شول. [24] دا چې د کمیشنرانو د ټاکلو اختیار د جمهور رییس سره دی، ځنې ټاکنیزو همکارانو د ټاکل شویو کمیشنرانو د استقلالیت په اړه شک څرګند کړ.

*د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د استقلالیت او شمولیت په هکله د خلکو د اعتماد جلبولو د میکانیزم په اړه باید زیاته پاملرنه وشي.*

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون رییس، مرستیال، او سکرتر د دغه کمیسیون د غړو خپل منځې انتخاباتو څخه تعین شول. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د یوه سکرتریت له خوا حمایه کیږي چې د کمیسیون تر رهبری لاندې د ورځنیو چارو د اجرا کولو مسولیت لري. سکرتریت د اجراییه رییس لخوا رهبري کیږي چې د جمهور رییس له خوا د ۴ کلونو لپاره د کمیسیون په سپارښتنه د مسلکي اشخاصو له جملې څخه تعینیږي.

په اجراییه تشکیل کې د ټاکنو ولایتي دفترونه شامل دي چې د هغوی له طریقه سکرتریت په ټولو ولایتونو کې حضور لري. د سکرتریت په مدیریت کې د ا جرایه او اداري چارو دوه مرستیالان شامل دي چې د دیپارتمنتنو د ورځنیو چارو د مدیریت او انسجام مسولیت په غاړه لري.

د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو څخه په وروسته دوران کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د نړیوالې ټولنې له خوا د تمویل شوي ظرفیت جوړونې له پروګرامونو څخه په پراخه پیمانه ګټه پورته کړه.[25] دغې پروژې هم مالي او هم د تخنیکي مشورو مرستې کمیسیون ته ورکولې چې دغه کار د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره د ۲۰۱۱-۲۰۱۶ کال د ستراتیژیک پلان د پلې کولو په چمتو والي کې مرسته وکړه. د خپلواک کمیسیون ستراتیژیک پلان د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري پخوانۍ سپارښتنې په پام کې ونیولې. په ۲۰۱۳ کال کې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون سره د نړیوالې ټو لنې مرستې نورې هم وغزول شوې تر څو د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو مصارف چمتو شي او د افغان حکومت د ټاکنو د مالي مصارفو سره یو څه مرسته هم وشي. د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون یو جامع اجرایوي پلان او د درغلیو د مخنیوي یوه ستراتیژي هم جوړه کړه.[26] د نړیوالې ټولنې دوام لرونکې مرسته، د دغه اسنادو په وخت

---

21 ښاغلیقیوم کرزی، عبدالرحیم وردک، سردار محمد نادر نعیم، د جمهوري ریاست سیالی د مارچ په ۶، ۱۶،۲۶ نیټه پرېښوده او کمیسیون ته یی له ټاکنو یوه ورځ مخکې استعفا وړاندې کړه. برسیره پر دې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ۱۱۴ تنه د ولایتي شورا کاندیدان له لست څخه د تعلیم د نه درلودلو او سن له کبله و ایستل.

22 د ټاکنو د قانون ۴۷ ماده دوهم پرګراف وایي چې د ایستل شویو کاندیدانو رایې به د شمیر په وخت کې نه شمیرل کیږي او د ټاکنو خپلواک کمیسیون هم دا واضح کړه چې داسې رایی باطلې شمیرل کیږي.

23 د تشکیل د قانون۸ او ۲۲ مادې وګورئ. پخوا به جمهور رییس په یوه ځان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون کمیشنران ټاکل.

24 د تعیناتو کمیټه د قانون سره سم کمیشنرانو په ټاکلوکې د ټاکنیزو مسلو اړوند د مدنې ټولنې د سازمانونو د نه شمولیت له کبله تر نیوکو لاندې راغلل. بیا وروسته د مدنې ټولنې سامانونه پدې سلا نشولچې په دغه کمیټه کې به څوک ددوی استازیتوب کوي.

25 نړیوالې ټولنې د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته خپلې تخنیکي مرستې د UNDP ELECT II پروګرام له لارې وړاندې کړې. برسره پر دې د شکایاتو له کمیسیون سره دIFES له طریقه (UNOPS) مرسته کوله.

26 دواړه اسناد او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ۲۰۱۱ – ۲۰۱۶ ستراتیژیک کاري پلان د دغه کمیسیون په ویب پاڼه کې موجود دي.

تياړولو او د ټاکنو د خپلواک کميسيون له تيرو تجربو څخه زده کړې د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو لپاره د ټاکنو اداري په چمتووالي کې زياته مرسته وکړه.

*نړيواله ټو لنه بايد خپلو مرستو ته دوام ورکړي ترڅو د ستراتيژيک پلان سره سم او د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د تجربو د تطبيق او په پام کې نيولو سره د ټاکنو د خپلواک کميسيون ظرفيت لوړ شي.*

په ټول هيواد کې د ټاکنو لپاره د ټاکنو د خپلواک کميسيون کابو ۹۹۹۳۴ تنه په کار وګمارل. دغه کميسيون کوښښ وکړ ترڅو هغه کسان استخدام کړي چې په تيرو انتخاباتو کې يې د کار تجربه لرله. د غه راز د ټاکنو د خپلواک کميسيون ۱۱۰۰۰ هغه موقت ټاکنيز کارمندان له دندو ګوښه کړل چې په تيرو ټاکنو کې غير قانوني فعاليتونه ترسره کړي و.

د کورنيو چارو وزارت د رايي اچونې د مرکزونو لپاره د ښځينه کارکونکو د استخدام او روزنې لپاره زياته پاملرنه وکړه چې په کې ښځينه د تلاشۍ کارکونکې هم شاملې وې. په کليوالي سيمو کې د ښځينه کارکونکو د کمښت له کبله د ټاکنو ولايتي دفترونه مجبور شول تر څو د ډير عمرلرونکې نارينه په هغو مرکزونو کې کار وکړي.

*د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د کورنيو چارو وزارت بايد مخکې له مخکې د ټاکنو لپاره ښځينه کارمندانو او تلاشي کونکو د استخدام پلان جوړ کړي. خاصه پاملرنه بايد مختلفو سطحو کې د ښځينه کارمندانو روزنې او پالنې ته وشي.*

د ټاکنو خپلواک کميسيون په ځنې ټاکنيزو کړنو کې شفافيت نه درلود خو شکايتونو ته يې قانع کونکې ځوابونه وويل او بيا وروسته په خاصه توګه د جمهوری رياست د ټاکنو په دوهم پړاو کې اصلاحات پکې راغلل. د رايو د شميرلو او نتايجو په استثنا د ټاکنو د خپلواک کميسيون اکثره فيصلې د تړلو دروازو شاته کيدې خو معلومات په عام ډول عامو خلکو، د کانديدانو استازو او ناظرينو ته د مطبوعاتي کنفرانسونو، غونډو او د خبر پاڼو له لارې وړاندې کيدل. د ټاکنو خپلواک کميسيون ويب پاڼه په منظم ډول تجديد کيده او د کميسيون فيصلې او خبرونه پکې خپريدل خو اکثرا په خپل وخت او بشپړ نه و.

*د دې لپاره چې اعتبار او شفافيت لا ښه شي د ټاکنو خپلواک کميسيون بايد خپلې فيصلې او پريکړې د څارونکو او کانديدانو د استازو په وړاندې په ښکاره سره تر سره کړي . د ټاکنو په اړه معلومات بايد د ټاکنو خپلواک کميسيون د ويب پاڼې څخه په منظم ډول عامه محضر ته په خپل وخت سره خپاره شي.*

**الف. لوژستيک، روزنه او دعامه خبرتيا فعاليتونه**

د ټاکنو خپلواک کميسيون ۱۵۱۲۱۰۰۰ د رايي پاڼې د هرځل ټاکنو لپاره چاپ کړې چې د هر ځل ټاکنو لپاره يې رنګ مختلف و. دغه کميسيون د رايي اچونې مرکزونو لپاره تجهيزات، د نه پاکيدونکې رنګ بوتلونه، چراغونه، د رايي پردې، د رايي اچونې صندوقونه اود ټاکنيزو توکو د انتقال لپاره آبي رنګه صندوقونه چمتو کړل. د ټاکنيزو توکو انتقال د هرو ټاکنو لپاره ۳۰ ورځې ونيوې چې د افغان امنيتي ځواکونو او آيساف په مرسته تکميل شول.

په ملي سطحه د عامه پوهاوي يو کمپاين د بروشرونو، بلبورډونو، پوسټرونو، جيبي کليزو او اشتهارونو له لارې ترسره شو. د ټاکنو خپلواک کميسيون ګرځنده تياتر په ۳۴ ولايتونو ننداری وړاندی کړ او د ټاکنو کميسيون د ۲۴ تلويزيونو او ۵۱ راډيوګانو له لارې د عامه خدمتونو اعلانونه خپاره کړل. د ۱۴۵۰ مدني اورايي اچونې روزونکو لخوا د عامه پوهاوي مواد لکه نمونوي د رايو پاڼې، فليپ چارټونه، او لارښودونه په ټول هيواد کې توزيع کړل. د ټاکنو خپلواک کميسيون دغه راز د رايو اچونکو د معلوماتو ټليفوني مرکزونه د لومړيو ټاکنو د نهايي نتايجو تر اعلان پورې فعال ساتلي و. د ولسواليو په کچه د انتخاباتو کوارديناتوران DFCs د رايي اچونې د مرکزونومديرانو، مسولينو، د رنګ مسولينو، د هويت کارت کتونکو مسولينو، د رايي اچونې د صارولو مسولينو او د رايي د صندوقونو او نظم کنترولونکو لپاره د تاکنو څخه مخکې روزنيز پروګرامونه وړاندې کړل.
د دوهم پړاو لپاره په عملي ډول تياری هغه وخت پيل شو چې د دوهم پړاو لپاره د ټاکنو نېټې نښانې ښکاره شوې. د رايي پاڼو چاپول د دوهم پړاو د ټاکنو د نتا يجو د رسمي اعلان څخه مخکې پيل شول. د ټاکنو خپلواک کميسيون د کانديدانو د انتخاباتی شميری په هکله پخپل سر او بی له دی نه چی قرعی په پام کی ونيسی فيصله وکړه او د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم ته يي وويل چې دا کار يې د کانديدانو په موافقې سره کړی. د ټاکنو خپلواک کميسيون وويل لکه څرنګه چې د رايي د پاڼو توزيع له ۳۰ ورځو څخه زيات وخت نيولو نو دا ممکنه نه وه چې حقوقي ميعاد دې پوره کړای شي.

## 6. د رايو اچونکو ثبت

د رايه اچونکو ثبت يو فعاله لړۍ ده او رايه اچونکي بايد د رايې ورکولو په مرکز کې حاضر وي او بايد د هويت اسناد ښکاره کړي تر څو د رايې کارت تر لاسه کړي. په افغانستان کې د رايه اچونکو ثبت د بن د موافقې څخه وروسته د ۲۰۰۴ کال په ټاکنو کې عملي شو خو په دغه اړه لا تر اوسه د يو مرکزي راجستريشن سيستم ندۍ را منځ ته شوی. د ټاکنو په ورځ د تيرو ټاکنو د رايه اچونکو د هويت کارت د يوه معتبر سند په حيث ګڼل کيده. د ټاکنو خپلواک کميسيون د ۲۰۱۴ کال د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو لپاره د رايه اچونې د نويو کارتونو توزيع تر سره کړه. لاندې معلومات وګوری تر څو د نويو او پخوانيو رايه اچونکو په هکله معلومات حاصل کړۍ. د ۲۰۰۴ کال د ټاکنو لپاره ۱۰۹۴۹۸۹ تنه رايه اچونکې راجستر شول تر څو په ملي سطحه رايه اچونه کې چې د ټاکنو د مديريت د ادارې له خوا تنظيم شوې وه برخه واخلي چې ورپسې د ۲۰۰۵. کال د رايه اچونې د راجستر تجديد پيل شو. د ۲۰۰۶ کال د لندن په کنفرانس کې د افغانستان دولت او نړيوالې ټولنې په ملي کچه د مدني راجستريشن او رايه اچونې باندې موافقه وکړه خو وروسته دولت د نفوسو د مدني راجستريشن او د رايه اچونکو د ثبت سيستم سره بيل پاتی شی.[27]

د ۲۰۰۹ کال ټاکنو لپاره، د ټاکنو خپلواک کميسيون د رايه اچونې چارې پيل کړې تر څو موجود ډيټابيس تجديد کړي چې په پايله کې يې ۴۷۲۰۹۰۶ د رايه اچونې نوي کارتونه توزيع کړل. د رايه اچونې په کارتونو کې عکسونه او د ګوتې چاپ د بايو ميتريک پروسې لپاره زيات کړی شول خو د ښځو په کارتونو کې عکس چاپول په هيڅ ټاکنو کې لازمي خبره نه وه.

د ۲۰۱۰ کال د ټآکنو لپاره د نوي راجستريشن څخه وروسته د ټاکنو خپلواک کميسيون د ۲۰۰۳ کال را پديخوا د ټولو رايه اچونکو د ثبت کارتونه په مجموعي ډول له ۱۷ ميليونو څخه زيات تخمين کړل چې د ۱۰،۵ ميليونه رايه اچونکو لپاره اټکل شوي و.[28]

د رايو اچونکو د کارتونو د شمير او د تخمين شويو رايو اچونکو اشخاصو تر منځ فرق د څو ځلي رايې اچونې امکانات رامنځ ته کوي او د رايو د مساواتو اصول چې په اساسي قانون اونړيوالو معيارونو کې هم ذکر شوي د ننګونو سره مخ کړي دي.[29] د رايو اچونې د مرکزونو لپاره د رايو اچونکو د دقيق لست په برابرولو کې نه برياليتوب يو لوی خنډ دۍ چې کاري پلان جوړونه، د اړتيا وړ د رايو د پاڼو تخصيص چې د يوه خاص موقعيت لپاره پکار دي ستونزمن کوی. په دوران کې د رايو اچونکو بې شميره کارتونه او خورا زيات د رايو د پاڼو تخصيص د غير قانوني کار امکانات زياتوي او د درغليو تشخيص ګرانوي.

د دغه ستونزو په پام کې نيولو سره او د ۲۰۱۲ کال رايو اچونکو د ثبت تحقيق نه وروسته د ټاکنو خپلواک کميسيون د ستراتيژيک پلان مطابق په ملي سطحه د رايو اچونکو د ثبت نوې پروسې ته ملا وتړله، خو د نړيوالې ټولنې د نظرياتو له اخيستو وروسته او د افغانستان د دولت د پريکړې وروسته، د ټاکنو خپلواک کميسيون د رايو اچونکو د ثبت لپاره په يوازې ځان چمتووالی پريښود. په ۲۰۱۳ کال کې د ټاکنو خپلواک کميسيون د دولت د اړوندو ارګانونو سره د الکترونيکي تذکرې د پروژې په هکله يو تفاهم ليک لاسليک کړ.[30] د دغه پروژې اوږد مهال هدف دا دی تر څو د رايو اچونکو ثبت د مدني ثبت د ديتابيس څخه د الکترونيکي تذکرو د پروژې پواسطه چمتو کړای شي او د ټاکنو کميسيون به د اړوندو وزارتونو سره خپلې خبرې جاري ساتي ترڅو د دغه هدف د لاس ته راوړلو لپآره ضروري اقدامات تر سره شي.[31] تر اوسه پورې د الکترونيکي تذکرو د پروژې نتيجه ثمر ته نده رسيدلې او خلکو ته الکترونيکي تذکرې ندي توزيع شوې چې علت يې د حقوقي چوکاټ په هکله عدم توافق دی چې پکې نوې احصاييه هم يوه لويه ستونزه ده. د ۲۰۱۴ کال ټاکنو لپاره د رايو اچونکو کارت د يو واحد قبول شوې هويت پيژندنې يو با اعتباره سند دی.

*دولت کولای شوی چې خپله پريکړه د رايو اچونکو د يوازې پر ځان د ثبت په هکله بيرته واخلي تر څو د ټاکنو خپلواک کميسيون و کولای شي چې د راتلونکې لپاره د رايو اچونکو د ثبت لپاره په مستقلانه ډول اختيارات ولري; يا خو د رايو اچونکو ثبت د مدنـي ثبت سره ونښلوي او يا هم د يوازې پر ځان د ثبت سيستم را منځ ته کړي.*

27 د ټاکنو د خپلواک کميسيون د رايه اچونکو د ثبت مقرره چې د ۲۰۱۳ کال په جنوري کې تصويب شوه وګورۍ.

28 د ټاکنو د خپلواک کميسيون پرزينټيشن 'د رايو اچونکو ثبت؛ د افغانستان د قضيې مطالعه، چې د ۲۰۱۳ کال د مارچ په ۷ نيټه د UNDP Thematic ورکشاپ په ترځ کې په موزمبيق کې د اوروپايی کميسيون کې وړاندې شوه. کاپي يې د ټاکنو د خپلواک کميسيون څخه ترلاسه شوه.

29 د OSCE د ۱۹۹۰ کال د کوپن هاګن د سند ۷,۳ پرګراف او د ICCPR د ۲۵ ب ماده وګورۍ چې وايي، ګډونکونکي دولتونه به د تبعه و او ځوانانو د ټاکنو د ګډون نړيوال حقوق تامينوي.

30 د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر په ۱۷ د وزيرانو شورا پريکړه وکړه چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون د رايه اچونکو د ثبت پلان به رد کوي د ۲۰۱۳ کال د جنورۍ په ۲ د وزيرانو شورا اداري چارو دفتر داسې وويل چې د ټاکنو د خپلواک کميسيون د رايه اچونکو په دوران کې تقلبي کارتونه نشي باطلولی.

31 د ۲۰۱۳ کال د جون په مياشت کې د ټاکنو خپلواک کميسيون د مخابراتو وزارت، کورنيو چارو وزارت، او ماليې وزات سره يو ځای د کابل لپاره د الکترونيکي تذکرې په اړه د پروژې يو تفاهم ليک تسويد کړ. ملي شورا لا تر اوسه د تذکرو لپاره حقوقي چوکاټ ندې جوړ کړی او تفاهم ليک لا تر اوسه ندی نهايی شوی.

په لنډ مهاله توګه، د ټاکنو خپلواک کميسيون د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو لپاره د رايو اچونکو د کارت چارې تر سره کړې چې کابو د ۴ ميليونو تنو پوښښ يې هدف و. په دغه پوښښ کې په عمده ډول ښځې، کوچيان، او نوي د شرايطو وړ ځوانان شامل و چې دغه کار په دريو مرحلو کې ترسره شو. لومړی پړاو يې د مې په ۲۶ د ولاياتو په مرکزونو کې د ۴۱ مرکزونو په پرانيستلو شروع شوه.[32] دويم پړاو يې د جولای په ۲۶ د ۳۸۶ مرکزونو د ولسواليو کې پيل او د ۲۰۱۳ کال د ديسمبر په ۱۰ نيټه ختم شو. [33] دريم پړاو يې په دې هدف و تر څو هغه رايه اچونکي چې نومونه يې ثبت شوي ندي د هغوی نومونه د رايه اچونکو په لست کې ۷۲ ساعته د ټاکنو له ورځې مخکې ثبت شي. دغه مرحله د لومړی پړاو ټاکنو لپاره تر سره شوه، خو هغه رايه اچونکي چې عمر يې د دوو پړاونو تر منځ ۱۸ کلو ته رسيدلي و د دوهم ځل په ټاکنو کې يې ګډون نشوای کولای.

د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو لپاره د ثبت چارې د رايه اچونکو د علاقمندی نلرلو او ځنې تخنيکي او اداري ستونزو له امله ډيرې ځنډمنې وې خو بيا ورسته ګړندی شوې.

د ثبت په دوران کې يوازې څو د امينتي پيښو ريپوټونه ورکړل شول چې مرګ ژوبله يې نه درلوده. په پايله کې د ټاکنو خپلواک کميسيون خپل هدف ته ورسيد او کابو ۳,۸ ميليونه رايه اچونکي يې ثبت کړل چې له دې جملې څخه ۱,۳۲ ميليونه (۳۷,۷) فيصده يې ښځې وې. د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو لپاره کابو ۲۱ ميليونه د ثبت کارتونه د ۱۳ ميليونه رايه اچونکو په منځ کی په دوران کې و.

*لکه مخکې چې سپارښتنه وشوه ، که چيرې د رايه اچونکو د ثبت کارتونه ساتل کيږي نو دا بايد ضروري مکلفيت وګڼل شي چې ټول ا شخاص، نارينه او ښځې بايد د درغلی د مخنيوې په هدف د رايه اچوني د ثبت په کارتونو کې عکسونه ولري.*

## 7. کمپاين

### الف. د کمپاين چاپيريال

اساسي قانون د بيان آزادي، د شوراګانو او ټولنو جوړول تضمينوي. د ټاکنو قانون د کمپاين اساسي اصول ټاکي او داسې يې تعريفوي: د کانديدانو او يا د سياسي ګوندونو هغه فعاليتونه چې د رايه اچونکو د ملاتړ د ترلاسه کولو په هدف وي. د دې لپاره چې حقوقي او د اساسي قانون احکام بشپړ شي د ټاکنو خپلواک کميسيون د کمپاين او رسنيو مقررې تصويب کړې او د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو کانديدانو او رسنيو له پاره يې طرزالعملونه جوړکړل. ټول کانديدان د ټاکنو خپلواک کميسيون د مقررې پر اساس مکلف دی تر څو د ثبت نه مخکې طرزالعمل لاسليک کړي. د کمپاين موده د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره ۶۰ او ۳۰ ورځې دوام موند او د ټاکنو د ورځو څخه دوه ورځې مخکې پای ته ورسيده. د کمپاين موده د دوهم پړاو ټاکنو لپآره په قانون کې نده واضح شوې.

*سپارښتنه کيږي چې د ټاکنو حقوقي چوکاټ بايد بيا له سره وکتل شي تر څو د جمهوري رياست د دوهم پړاو د ټاکنو لپاره د کمپاين د مودې د طول تعريف پکې واضح شي.*

د جمهوري رياست د ټاکنو د کمپاين موده د فبروي په ۲ او د ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د مارچ په ۲ پيل او د اپريل په ۲ نيټه پای ته ورسيده . په مهمو ښارونو کې د کمپاين د پوسترونو په ښودنه برسيره ځنې کانديدانو ورقې چاپ کړې او د رايه اچونکو سره يې غونډې تر سره کړې. اکثره کانديدان په تلويزيونوکې د مناظرې کولو په حالت کې وليدل شول.

د ژمي د هوا د حالاتو له کبله د جمهوري رياست د لومړي پړاو کمپاينونه لومړی ډير ورو پيل شول خو بيا يې وروسته سرعت پيدا کړ. اکثره کانديدانو ښې غونډې تر سره کړې. د امنيتي ستونزمن حالت له کبله د کمپاين سرعت په ښاري او کليوالي سيمو کې مختلف و. پداسې حال کې چې په لويو ښارونوکې غونډې په لاره اچول کيدې خو په کليو کې خلک ويريدل او يوازې د کمپاين له پاره يې د سپين ږيرو او مخورو سره په مشوره کولو اکتفا کوله تر څو د هغوی تر نفوذ لاندې خلکو ملاتړ را جلب کړي. ځنې کانديدانو په پسرلي کې د ټاکنو د موسم په هکله انديښنه څرګندوله له دې کبله چې دوی خپلو رايه اچونکو ته نشوی رسيدای، په خاص ډول په لرې پرتو سيمو کې.

---

32 د ثبت مرکزونه د ښځو او نارينه و لپاره په جلا ځايونو کې و.

33 د ټاکنو خپلواک کميسيون لومړی ۳۹۹ د ثبت مرکزونه پلان کړي و خو ۱۳ مرکزونه پرانيستل نه شول چې له هغو څخه ۹ په غزني، نورستان، کاپيسا، لوګر، کنړ او پکتيکا ولايتونو کې د لوژيستيکي ستونزو له امله او ۴ په غزني، زابل او هلمند ولايتونو کې د امنيتي ستونزو له کبله تړلي و. لرې پرتو سيمو ته د ټاکنو خپلواک کميسيون د ثبت ګرځنده ټيمونه واستول.

په عمدي ډول د جمهوري ریاست د مرستیالۍ لپاره د مختلفو قومونو څخه د اشخاصو ټاکل او په مختلفو قومونو کې د کمپاین د کولو څخه هدف دا و چې تر څو کاندیدان د مختلفو قومونو ملاتړ تر لاسه کړي. په سیاسي ډگرکې د اختلاف پر ځای د قومونو سره د تړاو بیان په کمپاینونو کې عمده رول درلود. ډیرو کاندیدانو ژمنې وکړې چې بې روزگاري به ختموي، د فساد سره به مبارزه کوي، د سولې د خبرو اترو لپاره په کوښښ کوي او د امنیت دوه اړخیزه موافقت نامه به لاسلیک کوي.[34] یو کاندید د دې لپاره کمپاین کاوه چې د ریاستي سیستم پر ځای به پارلماني سیستم جوړوي چې په کې به د لومړي وزیر څوکی هم ایجادوي او واک به غیرمرکزي کوي.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پریکړې سره سم د جمهوري ریاست د دوهم پړاو ټاکنې د مې په ۲۲ پیل شوې او دوه اونۍ یې دوام وکړ. دواړو کاندیدانو خپل د کمپاین فعالیتونه د پوسترونو تر ځړولو او ځنې پلویانو او سیاسي متحدینو پورې محدود کړي و. دواړو کاندیدانو دخپل د لومړي پړاو د ټاکنو سیالاناو یا د دوی د مرستیالانو ملاتړ تر لاسه کړ. د دوهم پړاو دواړو کاندیدانو تر منځ د نهایي ټلویزیوني مناظرې پلان د امنیتي ستونزو له کبله په حقیقت بدل نشو.

د کمپاین روحیه په عام ډول د پروسې په ترڅ کې مثبته وه، خو بیا وروسته په دوهم پړاو ټاکنو کې سخته او یو د بل پر ضد شوه. که څه هم د قومي تړاوونو اونورمنفي تبلیغاتو تورونه د یوه کاندید د ټیم د غړو له خوا د بل کاندید د ټیم په غړو وتپل شول خو په عام ډول داسې فعالیتونه د مدني ټولنې، مقاماتو او په خپله د کاندیدانو لخوا وغندل شول.

د حکومتي چارواکو لخوا په غیر قانوني ډول د کمپاین کولو مثالونه د جمهوري ریاست د ټاکنو په دواړو پړاونو او هم د ولایتي شوراگانو په ټاکنو کې ولیدل شول چې د کمپاین د مشروعیت اصول یې له خطر سره مخ کړل.[35] خو په جواب کې یې مقاماتو سمدستي اقدامات پیل کړل او داسې چارواکي یې یا له دندې څخه گوښه کړل او یا یې سزا ورکړه. په یوه قضیه کې په یو ولسوالی کی د پولیسو یو امنیه قومندان چې په غیر قانوني ډول د جمهوري ریاست د یوه کاندید لپاره په کمپاین کولو تورن و له دندې گوښه کړل شو خو بیا وروسته بیرته د بل ولایت په یو ولسوالی کې د دوهم پړاو د ټاکنو څخه مخکی مقرر شو. دغه کار د تعزیراتو موثریت له منځه یووړ.

*سپارښتنه کیږي چې مقامات باید په غیر قانوني ډول د دولتي منابعو څخه د گټې اخیستو په مورد کې ډیر حساس وي، چې یکې د حکومتي چارواکو لخوا په غیر قانوني ډول د کمپاین کولو قضیې هم شاملې دي. مقامات باید په داسې مواردو کې په جدي او موثره توگه اقدام وکړي تر څو د داسې تخلفونو مخه ونیول شي.*

**ب. د رسنیو کمېسیون**

د رسنیو کمېسیون هغه لنډ مهاله اداره ده چې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په چوکاټ کې د هر ځل ټاکنو لپاره د ټاکنو په موده کې د رسنیو د اجراآتو د څارنې په موخه رامنځ ته کیږي. نوموړې اداره چې پنځه مسلکي غړي لري د ۲۰۱۳ کال د دیسمبر په میاشت کې د دې کار لپاره گمارل شوي وه. په ولایتي کچه د خپل مسوولیت د بشپړولو په موخه د رسنیو کمېسیون د استازیتوب په شمول کوم چې دOSCE د ډیموکراټیکو بنسټونو او بشري حقونو د اداری د ټاکنیز ملاتړ ټیم لخوا د ټاکنیز کمپاین په ترڅ کې د رسنیو په هکله د مقررې جوړولو مخکینۍ سپارښتنې نه دي پلې شوې.[36] د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رسنیو د کمېسیون لپاره د کارکوونکو د گمارلو او بودجې د تخصیص مسوولیت لرلو ترڅنگ د ټول ټاکنیز بهیر په ترڅ کې په جدي ډول دغه مراحل اداره او کنټرولوي. د رسنوی کمسیون په دې هکله د ټاکنو خپلواک کمېسیون لخوا د کمیشنرانو د گمارنې او استخدام په برخه کې د نیمگړیتوب او نه روڼتیا ریپوټ ورکړ او په دې هکله یې د گمارنې په بهیر کې پر مسلکي وړتیاوو د زیات ټینگار غوښتنه کوله. سربېره پر دې، پر ټاکلي وخت د رسنیو د فعالیتونو د څارنې د پیل په موخه د رسنیو کمېسیون د کارکوونکو د گمارنې ځنډېدل او بودجې د تخصیص هم په خپل وار سره د رسنیو کمېسیون پر ثبات منفي اغېزه درلوده.

*سپارښتنه کیږي چې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون لخوا د رسنیو کمېسیون د اعتماد او باور د لوړوالي لپاره د رسنیزو کمیشنرانو د گمارنې په بهیر کې د روڼتیا د زیاتوالي لپاره نور گامونه پورته کړل شي او باوري کړي چې له گمارنې وروسته دې کمېسیون ته د بودجوي موضوعاتو او کارکوونکو د گمارنې په برخه کې نور زیات مسوولیت ورکول کیږي.*

---

[34] د ۲۰۱۴ کال په پای کې د آیساف د ماموریت په ختمیدو سره ، امریکا او دهغه متحدینو په ۲۰۱۴ کې د امنیتي تړون د د لاسلیک کیدو څخه ورسته د یو روزنیز او امنیتي ماموریت ژمنه کړې ده.

[35] د اروپا د امنیت او همکاریو دسازمان د ۱۹۹۰ کال د کوپن هاگن سند ۷ ماده ۶ پرگراف داسې حکم کوی " داسی حقوقی تضمینونه باید موجودی وی چی گوندونو او سامانونه وکولای شی د مساواتو پر بنسټ سره سیالی وکړی" سربیره پردی ددغه سند ۳ ماده ۵ پرگراف حکم کوی چی " د دولتی مقاماتو او ملکی مامورینو دنده داده چی په کمپاینونو کی د اساسی قانون احکام رعایت کاندی او دقوانینو نه سرغړونه و نکړی"

[36] د ټاکنو د قانون د ۶۱،۱ او ۶۱،۶ مادو مطابق، د رسنیو کمېسیون باید د ټاکنو له ورځې څخه ۹۰ ورځې وړاندې رامنځ ته او همدارنگه باید د وروستۍ نتایجو له اعلان څخه وروسته د ۴۵ ورځو په ترڅ کې خپل کار بشپړ کړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ټاکنيز بهير په ترڅ کې د رسنيو کمېسيون د مسووليت د وړتيا او توان په برخه کې د رسنيو اړوند شکايتونو د تشخيص په موخه يو شمېر کړنلارې هم تصويب کړې دي. د جمهوري رياست د ټاکنيز کمپاين په ترڅ کې د رسنيو کمېسيون په ټوليز ډول اووه قضيې تر غور لاندې نيولې وې: چې له دې جملې څخه يې دوه په لومړي او پنځې نورې يې بيا د ټاکنو په دويم پړاو کې وې. د دې ترڅنګ د رسنيو کمېسيون يو شمېر نورې ستونزې هم د غېر رسمي خبرو اترو له لارې حل کړې دي. د رسنيو کمېسيون د ټاکنو د لومړي پړاو په ترڅ کې ديارلس ټلويزيوني شبکې او يوه راډيويي شبکه د خبري پوښښ څخه د سرغړونو په تور او د دويم پړاو په جريان کې هم د ورته سرغړونو په تور ديارلس ټلويزيوني شبکې، پنځه راډيويي شبکې او څلور ورځپاڼې جريمه کړې دي.

د رسنيو کمېسيون د تعزيراتو موضوع هم يوه اساسي ستونزه وه. که څه هم چې د رسنيو کمېسيون په پرله پسې ډول د رسنيو د انفرادي شبکو په غوښتنه د جريمو د ورکړې وروستۍ نېټې غځولې وې، خو يو شمېر رسنيو بيا هم خپلې جريمې نه دي ورکړې. د يادونې وړ ده چې د رسنيو کمېسيون خبرداری ورکړی ؤ چې د جريمو د نه ورکړې په صورت کې به د مربوطه رسنۍ جواز بېرته واخيستل شي، خو دا چې ټولو سرغړوونکو په خصوصي رسنيو پورې اړه لرله، نو د رسنيو کمېسيون هم په خپل ابتکار سره د دې کړنلارې د تطبيق په برخه کې زړه نا زړه ؤ. د سېپټمبر په وروستيو کې د رسنيو کمېسيون هم د وضع شويو جريمو د ورکړې د کړنلارې د تنفيذ په موخه پرېکړه وکړه څو د دې موضوع اړوند دعوا د لوی څارنوالی[37] لخوا وڅېړل شی.

د رسنيو کمېسيون همداشان په رسنيو کې د تمويل شويو ټاکنيزو خبرتياوو او اعلانونو پر رقابتي لګښتونو هم څارنه کوله. دې ډول څارنې د ۴۴ خپرنيزو رسنيو (۲۶ ټلويزيوني چېنلونه او ۱۸ راډيويي شبکې) او ۱۰ چاپي خپرونو او يوه آنلاين ټلويزوني چېنل په ګډون په ټوليز ډول په کابل کې ۵۵ رسنۍ تر خپل پوښښ لاندې راوستلې وې. خو څرنګه چې د رسنيو کمېسيون د کابل څخه د باندې هېڅ شتون نه درلود، نو د څارنې وړتياوې او ظرفيتونه يې هم په ځانګړي ډول د سيمه ييزو چاپي رسنيو په برخه کې محدود وو. د رسنيو کمېسيون د رسنيو اړوند د څار هغه رپوټونه خپرول چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون پر وېب پاڼه[38] کې نشر شوي وو. د رسنيو کمېسيون د رسنيو د څار د رپوټونو موندنې په دې منظور کارولې څو د هغو رسنيو پر شبکو محدوديتونه وضع کړي چې د ټاکنيز کمپاين د خاموشی له مقرراتو يې سرغړونه کړې وي. د رپوټونو پر اساس د مستندو سرغړونو سربېره، د رسنيو کمېسيون موندنو هم د ټاکنيز کمپاين په ترڅ کې د رسنيو پر اجراآتو خپل مثبت اغېز درلود.

*سپارښتنه کېږي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون هم په دې برخه کې اضافي ګامونه واخلي، څو باوري کړي چې د رسنيو کمېسيون د خپل مسووليت پر مهال د اړوندو فعاليتونو د پيل په موخه په کافي اندازه او پر وخت تمويل شوی دی. د رسنيو اړونده کمېسيون د کارکوونکو ګمارنې او روزنې په موخه د اړتيا وړ وخت او مهال هم بايد په ځانګړي ډول په پام کې ونيول شي.*

### ج. د ټاکنيز کمپاين تمويل

د ټاکنيز کمپاين تمويل د ټاکنو د قانون او د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو د مقررې لخوا تنظيمېږي. نوموړی قانون د سياسي ګوندونو خصوصي تمويل، د بسپنو اړوند نهايي اندازه او د ټاکنو د کمپاين لګښتونه تامين او ټاکي او همداشان د رپوټ ورکولو بهير او خپرولو شرايط تنظيم او کنټرولوي. په دې هکله ټاکنيز حقوقي چوکاټ د نړيوالو معيارونو سره سم د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو د روڼتيا او بشپړتيا د باوري کولو په موخه عمومي شرايط تياروي، خو د معلومات و د نشتوالي، بېنظميو او تطبيق وړ محدوديتونو له کبله هراړخيز لست نه چمتو کيږي. د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو د څارنې او حقوقي چوکاټ[39] پلي کېدل نيمګړي او ستونزمن ثابت شوي دي.

د قانون له مخې د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو د يوه کانديد لخوا په ترتيب سره د ټاکنيز کمپاين ټولټال لګښت له ۱۰ ميليونو افغانيو (۱۳۲،۰۰۰ يورو) او ۵۰،۰۰۰ افغانيو (۶،۶۰۰ يورو) څخه تجاوز نه کوي. څرنګه چې د جمهوري رياست د دوهم پړاو ټاکنو د ټاکنيز کمپاين د نسبتاً لنډې مودې له کبله د لګښتونو اندازه د قانون له مخې نه تنظيمېږي، نو د دريو اونيو د ټاکنو د کمپاين د لګښتونو لپاره ۱۰ ميليونه افغانۍ په پام کې نيول شوې وې، او د جمهوري رياست ټاکنو د لومړني پړاو د دوه مياشتنۍ ټاکنيزې مودې لپاره هم په همدې اندازه لګښت په پام کې نيول شوی ؤ. د تمويل شويو سياسي اعلانونو لپاره د قيمتونو په پرتله د لګښت اندازه په غېر واقعي ډول نسبتاً ټيټه وه چې د کانديدانو په ګډون د ټولو اړوندو همکارانو لخوا تر سختې نيوکې لاندې نيول شوې وه. د ورکړل شوو رپوټونو له مخې

37 په نهو رسنيو کې شپږ ټلويزيوني شبکې دوه راډيويي شبکې او يوه ورځپاڼه شامليږي.

38 د رسنيو کمېسيو رپوټونه د ټاکنو د خپلواک کمېسيون پر وېب پاڼه (http://www.iec.org.af) د لاس رسي وړ دي.

39 د درغليو پر وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسيون، د اتمې مادې درېيمه فقره/(3)7 وايي چې "هر دولتي طرف بايد د هغو مناسبو تقنيني او اداري تدابيرو اخيستل په پام کې ونيسي چې د دې کنوانسيون له اهدافو سره مطابق ولري او هم د خپل کورني يا داخلي قانون د بنسټيزو اساساتو مطابق وي، څو د ټاکل شوي دولتي مقام لپاره د کانديدانو د مالي چارو په تمويل کې روڼتيا رامنځ کړي؛ او که چېرې د پلي کېدا وړ وي، نو د سياسي ګوندونو مالي چارې تمويل کړي."

کانديدانو هم خپل لګښتونه پټول او د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته يې غير دقيق معلومات وړاندې کول.

*په دې هکله سپارښتنه او وړانديز کيږي چې د ټاکنيز کمپاين د لګښتونو اندازه او مقدار تر يوې مناسبې او اغېزمنې کچې پورې نسبتاً لوړ په پام کې ونيول شي، څو له يوې خوا په دې بهير کې روڼتيا رامنځته شي او له بلې خوا د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو د مقرراتو څخه د سرغړونو او تېروتنو خطر تر ټولو ټيټې کچې ته راټيټ کړي.*

کانديدان کولای شي چې خپلې مالي چارې يوازې د خصوصي بسپنو له لارې تمويل کړي. د جمهوري رياست کانديدان کولای شي چې د انفرادي بسپنه ورکوونکو څخه لږترلږه تر ۵۰۰۰۰ افغانيو پورې او غېر دولتي کورنيو حقوقي بنسټونو او سياسي ګوندونو څخه تر ۵۰۰۰۰۰ افغانيو پورې بسپنې ترلاسه کړي. د قانون له مخې د کانديدانو هغه دولتي تمويل او مالي ملاتړ منع دی چې د تمويل مېکانيزم پوتانشيال د درغليو د مخنيوي په موخه د يوې وسيلې په توګه اغېزمنوي، څو د کانديدانو ترمنځ د مبارزې د ډګر څرنګوالی باوري، خصوصي مرستندويانو په هکله له اړتيا پرته اعتماد لرې، او په سياسي ډګر کې د ښځو د ګډون په منظور انګېزې رامنځ ته کړي.[40]

*د سياسي ګوندنو او کانديدانو د دولتي تمويل او مالي چارو د ملاتړ سيستم معرفي کول بايد ترغور لاندې ونيول شي. د دولتي بسپنو وېش بايد د ريوټ ورکولو د شرايطو په څېر د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو د تنظيم له مقرراتو سره جدي او نېغ په نېغه ارتباط ولري، او دا بايد په داسې ډول ترتيب او تنظيم شي، څو په سياسي ډګر يا ژوندانه کې د ښځو د ګډون په موخه ډېرې انګېزې وړاندې کړي.*

د قانون له مخې کانديدان اړ دي چې د خپلو ټاکنو د کمپاين لپاره ځانګړې بانکي حساب پرانيزي او په هرو دوو اونيو کې خپل مالي ريپوټونه د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته پر وېب پاڼه د خپرولو په موخه ورکړي. د تېرو ټاکنو په ترڅ کې د جمهوري رياست دوه کانديدان چې د مالي رپوټونو په ورکولو کې پاتې راغلي وو، وروسته بيا د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون لخوا جريمه شوي وو. په دې برخه کې د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو څخه د سرغړونې لپاره نور محدوديتونه نه دي وضع شوي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون د خپلو دندو او مسووليتونو د تحقق لپاره په پرله پسې ډول هڅه کړې چې د ټاکنيز کمپاين د تمويل او مالي چارو اړوندو مسايلو کې له کانديدانو سره مرسته وکړي. خو بيا هم، د جمهوري رياست د کانديدانو د مالي چارو استازو پر وخت او کره معلوماتو د وړاندې کولو څخه ډډه کوله، او د ټاکنيز کمپاين اړوند په يو شمېر فعاليتونو يې سترګې پټولې او په دې ډول د ټاکنو خپلواک کمېسيون سره په همکارۍ کې پاتې راغلي وو. د ټاکنو قانون د غېر قانوني منابعو او بسپنې کارول د يوې سرغړونې په توګه محدود او درجوي، خو د مالي رپوټونو د ورکړې څخه ډډه کول يا پر ټاکلي وخت د هغې نه سپارلو په ګډون د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو نور شرايط بيا د سرغړونو په توګه نه په ګوته کوي. سربېره پر دې، دغه قانون په څرګند ډول د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو د شرايطو څخه د سرغړونې په منظور د تطبيق وړ يو شمېر محدوديتونو د نه تنظيم او کنټرول له امله د تنفيذ يو اغېزمن مېکانيزم نه چمتو کوي.

*د ټاکنو پر حقوقي چوکاټ بايد له سره غور وشي، څو د ټاکنيز کمپاين د مالي ښېظميو د مخنيوي په منظور د محدوديټونو د هراړخيز لست پکښې په متناسب او اغېزمن توګه شامل شي. د جمهوري رياست کانديدان د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو اړوند مسايلو په برخه کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون سره د نه همکارۍ په صورت کې بايد مسووليت په غاړه واخلي.*

د مالي چارو لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسيون ځانګه د کانديدانو د ټاکنيز کمپاين په برخه کې د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو د څار دنده په غاړه لري. خو بيا هم، دا د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون دی چې د شکايتونو پر اساس د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو په هکله د مقرراتو د تنفيذ څخه په پيروي پراخ صلاحيتونه لري. سره له دې هم قانون په واضح ډول د ټاکنيزو شکايتونو د کمېسيون په څېر د نورو اړوندو همکارانو په ګډون د ټاکنو د خپلواک کمېسيون مسووليت نه مشخص کوي، تر څو د وړاندې شويو مالي رپوټونو د ارزونې ترڅنګ د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو څارنه تطبيق کړي او د ټاکنيز کمپاين مالي چارو له مقرراتو څخه سرغړونو ته لازم او فعال ځواب ورکړي. د رپوټونو له مخې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د محدود ظرفيت له کبله، د کانديدانو د مالي چارو د رپوټونو د ارزونې او څېړنې په برخه کې د ګڼ شمېر ستونزو سره مخ ؤ. د ټاکنو خپلواک کمېسيون د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقونو د ادارې د ټاکنيز ملاتړ ټيم ته خبر ورکړی ؤ چې نوموړي کمېسيون د کانديدانو د مالي چارو رپوټونه د خلکو په واک کې ورکوي او همدارنګه ټولو علاقه لروونکو همکارانو ته د رپوټونو د دقت په موخه د کره کتنې لپاره د اجازې ورکولو ترڅنګ دغه رپوټونه د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون په واک کې ورکوي. خو سره له دې هم هيڅ شخص، رسنۍ، يا مدني ټولنې د سازمانونو استازو، د کانديدانو او د هغو مالي رپوټونو و په هکله کومه رسمي پوښتنه نه ده کړې کوم چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون په وېب پاڼې کې نشر شوي و.

---

[40] د OSCE/ODIHR د ادارې د ۱۷۶-۱۷۷ فقرې او د سياسي ګوند اړوند مقررې په هکله د ونيز ښار د کمېسيون لارښود ټکي وګورئ. (http://www.osce.org/odihr/77812).

*په دې هکله د ټاکنو پر حقوقي چوکاټ له سره د کتنې سپارښتنه کيږي، څو په بشپړ، هراړخيز، او پر وخت د ټاکنيز کمپاين د مالي چارو څارنه کړای شي. د ټاکنيز کمپاين اړوند مالي چارو مسايلو په هکله د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون د تنفيذ ظرفيت هم بايد واضح او روښانه کړای شي.*

## 8. ملي او نړيوال نظارت

د ټاکنو قانون د ټاکنو لپاره د ملي او نړيوالي څارنې فرصت برابروي. د يادونې وړ ده چې د باورليک ترلاسه کول هم د دوه پړاوه کړنلارې په ترڅ کې ترسره کيږي: سياسي ګوندونه، کانديدان، د ټاکنيزې څارنې سازمانونه، او خبري رسنۍ وړاندې له دې چې د خپلو استازو د باروليک لپاره غوښتنليکونه وسپاري بايد د ټاکنو د خپلواک کمېسيون څخه د سازماني باورليک ترلاسه کړي. هغه څارونکي چې باورليک يې ترلاسه کړئ وي "په ټاکنيز بهير کې د ګډون کولو حق لري، څو له هغې څارنه او په اړه يې رپوټ وړاندې کړي."[41] د يادونې وړ ده چې سربېره پر دې هم د ټاکنو خپلواک کمېسيون د کانديدانو استازو او کورنيو او نړيوالو سازمانونو ناظرانو ته د دې حق ورکړی و چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون په عمومي غونډو کې حضور ولري خو رسنۍ بيا له دې حق څخه نه وې برخمنې.[42] همداشان د ټاکنو خپلواک کمېسيون د کورنيو او نړيوالو ناظرانو لپاره يو قانوني کړنلاره هم چمتو کړې ؤ.

د رايي اچونې د مربوطه مرکز رييس ته د رايي اچونې په ځای کې د ناظرانو، د کانديدانو د استازو او رسنيو استازو ته د دوی د موجوديت د وخت تعيين واک او اختيار ورکول شوی و چې د رايو اچوونکو د نوم ليکنې او رايي اچونې په جريان کې د نوم ليکنې نظارت وکړی. که څه هم دا کار د خلکو د زياتې ګڼې ګونې څخه د مخنيوی د يوې وسيلې په توګه په پام کې نيول شوې و خو دا حکم له حده زيات جدي دی او ناظرانو او د کانديدانو د استازو په برخه کې د بې عدالتۍ دی او هم د دوی د کارونو پر وړاندې د احتمالي خنډ لامل کيږي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون يو لړ نورو حکمونو هم صادر کړی چې له مخې يې کانديدان او سياسي ګوندونه بايد د ټاکنو پر ورځ د خپلو استازو او د استازو د ځای پر ځای کولو اړوند پلانونه له وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسيون سره همغږي او شريک کړي چې دا کارهم ورته خندونه را منځته کوی.

*د رايي اچونې او رايه اچوونکو د نوم ليکنې په ځايونو کې د ناظرانو، د کانديدانو د استازو او سياسي ګوندونو او رسنيو د استازو د موجوديت په هکله د وخت محدودول بايد لرې کړل شي. که چېرې د خلکو ګڼه ګونه يوه له مهمو ستونزو څخه وي، نو په دې صورت کې د رايي اچونې يا نوم ليکنې په مرکز کې د هر نهاد لپاره بايد د اړوندو ناظرانو د شمير کچه باندی له سره بياکتنې وشي. همداشان هغه قواعد هم د بيا کتنې لپاره په پام کې نيول کېدای شي چې د کانديدانو او سياسي ګوندونو د پلانونو د مخکې له مخکې هماهنګ کول و شريکول پکښې را نغاړی.*

په عام ډول، د باورليک ورکول ځانګړې/هراړخيزه او پر وخت کړنلاره وه. د مارچ په ۲۲ مه نېټه د باورليک د پروسې د لومړي پړاو له بشپړېدو وروسته، د ټاکنو خپلواک کمېسيون اعلان وکړ چې دغه کمېسيون د څارنې ۶۸ ملي سازمانونو ته باورليکونه ورکړي دي. د دوی څخه د يو شمېر په غوښتنه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د انفرادي څارونکي د باورليک د ورکړې په موخه د غوښتنليکونو د منلو او پروسس د مارچ تر ۲۹ پورې چې د قانوني موده يې هم تير شوی وه، وغځول. د ټاکنو خپلواک کمېسيون د معلوماتو له مخې د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د اپرېل تر ۴ مې نېټې پورې ټولټال ۱۴۵۸۵ او د ټاکنو په جريان کې ۱۸۰۰۰ ملي ناظرانو ته باورليکونه ورکړل شوي وو. بايد وويل وشي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون اعلان وکړ چې هغه باورليکونه چې د ټاکنو په لومړي پړاو کې ناظرانو ترلاسه کړي دي د ټاکنو په دويم پړاو کې هم مشروعيت لري. همدارنګه د يادونې وړ ده چې د ټاکنو په لومړي پړاو کې له ۱۷ نړيوالو نهادونو څخه شاوخوا ۱۲۰۰ نړيوالو ناظرانو ته ورکړل شوي باورليکونو په هکله هم دغه مشروعيت د تطبيق وړ ؤ. سربېره پر دې، د ټاکنو خپلواک کمېسيون پرته له وروستۍ نېټې د ټاکلو، د نورو احتمالي ناظرانو لپاره د غوښتنليکونو[43] د منلو وړانديز هم وکړ. د ټاکنو په دواړو پړاونو کې ښځينه ناظرانو کابو په سلو کې دېرش سلنه وو.

*د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد په رسمي ډول د ناظرانو د باورليکونو د مشروعيت او غوښتنليکونو لپاره د مهالوېشونو*

[41] سياسي ګوندونو، خپلواکو کانديدان و، ناظرانو سازمانونو او رسنيو ته د باورليک د ورکړې په هکله د ټاکنو خپلواک کمېسيون هغه مقررې ۶،۱ مادې ته مراجعه وکړئ چې د ۲۰۱۲ کال د ډيسمبر د مياشتې په ۱۵ مه نېټه د ټاکنو خپلواک کمېسيون لخوا تصويب شوې ده. د رای شمېرنې، تصديق، او د فبروی په ۱۱ مه نېټه د نتايجو د اعلان په هکله د ټاکنو خپلواک کمېسيون د مقررې په ۹ مه ماده کې د رای شمېرنې د ټولو پړاونو او نتايجو د اعلان څخه د څارنې حق تضمين شوی دی.

[42] د ټاکنو خپلوا کمېسيون په عمومي غونډو کې د ملي او نړيوالو ناظرانو او نماندګانو اړوند مقرره د ټاکنو خپلواک کمېسيون لخوا د فبرورۍ په ۱۸ مه نېټه تصويب شوې ده. له دې څخه داسې څرګنديږي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون په دې برخه کې ځانګړی واک او اختيار لري څو مشخص کړي چې کومې غونډې بايد "علني" وي.

[43] د کانديدانو په غوښتنه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د هراړخيزې څېړنې په جريان کې د کانديدانو اضافي ناظرانو او استازو ته د باورليک د ورکړې اجازه ورکړه (لاندې څرګندونې وګورئ).

*د موضوع ترڅنګ د نورو اضافي ناظرانو،د کاندیدانو استازو او د رسنیو نمائیدګانو ته د جمهوري ریاست د ټاکنو د دویم پړاو په ترڅ کې د باورلیکونو د ورکړې موضوع تنظیم او کنټرول کړي.*

د کاندیدانو او سیاسي ګوندونو ټولټال ۳۴۵،۷۱۵ استازو ته د اپریل د ۵ مې نېټې د انتخاباتو د نظارت لپاره باورلیکونه ورکړل شوي وو. د جمهوري ریاست د ټاکنو له اتو څخه د اوو کاندیدانو ټولټال ۸۰،۶۴۵ استازو ته باورلیکونه ورکړل شوي وو. د ټولو ۲۴۶،۷۴۰ استازو چې د ۲۰،۸۶ د ولایتي شوراګانو د کاندیدانو د استازو په توګه د باورلیک د غوښتنلیکونو فورمې ډکې کړې وې. سربېره پر دې، د سیاسي ګوندونو ۱۸،۳۳۰ استازو ته باورلیکونه ورکړل شوي وو. د ټولو هغو استازو له شمېر څخه چې د کاندیدانو یا سیاسي ګوندونو لخوا معرفي شوي وو، تقریباً ۲۲ په سلو کې یې ښځینه نمایندګانې وې.

د جمهوري ریاست د دویم پړاو ټاکنو څخه وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسیون څرګنده کړه چې د ټاکنو د لومړي پړاو د هغو کاندیدانو د استازو باورلیکونه نور مشروعیت نلري چې په لومړي پړاو کې نه دي بریالي شوي، خو په ورته وخت کې یې د دویم پړاو پر دواړو کاندیدانو غږ وکړ چې په کافي شمېر د نورو اضافي استازو لپاره باورلیکونه ترلاسه او په ټاکلیو ځایونو کې یې ځای پر ځای کړي، څو په لازمه توګه د ټاکنو پر ورځ د رایې اچونې مرکزونه تر خپل پوښښ لاندې راولي. د دې مقصد په موخه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د هر کاندید لپاره د ۵۰،۰۰۰ باورلیکونو د کارتونو فورمې ووېشلې. د دوهم پړاو دواړو کاندیدانو هم په خپل وار سره د کمېسیون غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړ او د ټاکنو خپلواک کمېسیون د معلوماتو له مخې د کاندیدانو ټولټال ۸۷،۳۴۶ استازو ته باورلیکونه ورکړل شول چې له دې جملې څخه یې ۲۵،۴۲۷ یا ۲۹,۱ فیصده ښځینه نمایندګانې وې.[44] سربېره پر دې سیاسي ګوندونو هم ۲۱،۲۹۲ استازي ګمارلي وو چې ۴،۱۳۴ یا ۱۹,۴ فیصده یې ښځینه استازې وې. د دې واقعیت سره سره چې د جمهوري ریاست کاندیدانو لخوا په ټول هېواد کې د امنیتي وضعیت اړوند اندېښنو او ستونزو ترڅنګ د یو شمېر نورو مالي او سازماني خنډونه د موجودیت رپوټ ورکړی شوی ؤ، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون د OSCE د ډیموکراټیکو موسسو او بشري حقونو د دفتر ټاکنیز ملاتړي ټیم ته خبر ورکړ چې د رایې اچونې په مرکزونو کې د ټاکنو د نتایجو په سلو کې له ۹۵ فیصدو څخه زیات د ټاکنو د نتایجو پاڼې د جمهوري ریاست د وروستۍ ټاکنو[45] د دواړو کاندیدانو لخوا لاسلیک شوې وې. د یادونې وړ ده چې په دې جریان کې داسې رپوټونه هم موجود وو چې د کاندیدانو استازو په اړونده برخه کې روزنه نه لرله او د دوی دېرې برخه په لازمه توګه د ټاکنو پر ورځ د فعالیتونو په هکله د رپوټ ورکولو او څارنې په موخه د اړتیا سره سم نه وو چمتو شوي.

*سپارښتنه او وړاندیز کیږي چې سیاسي ګوندونه او کاندیدان د خپلو استازو د ظرفیت د لوړولو په موخه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د نړیوالې ټولنې په مرسته روزنیز پروګرامونه دایر کړي، څو د ټاکنیزو پروسو په برخه کې دوی د رپوټ ورکولو او څارنې په موخه په سمه توګه چمتو او وروزل شي.*

له ټاکنو څخه وړاندې د مدني ټولنې یو شمېر سازمانونه په فعاله توګه د ټاکنیز حقوقي چوکاټ په سمون او اصلاح کې ښکېل وو او د راتلونکو نویو ټاکنیزو قوانینو په متن کې یې یو شمېر سپارښتنې او وړاندیزونه رامنځ ته کړل. دوی په مدني او رایه ورکوونکو د پوهاوي او عامه بحثونو په ترتیب او تنظیم کې برخه درلوده. د رایې اچونې په مرکزونو کې د ټاکنو د ورځې د کړنلارو څخه پر څارنه سربېره د ملي ناظرانو ډلې هم په اوږدمهاله څارنه کې ښکېل وو او د کاندیدانو د نوم لیکنې او د ټاکنو د کمپاین لړۍ یې تعقیبوله. د مدني ټولنې یو شمېر سازمانونو د رایې شمېرنې د ملي مرکز کې او همداشان د بیا شمېرنو او پلټنو په منظور په محلي او مرکزي کچو د رایې شمیرنې د نتایجو د تعقیب او څارنې لپاره خپل څارونکي ځای پر ځای کړي وو.

د ملي څارنې په اصلي سازمانونو کې د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو سازمان (FEFA)، د افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ (TEFA)، د افغانستان د ملي مشارکت سازمان (NAPO)، د نوی کرښې/لاین سازمان (NLO)، د افغانستان د ځوانانو ملي او ټولنیزه اداره (AYNSO)، او د افغانستان د ټاکنو د څار (EWA) اداري شاملې وې. ټولو سازمانونو او ادارو د نړیوالې ټولنې څخه د مالي تمویل ترڅنګ نور ملاتړ هم ترلاسه کړی ؤ.

د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو لپاره د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو سازمان (FEFA) د ټاکنو په لومړي پړاو کې له ۹،۵۰۰ ناظرانو څخه زیات او په دویم یا وروستي پړاو کې یې له ۹،۰۰۰ څخه ډېر څارونکي د دې لپاره ځای پر ځای کړي وو، څو د رایې اچونې د ټولو مرکزونو له شمېر څخه یې په سلو کې اویا تر خپل پوښښ لاندې راولي.[46] د

[44] د ډاکټر عبدالله عبدالله ۴۲،۱۶۰ استازو ته باورلیکونه ورکړل شول، چې له دې جملې څخه ۱۱،۷۶۳ یا ۲۷,۲ فیصده یې ښځینه استازیې وې؛ د ډاکټر غني ۴۵،۱۸۶ نمائیدګانو ته باورلیکونه ورکړل شول، چې له دې جملې څخه ۱۳،۶۶۴ یا ۳۰,۲ فیصده یې ښځینه استازیې وې.

[45] د تفتیش په وروستي پړاو کې د وروستي پړاو ټاکنو له کاندیدانو څخه یوه یې د نتایجو په یو شمېر پاڼو باندې د استازو د لاسلیکونو د صحت په اړه خپلې اندېښنې څرګندې کړې او په دې هکله د ټاکنو خپلواک کمېسیون د هغې د بیا کتنې په موخه د سپټمبر په ۷ مه نېټه یوه کړنلاره تاسیس کړه. د یادونې وړ ده چې دغه بیا کتنه هغه مهال ترسره شوه چې په اروپا کې د امنیت او همکارۍ د سازمان او ډیموکراټیکو موسسو او بشري حقونو د دفتر ټاکنیز ملاتړی ټیم (OSCE/ODIHR EST) له هېواد څخه وتلی ؤ.

[46] د ناظرانو د شمېر او د دوی د ځای پر ځای کولو په اړه ډاټا/معلومات د هغو معلومات و پر اساس ولاړ دي چې د اړوندو ناظرانو ګروپونو لخوا د

افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ خبر ورکړی ؤ چي دوی د ټاکنو په لومړي پړاو کې ۶،۹۶۶ او د دويم يا وروستي پړاو لپاره يې ۸،۵۹۲ څارونکي ځای پر ځای کړي وو. د افغانستان د آزادو او عادلانه ټاکنو سازمان او افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ (TEFA) د ملي نظارت يا څارني هغه يوازيني ګروپونه وو چي په ټولو ۳۴ ولايتونو کې يې خپل څارونکي ځای پر ځای کړي وو. يوازې د دغو سازمانونو لخوا د ادعا شويو ناظرانو د ارقامو مجموعه له هغه اعلان شوي رسمي شمېر څخه تجاوز کوي چي له مخې يې ملي ناظرانو ته باورليکونه ورکړل شوي دي. د افغانستان د ملي مشارکت سازمان (NAPO) د نوې کرښې/لاين سازمان (NLO) سره په ګډه په ۱۳ غوره شويو ولايتونو کې ۷۵۰ څارونکي ځای پر ځای کړي وو. د دې ترڅنګ د افغانستان د ملي مشارکت سازمان (NAPO) د فيفا (FEFA) تر چتر لاندې په کابل ولايت کې ۹۵۰ نور اضافي څارونکي هم ځای پر ځای کړي وو. د افغانستان د ځوانانو ملي او ټولنيزه اداره (AYNSO) په پنځو سوېلي ولايتونو کې ۳۵۰ څارونکي درلودل، په داسي حال کې چي د افغانستان د ټاکنو د څار (EWA) ادارې چي يوازې د دويم پړاو ټاکنو د څارني په بهير کي ګډون کړی ؤ، د ټاکنو په ورځ په ۱۶ ولايتونو کې ۵۰۰ څارونکي ځای پر ځای کړي وو.

اکثرو سازمانونو د ټاکنو په ورځ د ناظرانو د ځای پر ځای کولو پلانونه همغږي کړي وو، څو يو له بل سره همکاری او همغږی ولری او د احتمالی کاری تداخل مخه ونيول شی. د ANPO, AYNSO, FEFA, NLO او FEFA سازمانونو د ټاکنو د ورځې د نظارت او څارني په موخه د مشترکو اساساتو يوه اظهارپاڼه لاسليک کړه چي له مخې يې دوی د همغږۍ او معلوماتو شريکولو په موخه يو مېکانيزم طرحه کړ. د يادوني وړ ده چي دغو سازمانونو د لومړي پړاو ټاکنو وروسته د مشترکي بيانيي او وړانديز شويو سپارښتنو د دويم پړاو ټاکنيز بهير له ښه والي سره مرسته وکړه؛ خو د دويم پړاو ټاکنو څخه وروسته دوی هېڅ مشترکه بيانيه صادره نه کړه. د ناظرانو همغږي د جولای مياشتي په لومړيو کې په اغېزمنه توګه پيل او په ګډه سره يې د انتخاباتو له خپلواک کمېسيون څخه غوښتنه وکړي چي د دويم پړاو د لومړنيو نتايجو د اعلان څخه وړاندې ځانګړې ستونزې او مسايل په ګوته کړي.

*د ملي ناظرانو ګروپونو وکولای شول چي د ټاکنو په ورځ د ځای پر ځای کولو پلانته دوام ورکړی او د ټاکنو له ورځې څخه وروسته د لا زياتو معلوماتو د شريکولو او ريپوټ ورکولو ته عملي بڼه ورکړي.*

د ملي ناظرانو يو شمېر ګروپونو ترلاسه شوي موندني له يو بل سره تبادله کړي او د دې بهير د اړخونو په هکله يې د ټاکنو خپلواک کمېسيون او ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ترڅنګ نورو همکارانو ته په مشترک ډول سپارښتني وړاندې کړې. د جون مياشتي په لومړۍ نېټه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ملي او نړيوالو ناظرانو په ګډون کولو سره د همکارانو د يوې غونډې کوربه ؤ، او د دې غونډې په ترڅ کې د ناظرانو او کانديدانو د استازو له خوا د پروسو ته د لاس رسي په برخه کي د پرمختګ او روڼتيا د زياتولي ترڅنګ د نتايجو د تاييد او رايي شمېرني له بهير څخه د څارني غوښتني هم وشوې. د يادوني وړ ده چي په دې برخه کې د رامنځ ته شويو تغيراتو په هکله د ټاکنو خپلواک کمېسيون لخوا خبر ورکړل شو. بايد وويل شي چي د ناظرانو د ګروپونو د غوښتنو په ځواب کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د دې ژمنه هم وکړي چي د ناظرانو او د کانديدانو د استازو ټول هغه ريپوټونه به تر غور لاندې ونيول شي چي پکښی د ټاکنو پر ورځ دوی ته مخ شوی خندونه را ښکاره کوی او ددغو ستونزو او خندونو په اړه د حل لاری چاری و لټوی. څارونکي د ټاکنو د لومړي پړاو په ترڅ کې د احتمالي ناوړه ګټي اخيستني له کبله د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ګوښه کړل شويو کارکوونکو د لست غوښتنه وکړه، څو د ټاکنو په دويم پړاو کې د دوی د نه ګډون په موخه د دوی د ګوښه کولو پخلی وکړي خو دا غوښتنی ته پام نه اړول شوه.

د څارني ټولو ملي ګروپونو د تماس مرکزونه د دې لپاره ايجاد کړي و څو د ټاکنو پر ورځ له خپلو ناظرانو څخه معلومات ترلاسه او بيا يې په اړه د خپلو موندنو او نتايجو سره يو ځای ريپوټونه خپاره کړي. سره له دې چي ډېری وختونه په دې ريپوټونو کې د څارني په ترڅ کې د بېلګې په ډول د رای پاڼو د کمښت، رای پاڼو د صندقونو د بندولو، جعلي رايي اچوني يا ناظرانو ته د اجازې نه ورکولو په څېر نيمګړتياوې ذکر شوي وې، خو د موندنو تصديق او تاييد لپاره د اړتيا وړ مفصل معلومات پکښی نه ؤ موجود. د څارني ډېری ګروپونو د هغه څه په اړه چي څارل شوي ؤ (لومړني معلومات) او هغه څه چي دوی ته يې په اړه ريپوټ ورکړل شوی ؤ، توپير نه کولود څارونکو ګروپونو په يو شمېر ريپوټونو کې د رای پاڼو د صندوقونو د ډکولو د بېلګې ريپوټونه په داګه شوی و خو ورسره يې کوم تشرياحات د صندوقونو د ډکولو د څرنګوالي، او داچي دوی په دی اړه کوم موندنی درلودی او همداراز کوم اقدامات د هغه د مخنيوی دپاره نيولی شوی و او که نه، نه و ورکول شوی.

*نړيواله ټولنه بايد د موندنو د تصديق او د پيښو د مستند کولواو ريپوټ ورکولو په برخه کې په نړيواله کچه د څارني د منل شويو اصولو په پام کې نيولو سره د ملي څارني ګروپونو د ظرفيت لوړولو له هڅو ملاتړ وکړي.*

## 9. د ټاکنو ورځ

د OSCE د ډيموکراټيکو بنسټونو او بشري حقونو د دفتر د ټاکنيز ملاتړ ټيم د خپل ماموريت په برخه کي د هغو لنډمهاله ناظرانو پرته چي د ټاکنو د ورځي د مقداري ارزوني بنسټ برابروي د اوږدمهاله ټاکنيز بهير باندي تمرکز کړی ؤ. د دغه ټيم ناظرانو په کابل کي د رايي اچوني له محدود شمېر مرکزونو څخه ليدنه وکړه، خو د ټاکنو په ورځ په هراړخيزه توگه له ټاکنو څخه څارنه ترسره نه کړه.

### الف. د رايي اچونې د مرکزونو لست

د رايي اچوونکو د يو مرکزي ثبت د نشتوالي په صورت کي رايه اچوونکو د رايي اچوني د ځانگړو مرکزونو سره نښلول شوی نه و، خو دوی د ټاکنو په ورځ د رايي اچوني د مرکز په تعينولو کي آزاد او خپلواک ؤ. دا په خپل وار سره د سرشمېرني او تجديد شوي د وگړو د معلوماتو او ارقامو د احصاييي د يوې باوري سرچيني د نشتوالي له کبله په خپله يو ځل بيا د اغېزمنو ټاکنو د پلانولو په برخه د پام وړ ننگونه وه او ټاکنيز بهير يي له ډېرو ستونزو او درغليو سره مخامخ کړی ؤ. د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته په کار وه چي د يو عام شموله ټاکنو د په لاره اچولو په موخه يو داسی حفاظتی سيستم د رای پاڼو د صندوقونو د دکولو دخطر نه د خونديتوب لپاره په نظر کی نيولی وی کوم چی د اندازی نه د زياتی رای پانو د ويش له امله منځته راځی. د دي په رڼا کي د ټاکنو خپلواک کمېسيون د هر ډول ټاکنو او رای اچوني د مرکز لپاره د ۶۰۰ رای پاڼو د بېلولو او ځانگړي کولو پرېکړه وکړه او د رايي اچوني د اړتيا وړ مرکزونو د ټاکلو په موخه د وگړيو په هکله د موجودو معلوماتو څخه گټه واخيسته. د رای پاڼو د کمښت په صورت کي، د ټاکنو خپلواک کمېسيون يو شمېر داسي کړنلاې تر لاس لاندې ونيولي چي پر اساس يي د ټاکنو د ورځي څخه وړاندې په هر ولايت کي د رايي اچوني د اړتيا وړ احتمالي مرکزونو ته مواد ورسول، او رايه اچوونکو ته يي لارښوونه وکړه چي که چيری په يو مرکز کی د رای اچونی پاڼی کمبود موجود وی دوی کولای شی د رايي اچوني هغو نږدې مرکزونو ته ولاړ شي چي په هغي کي رای پاڼي موجودي دي.

د رايي اچوني مرکزونو لست يوه د پام وړ ستونزه وه، ځکه چي په يو شمېر ټاکليو سيمو کي د امنيتي دلايلو له کبله د رايي اچوني د مرکزونو تړل کېدو په خپل وار سره په ټاکنو کي د رايه اچوونکو د گډون د شمېر ترڅنگ د ټاکنو نتايج هم تر خپلي سيوري لاندې راوستلي وي. د يادوني وړ ده چي د رايي اچوني لپاره د مناسبو موقعيتونو نشتون هم يوه له بنسټيزو ستونزو څخه وه. د مدني ټولني د يو شمېر سازمانونو د نيوکو سره سره د ټاکنو خپلواک کمېسيون بيا هم د رايي اچوني مرکزونه په محلي روغتيايي مرکزونو او جوماتونو کي جوړ کړي وو.

د کورنيو چارو وزارت د رايي اچوني د مرکزونو په شاوخوا کي امنيتي ارزوني په تعدی ترسره کړه، خو دا د ټاکنو خپلواک کمېسيون له صلاحتيونو څخه وه، څو د رايي اچوني د هغو مرکزونو وروستی لست د کورنيو چارو وزارت د سپارښتنو پر بنسټ چمتو کړی چي د ټاکنو په ورځ به پرانيستي وي. سربېره پر دي، د ټاکنو خپلواک کمېسيون د يوې هڅي په ترڅ کي د رايي اچوني د مرکزونو پر سر د موافقي له مخي د د جمهوري رياست ټاکنو د کانديدانو په گډون د ټاکنو په دواړو پړاونو کي د رايي اچوني د مرکزونو د شمېر هغه لست د ټاکنيزو همکارانو سره يو ځای ارزولی ؤ چي د ټاکنو پر ورځ به پرانيستي وي.

د کورنيو چارو وزارت د ارزونو او سپارښتنو پر بنسټ له ټاکنو څخه وړاندې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د مارچ پر ۳۰ مه نېټه اعلان وکړ چي د اپرېل مياشتي په ۵ مه نېټه به د ۱۲۲۲۲ نارينه او ۸۵۷۳ ښځينه ځايونو په گډون د رايي اچوني ۲۰۷۹۵ ځايونه او ۶۴۲۳ مرکزونه پرانيستي وي، څو د رايو اچوونکو سره د رايي اچوني په برخه کي مرسته وکړي. د يادوني وړ ده چي د رايي اچوني د ۶۷۷۵ مرکزونو د لومړني لست له جملي څخه يي ۳۵۲ مرکزونه د امنيتي لاملونو له کبله تړلي پاتي شوي وو، او د ټاکنو خپلواک کمېسيون په همدې ورځ پر خپله وېب پاڼه د رای اچوني د مرکزونو دغه لست نشر او خپور کړ.

د ټاکنو په لومړي پړاو کي د رای پاڼو د کمښت په هکله د نيوکو په ځواب کي د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ټاکنو په دويم پړاو کي د رايي اچوني د مرکزونو لست ته له سره کتنه وکړه. دي موخي ته د رسېدو لپاره يي د ټاکنو خپلواک کمېسيون د رايي اچوني د مرکزونو پر لست د نويو د رای اچونی دځايونو د ورزياتولو لپاره يو اصل او قاعده رامنځ ته کړه او پر خپل احتمالي پلان[47] يي هم له سره کتنه وکړه. د ټاکنو خپلواک کمېسيون د نوي او تجديد شوي لست په هکله د وروستي پړاو کانديدانو سره سلا مشوره وکره چي په پايله کي د جون مياشتي په ۱۰ مه نېټه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ۱۳۸۱۲ نارينه او ۹۳۲۴ ښځينه ځايونو په گډون د ټاکنو په دوهم پړاو کي د رايي اچوني د ځايونو په شمېر کي تر ۲۳۱۳۶ پورې د زياتوالي اعلان وکړ. همدارنگه د کورنيو چارو وزارت د نوې امنيتي ارزونې پر بنسټ

---

47 د دې اصل او قاعدې مطابق د ټاکنو خپلواک کمېسيون په ټول هېواد کې د ولايت په تناسب د رايې اچونې نور اضافي ځايونه تاسيس کړل چې هغه موقعيتونه يې تنظيمول چې د ورکړل شويو رپوټونو پر اساس په لومړي پړاو ټاکنو کې د رای پاڼو له کمښت سره مخ وو.

د ټاکنو په وروستي يا دويم پړاو کې د رايي اچونې د مرکزونو پلان شوی شمېر ۶۳۶۵ ښودل شوی ؤ.

### ب. د ټاکنو د ورځې امنيت

په ټول هېواد کې د رايي اچونې د ځايونو د خونديتوب او ساتنې په موخه د اپرېل مياشتې د ۵ مې نېټې د ټاکنو لپاره نږدې ۱۹۵۰۰۰ امنيتي پرسونل ځای پر ځای شوي وو. په سوله ييز چاپېريال کې د ټاکنو د ترسره کولو له کبله د افغانستان ملي امنيتي ځواکونو اجراآت او فعاليتونه د يوې لويې بريا په توګه د افغان او نړيوالو همکارانو لخوا وستايل شول. د OSCE د ډيموکراټيکو بنسټونو او بشري حقونو د ادارې د ټاکنيز حمايوي ټيم لخوا د لومړي پړاو ټاکنو په جريان کې په يو شمېر سيمو کې له هغو ننګونو څارنه کړې وه چې په نسبتاً اسانی او کم لګښت سره حل کېدای شول. د رايي اچونې د محدود شمېر ځايونو څخه د ليدنې په ترڅ کې د OSCE د ډيموکراټيکو بنسټونو او بشري حقونو د ادارې د ټاکنيز حمايوي ټيم د ترافيکي کنټرول په برخو کې د پوليسو د يو شمېر هغو افسران وليد چې خپل ټول فعاليتونه د نړيوالو ناظرانو پر سهولت او لارښونه متمرکز کړي وو، د رايي اچونې په مرکزونو کې هم د افغانستان امنيتي ځواکونو هغه پرسونل ليدلي دي چې ټاکنې په وخت کې يې د استراحت او ستړيا لرې کولو تمايل درلود. بايد و ويل شي، چې د لومړي او دويم پړاو ټاکنو ترمنځ د نومورې سازمان د ټيم لخوا دا ډول اندېښنې د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو (ISAF) د ټاکنو اړونده واحد او کورنيو چارو وزارت سره د غونډو په جريان کې مطرح شوې وې.

*ثابت او دايمي امنيتي پرسونل ترممکنه حده پورې په بېلابېلو وختونو کې د دوو ساعتونو لپاره په دوه پړاوه کار وېشل کېدای شي. کرنلارې بايد د افغان امنيتي ځواکونو هر غړي ته په دقيق، روښانه او اغېزمنه توګه ورسول شي. امنيتي پلټنه هم بايد د خطر د کمولو په موخه په منظم او يو ډول ترسره شي.*

د جمهوري رياست د ټاکنو د لومړي پړاو په پرتله په دويم پړاو کې امنيتي شرايطو او مقرراتو د پام وړ توپير درلود. په لومړي پړاو ټاکنو کې د افغان ملي پوليسو، افغان ملي اردو او ملي امنيت رياست زيات شمېر پرسونل مکلف وو چې د اپرېل مياشتې له ۴ مې نېټې تر ۵ مې نېټې پورې د رايي اچونې د بهير د پای ته رسېدو او رای پاڼو د شمېرنې په موخه ۲۴ ساعته دنده ترسره کړې. خو له بل لوري د دويم پړاو ټاکنو لپاره د افغان ملي پوليسو، افغان ملي اردو او ملي امنيت رياست تر ۲۰۵۰۰۰ پورې امنيتي پرسونل د تيارسۍ په حال کې وو چې د دغو امنيتي پرسونلو ټولټال شمېر ۴۰۰۰۰۰ ته رسېدو. د دې ترڅنګ د ټاکنيز بهير د خونديتوب په منظور د امنيتي پرسونلو د شته والي د پراختيا ترڅنګ د دوی د عوض په برخه کې سمون هم په پام کې نيول شوی ؤ.

د لومړي پړاو ټاکنو لپاره امنيتي مقرراتو تر ډېره بريده د رامنځ ته شوي "فولادي امنيتي کمربند" پر هغو لارو چارو تکيه کوله چې د امنيتي مسووليت د کمربندونو مشترک مرکز يې درلود، او له مخې يې د رايي اچونې د مرکز امنيت تر يوه کيلومتر ساحې پورې د ملي امنيت د رياست د کارکوونکو د څارنې په مرسته د افغان ملي اردو لخوا نيول شوی ؤ، د ملي امنيت د رياست تر څارنې لاندې د رايي اچونې مرکز د شاوخوا چاپېريال امنيت د ملي پوليسو لخوا نيول شوی ؤ، په داسې حال کې چې د رايي اچونې مرکزونو امنيت د افغان ملي پوليسو او ملي امنيت د رياست د پرسونلو/کارکوونکو لخوا نيول شوی ؤ. د دويم پړاو ټاکنو لپاره په ټاکنيز امنيتي پلان کې هم بدلون راوستل شوی ؤ او د جون مياشتې په ۱۴ مه نېټه د يوه کيلومتر امنيتی کمربند ساحه د رايي اچونې مرکزونو ته څېرمه تر نږدې ساحو پورې محدوده شوه.

په دويم پړاو ټاکنو کې د هېواد په کچه د وسلوالو بريدونو په شمېر کې د پام وړ زياتوالی راغلی وو. د اپرېل مياشتې پر ۵ مه نېټه د ټاکنو په ورځ د رايي اچونې د ۶۴۲۳ پلان شويو مرکزونو له جملې څخه يې ۱۴۰ مرکزونه د امنيتي لاملونو له کبله تړلي پاتې شول. همدارنګه د ورکړل شويو رپوټونو له مخې په ټول هېواد کې د ۴۶۴ وسلوالو بريدونو په پايله کې ۲۱۰ کسان (د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د ۳ کارکوونکو په ګډون) وژل شوي او ۲۲۷ نور ټپيان شوي وو. د جون مياشتې د ۱۴ مې نېټې په پرتله[48] د رايي اچونې د پلان شويو مرکزونو شمېر ۶۳۶۵ ؤ چې له دې جملې څخه يې ۱۹۳ (د رايي اچونې د ۵۷۹ ځايونو په ګډون) مرکزونه د ټاکنو په ورځ د امنيتي لاملونو له کبله تړلي وو او د ورکړل شويو رپوټونو له مخې د ۵۷۰ وسلوالو بريدونو په پايله کې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د ۱۰ کارکوونکو په ګډون لږترلږه ۲۲۳ کسان وژل شوي او ۳۹۰ نور ټپيان شوي وو.

د تېرو ټاکنو په خلاف د ۲۰۱۴ کال ټاکنو لپاره د امنيت ساتلو دنده او مسووليت يوازې د افغان ملي امنيتي ځواکونو په غاړه ؤ. د ټاکنو خپلواک کمېسيون او ملي امنيت د رياست سره د ګډې همغږۍ او همکارۍ پر بنسټ د کورنيو چارو وزارت د ټاکنيزو امنيتي ترتيباتو مسوول ؤ. د OSCE د ډيموکراټيکو بنسټونو او بشري حقوقو د ادارې د ټاکنو حمايوي ټيم د مسوولينو په وينا د ټاکنو خپلواک کمېسيون او افغان ملي امنيتي ځواکونو ترمنځ همکاري او همغږي د پام

48 د مرګ ژوبلې/تلفاتو شمېر له بېلابېلو منابعو څخه اخيستل شوی، که څه هم چې د OSCE/ODIHR EST دلې د مرګ ژوبلې دغه شمېر په خپلواکه توګه نشوای تاييدولی.

وړ اغېزمنه نه وه ځکه چې په ساحه کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو قوماندانانو د ټاکنو خپلواک کمېسيون د امنيتي کارکوونکو سره خپلې هڅې نه همغږې کولې او په وار وار يې پر موافقه شويو کړنلارو سترګې پټې کړې دي. د پروتوکول څخه د سرغړونو پر وړاندې عمل نه کولو لاملونه لا هم بې ځوابه پاتې دي.

د کورنيو چارو وزارت د ټاکنو د هرې ورځې څخه وړاندې د نړيوال ځار ګروپونه د دې لپاره رابللي وو، څو د ټاکنو د ورځې امنيتي پلان په هکله دوی ته لنډ معلومات ورکړي. خو سره له دې هم وړاندې شوي معلومات ډېر محدود او د ټاکنيز امنيت لپاره د امنيتي مسوولينو لخوا طرحه شوې لارې چارې هم څرګندې نه وې.

*د يادونې وړ ده چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون او افغان ملي امنيتي ځواکونو ترمنځ په همکارۍ او همغږۍ کې هم بايد په ټولو کچو کې سمون رامنځ ته شي. د راتلونکو ټاکنو لپاره بايد د مراتبو د منظمې سلسلې يا اطاعت روښانه لړۍ هم بايد رامنځ ته کړای شي او د مراتبو دا سلسله بايد په ټول هېواد کې د رايې اچونې د مرکز له کارکوونکو نيولې بيا د افغان ملي امنيتي ځواکونو ،د کانديدانو د استازو او ناظرانو پورې ورسول شي.*

### ج. د درغليو د مخنيوي لپاره هڅې

د تېرو هر ځل ټاکنو څخه وروسته د ټاکنو خپلواک کمېسيون د درغليو او ګډوډيو د پېژندلو او موندلو په موخه يو شمېر تدابير د دې لپاره پلي کړي دي، څو په راتلونکو ټاکنو کې د دا ډول ستونزو د مخنيوي په منظور احتمالي تدابير ترغور لاندې ونيسي. د ۲۰۱۴ کال ټاکنو څخه وړاندې د هرکلي وړ د يو ګام په ترڅ کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ۲۰۱۳ کال د جون مياشتې په ۱۷ مه نېټه د درغليو د حل لارو په موخه يوه ستراتيژي وړاندې او پېشبيني کړه. په دې ستراتيژۍ کې د زيات شمېر ټاکنيزو مسوولينو او کارکوونکو روزنه، د رايې اچونې ځايونو ته د لېږد او بيا بېرته وړلو حساسو موادو د خونديتوب د لړۍ په برخه کې اصلاحات او پرمختګونه په پام کې نيول شوې وو، او نوموړي مواد د دې لپاره ارزول کېدل، څو باوري کړي چې د رای شمېرنې د نتايجو هغه فورمې چې د رای شمېرنې د ملي مرکز (NTC) لخوا د ځانګړي مرکزونو د پاره استول شوی و هماغه دی او که نه. داتول اقدامات د ۲۰۱۴ په تولټاکنو کی پلی شوی دی.

په دې ستراتيژۍ کې يادونه شوې چې "د ټاکنيز مديريت ادارو، د رايې اچونې د پروسې کارکوونکو، سياسي ګوندونو، کانديدانو، ناظرانو او په خپله[49] د رايو اچوونکو په ګډون په دې بهير کې د ښکېلو کسانو ژمنتيا او امانتداری د پروسې دپاره د لومړۍ درجې خونديتوبونو څخه دی". دې ستراتيژۍ ته په کتو سره د رايې اچونې ځايونو د روڼتيا د لوړولو او کانديدانو د استازو او ناظرانو د ځای پر ځای کولو او دوی ته د پام وړ شمېر باورليکونو ورکولو ترڅنګ نورو ترتيباتو ته د عملي بڼې ورکولو له لارې په تېره بيا د دويم پړاو ټاکنو د ورځې څخه وړاندې، د ټاکنو خپلواک کمېسيون د پام وړې هڅې کړې دي. سربېره پر دې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون چې د يوناما/UNAMA او نړيوالې ټولنې لخوا يې ملاتړ کېدو پر کانديدانو او د هغوی پر استازو غږ وکړ چې د سرغړونې يا درغلۍ په صورت کې د شکايتونو د درجولو له حق څخه ګټه پورته او ټاکنيزو لانجو د حل په موخه د موجودو رسمي لارو څخه ګټه پورته کړي.

د ملي څارونکي سازمانونو يو شمېر رپوټونو ته په پام سره، د هېواد په کچه په يو شمېر سيمو کې د کم عمره کسانو لخوا د رايې اچونې، ګروپي رايې اچونې او ګنو جعلي رايې اچونې په ګډون د رايې اچونې اړوند بالقوه پټو سرغړونو د پېښېدو خبر ورکوي. همدارنګه د څار يو شمېر رپوټونه څرګندوي چې د رای پاڼو صندقونو د دکولو جدی سرغړونې په ځانګړي توګه د لمړی پړاو ټاکنونه وروسته موجودې وې. د لومړي پړاو ټاکنو له ورځې څخه وروسته پر ټولنيزو رسنيو يو شمېر داسې وېډيوګانې خپرې شوې چې په هغې کې نامعلوم اشخاص ليدل کېږي چې د ولايتي شوراګانو او د جمهوري رياست دواړو ټاکنو کې په پراخه پيمانه رای پاڼې په نښه کوي. او وروسته بيا له دې جملې څخه يې يو شمېر وېډيوګانې د شکايتونو څخه د تاييد او تصديق په موخه د ثبوت په توګه د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ته وړاندې شوې.

د لومړي پړاو ټاکنو څخه وروسته د ټاکنو خپلواک کمېسيون د رايې اچونې د ځايونو اړوند څو زره هغه کارکوونکي او مسوولين له دندو ګوښه کړل چې په ټاکنيزو ګډوډيو کې په لاس لرلو تورن شوي وو. د رسمي ارقامو مطابق ټولټال ۳۳۰۰ کارکوونکي له دندو ګوښه شوي او په راتلونکي کې پر دندو د ګمارنې د مخنيوي په منظور په تورلست کې شامل شوي دي او همدارنګه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ۴۴۰ هغو کارکوونکو پر ځای نور کارکونکی ګمارلي دي چې د ټاکنو په پروسه کې يې په خپله دنده کې ناغېړي کړې وه. د يادونې وړ ده چې د دغو تورنو کسانو نومونه د ۱۱۰۰۰ هغو کسانو پر لست ورعلاه شوي دي چې په تېرو ټاکنو کې د ټاکنيزو ګډوډيو په تور په تورلست کې شامل شوي وو.

49 د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د درغليو د حل لارې ستراتيژي، پی. ۵.

*د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته په کار ده چې د رايي اچوني ځايونو د کارکوونکو روزنه او ارزونه جاري وساتي او د غېر مجازو فعاليتونو د مخنيوي په منظور د محدوديتونو يو روښانه ټولګه وړاندې او وضع کړي.*

**د. د ټاکنو د ورځې اجراآت**

د ټاکنو په دواړو پړاونو کي د ټاکنو په ورځ د رايي اچوني ځايونه پر اتو بجو پرانيستل کېدل. خو د ورکړل شويو رپيوټونو پر بنسټ د رايي اچوني د ځايونو په پرانيستلو کي ځنډ او خنډ تر ډېره بريده د رايي اچوني او امنيتي کارکوونکو د ناوخته راتګ له امله ؤ او دا کار د دويم پړاو ټاکنو په پرتله په لومړي پړاو کې ډېر ترسترګو شوی دی. د رايي اچوني مرکزونو او ځايونو د پرانيستلو د کړنلارې سره سم د رايي اچوني کارکوونکي بايد د ترلاسه شويو رای پاڼو شمېر چېک او نتايجو په فورمه کې يې ثبت او د رايي پاڼو صندوقونه د رايي شمېرني د پيل څخه وړاندې مهر او بند کړي. د دويم پړاو د جمهوري رياست ټاکنو لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسيون د نتايجو فورمې تعديل او د رای پاڼې د ګنلو او چک کولو نه د هغه انګېرني پر اساس صرف نظر وکړ چې د رايي اچوني ټولو ځايونو پوره ۶۰۰ رای پاڼي ترلاسه کړي دي. د ټاکنيزو نتايجو د فورمو بشپړولو په بهير کې د تېروتنو د کچې راټيټولو په منظور د يوې وسيلي په توګه د پرېکړې سره سره[50] بيا هم دا بهير د رايي اچوني د ځای په کچه د رای پاڼو د پروسې د تطبيق څخه يو ګام وروسته ؤ.

د رايي ورکوونکو د يو مشخص او واحد لست (کوم چې هره رای اچونکی د يو رای د ځای سره تړی) د نشتوالي په صورت کی د رايه ورکوونکي ګوتي په دوه ډوله (د نه ترسترګو کيدونکی او نه پاکېدونکی) رنګونه نښه کول د يوه شخص لخوا د تکراري رايي اچوني پر وړاندې اساسي خنډ ؤ. په دويم پړاو ټاکنو کې د نه ليدونکي رنګ سربېره د ټاکنو خپلواک کمېسيون د نورو شرايطو د وضع کولو پرېکړه هم وکړه. د يادوني وړ ده چې په دغو کړنلارو[51] کې د هرې ټاکني د رايي ورکوونکو لپاره د ځانګړې سوري کوونکي وسيلې په مرسته د رايي اچوني د کارت سوري کول شامل ؤ. په ټاکنو کې د هر برخه اخيستونکي رايه ورکوونکي د رايي اچوني د کارت ځانګړې شمېره هم د رايي اچوني د کارت د ثبت په کتاب کې ثبت کېدله خو د رايي اچوني د اصلي ثبت شويو کارتونو د شمېرو د معلومولو او ځانګړي رايه ورکوونکي سره د ثبت شوې شمېرې د سمون په موخه د ثبت د مرکزي دفتر نشتوالي د رايي اچوني د ثبتېدونکو کارتونو شمېرې د درغليو د مخنيوي پر وړاندې د يو اساسي خنډ په توګه هغه څه دي چې لا هم تر پوښتني لاندې دي.

*د ټاکنو خپلواک کمېسيون د رايي اچوني د کارت د شمېرې سربېره کولای شول چې د درغليو او د درغليو اړوند تفتيش په ترڅ کې د احتمالي کاروني څخه د مخنيوي په توګه او رايي اچوني د ځای د رايه ورکوونکي د ثبت د کتاب د ارزښت لوړولو په منظور د رای پاڼې د رسيد پر وړاندې د هر رايه ورکوونکي د نوم ثبتوني او لاسليک (يا د ګوتي نښه) اړتيا په پام کې ونيسي.*

د قانون له مخي رايه ورکوونکي حق نلري چې د رايي اچوني په کارتونو کي د ذکر شويو ولايتونو پرته په نورو ولايتونو کي د ولايتي شوراګانو لپاره رايه ورکړي. په هر صورت، د رايي اچوني د هر ځای لپاره د رايي ورکوونکي د کارت د ثبت يوازې يو کتاب ساتل کيږي. څکه نو د اپرېل مياشتي په ۵ مه نېټه کله چې په يوه وخت کي د رايي اچوني په ورته ځای کي د دواړو د جمهوري رياست او ولايتي شوراګانو ټاکني ترسره کېدې، نو د ثبت له هغه کتاب څخه ؤ چې يوازې يې د هغو رايه ورکوونکو دقيق شمېر منعکس کولو چې د جمهوري رياست ټاکنو لپاره رای پاڼي ورکړل شوې وې، نه د هغو رايه ورکوونکو شمېر چې د ولايتي شوراګانو لپاره يې رايي ورکړې وې.

*سپارښتنه کيږي چې د هم مهاله ټاکنو په صورت کې بايد د هرځل ټاکنو لپاره د رايه ورکوونکو د کارت د شمېرې د ثبت جلا کتاب موجود وي او همدا راز د ثبت کتاب ته بايد د ټاکنو اړوند د حساس مواد درجه ورکړل شي.*

د لومړي پړاو ټاکنو د ورځې په لومړيو کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون او خلکو د رايي اچوني په خاصو ځايونو کې د رای پاڼو د باالقوه کمښت په هکله رپوټونه ترلاسه کړل. د ورکړل شويو رپوټونو له مخې په لومړي سر کې د کانديدانو او د هغوی د استازو لخوا د رايي اچوني د بهير د پيلېدو سره سم او آن په ۹:۳۰ بجو خپل غږونه د رای پاڼی د کمښت په اړه پورته شول. خو د سهار په لومړنيو ساعتونو کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د رای پاڼو د کمښت رامنځ ته کېدل رد او غېر واقعي وبلل، او دا يې د ولايتي شوراګانو د ټاکنو د رای پاڼی څخه د ناوړه[52] ګټې اخيستني پايله وبلله. وروسته

50 د جون مياشتي په لومړۍ نېټه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د وروستۍ ټاکنو په هکله د رايي اچوني او شمېرني تجديد شوي کړنلار تصويب کړه.

51 سره له دې چې په رسمي ډول په دې برخه کې هېڅ دليل نه ؤ وړاندې شوی، خو د ورکړل شويو رپوټونو له مخې د نه ليدونکي رنګ شرط په دويم پړاو ټاکنو کې د مارچ د مياشتي په ۲۹ مه نېټه د ټاکنو د خپلواک کمېسيون پر زېرمتون/ګدام د هغه وسلوال بريد وروسته لرې شوی ؤ چې په پايله کې يې د اړتيا وړ توکي له منځه لاړل او يا خو زيانمن شوي وو.

52 د ټاکنو خپلواک کمېسيون وروسته وويل چې د رايي اچوني د کارکوونکو او رايه ورکوونکو د اغېزمنتيا په پام کي نيولو سره به دا کار د ۹ ساعتونو په شاوخو کې

چي کله د ټاکنو د ورځي په آخری ساعتونو کی د رایي اچوني مسوولینو لخوا هم د رای پاڼو د کمښت په هکله د ریپوټونو ورکول پیل شول، نو د ټاکنو خپلواک کمېسیون د خپل احتمالي پلان پلي کول پیل کړل. د دې پلان له مخي د ټاکنو خپلواک کمېسیون ولایتي کارکوونکو صلاحیت درلود چي په اغېزمنو شویو سیمو کي د رای اچوني ځایونون ته د رای پاڼو په ګډون د اړتیا وړ ټول ټاکنیز مواد ورسوي. څرنګه چي د دغو ځایونو ډېری برخه د ګڼ مېشتو سیمو په ښاري مرکزونو کي واقع وو، نو د ټاکنو خپلواک کمېسیون مسوولینو هم رایه ورکوونکو ته لارښوونه وکړه چي د رایي اچوني لپاره نږدې محلونو[53] ته ولاړ شي.

د اپرېل میاشتي په ۵ مه نېټه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رایي اچوني ۵۴۸ احتمالي ځایونو ته د اړتیا وړ ټول ټاکنیز توکي رسولي وو او د رایي اچوني بهیر یي هم له ټاکلي مودې څخه یو ساعت زیات کړ. د دې ترڅنګ هغو رایه ورکوونکو ته هم د رایي اچوني اجازه ورکړل شوې وه چي په لیکو کي ولاړ وو او په څو اغېزمنو ځایونو کي د یوه یا هم زیاتو ساعتونو لپاره د رایي اچوني په موخه د خلکو اوږده کتارونه د ګڼ شمېر خبري رسنیو لخوا هم وښودل شول.

د دویم پړاو ټاکنو له ورځي څخه وروسته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ریپوټ ورکړ چي نوموړي کمېسیون رایي اچوني د ځایونو د اړتیا وړ ټول احتمالي توکي یي د ۵۷۰ د رای اچونی اضافی مرکزونو نه سربېره هغو ټولو ځایونو ته هم رسولي دي چي هلته رایه اچونه ترسره شوې ده. نو په دې ډول د رایي اچوني د ۱۹۳ تړل شویو مرکزونو په پام کي نیولو سره د ټاکنو په دویم پړاو کي د ټاکنو پر ورځ د رایي اچوني د ۲۲۸۲۸ ځایونو په درلودو سره د رایي اچوني ۶۱۷۲ مرکزونه پرانیستي وو. په داسي حال کي چي د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمایوي ټیم ته د ټاکنو د دوهم پړاو په جریان کي د رای پاڼو د کمښت له کبله د رایي اچوني د حق څخه د رایه ورکوونکو د بي برخي کېدو په اړوند کوم ریپوټ نه ده رسیدلی نو باید و ویل شي چي د ټاکنو خپلواک کمېسیون له لوري اخیستل شوي اصلاحی تدابیر هم په پراخه توګه بریالي وو. د رای پاڼو د تخصیص د پلان جوړوني په برخه کي ستونزه به په احتمالي ډول په راتلونکو ټاکنو کي هم په خپل ځای پاتي وي تر هغي چي د رایه ورکوونکو د ثبت یوه مرکزي سیستم جوړه او رایه ورکوونکي د رایي اچوني له ځانګړیو ځایونو سره ارتباط ورنکړل شي. څرنګه چي د دغو ټاکنو په بهیر کي ولیدل شول د رای پاڼو کمښت د درغلیو اړوند تورونو د زیاتوالي باعث کیږي، او دا د رایي اچوني د ځای د مشخص شمېر رایه ورکوونکو د لست د نشتوالي په صورت کي د احتمالي پلان په ټاکلو کي د روڼتیا او مشورتي پروسي د شتون د اهمیت څرګندونه کوي.

## ۵. د رایي اچوني په ځایونو کي د رایو شمېرنه

د قانون سره سم رای شمېرنه د رایي اچوني په ځایونو کي ترسره کیږي. که چېرې د رایي اچوني په مرکز کي د رایي اچوني ځایونه له یوه څخه ډېر وي، په دې صورت کي د رایي اچوني د مرکز مدیر له هر ځای څخه د رای پاڼو د نتایجو فورمې راټولوي او پس له تطبیق او تصدیق د رایه ورکوونکي د کارت د شمېرې د ثبت د کتاب سره یو ځای یي د جدولبندی په منظور په پاکټونو کي بند او د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته لیږي. د رایي اچوني د ځای مشر د سمو، باطلو او سپینو رای پاڼو د شمېرني او همدارنګه د نتایجو په فورمه کي د دغو معلوماتو رسولو مسوولیت په غاړه لري. د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقونو د اداري د ټاکنیز حمایوي ټیم د تېرو سپارښتونو ته په پام سره د ټاکنو خپلواک کمېسیون هغه پلان چي د درغلیونه د مخنیوی په موخه جوړ شوی دي داسی وړاند وینه کوی چي د رای ځای مشر باید نښلونکي پټي د نتایجو په فورمه کي ثبت شوي ارقام د خوندیتوب په موخه و نښلوی او د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته د بشپړو نتایجو د لېږلو په موخه د اړوند پاکټ څخه استفاده کوي.

که څه هم چي د ټاکنو د خپلواک کمېسیون اړوند ستراتیژي د درغلیو د حل لارو یا درغلیو د کچي د ټیټوالي په منظور د رایي اچوني په ځای کي د رای پاڼو اړوند د څېړني او تطبیق غوښتنه کوي، خو د قانون او ټاکنو د خپلواک کمېسیون د مقرارتو له مخي د رایي اچوني د ځای مسولین او د رایي اچوني د مرکز مدیران مکلف نه دي چي د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رای شمېرني ملي مرکز ته د نتایجو د فورمو د لیږلو څخه وړاندې رای پاڼي تطبیق او وڅېړي. د رای پاڼو د تطبیق او څېړني په موخه د صریح قانوني مکلفیت نشتوالی د نړیوالو غوره تجربو خلاف کار دی. عملاً[54] دا هغه مهال د پام وړ ټکی دی چي د نتایجو فورمي د شمېرني د تېروتني سره یو ځای د رای شمېرني ملي مرکز ته انتقالیږي.

*د ټاکنو د قانون تجدید ته ځکه اړتیا لیدل کیږي، تر څو د رای پاڼي تطبیق او څېړنه د رای اچوني د ځای د نتایجو په*

---

وخت ونیسي، څو د رای پاڼو د ۶۰۰ صندقونو دوه سېټونه پروسیس کړي.

53 له ټاکنو څخه یوه ورځ وروسته د هغو ځایونو یا موقعیتونو د نخشي په ګډون چي په اړه یي د رای پاڼو د کمښت په اړه ریپوټونه ترلاسه شوي وو، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رای پاڼو د کمښت په اړه یوه څېړنه ترسره کړه. په دې څېړنه کي ښودل کیږي چي دغه ځایونه په مراتبو د رایي اچوني هغو مرکزونو ته نږدې واقع وو چي رای پاڼي یي لرلې، نو دا په دې مانا ده چي د رای پاڼو د کمښت ستونزه ډېره پراخه وه چي باید په دې صورت کي رایه ورکوونکي د رایي اچوني نږدې ځایونو ته رهبري شوي وای.

54 د درغلیو په وړاندې د یوه خنډ په توګه د رای پاڼو د تطبیق او څېړني د اهمیت په هکله، په ټاکنیزو مسایلو کي د اروپا د وینیز د کمېسیون د شورا د غوره تجربو د کړندود د ۳۲ مي فقرې ۳,۲,۲ مي برخي ته مراجعه وکړئ او دا په لاندې وېب پاڼه د لاس رسي وړ دي: http://www.venice.coe.int/webforms/documents/default.aspx?pdffile=CDL-AD(2002)023-e

*فورمه د ناظرانو او کاندیدانو د استازو په حضور کې تایید او تصدیق کړل شي. همدارنګه د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید د توپیرونو د حل او مربوطه موضوع په هکله اړوندو ټاکنیزو مسوولینو لپاره د هراړخیزې روزنې د ورانديې کولو په موخه د رایې پاڼو د تطبیق او څېړلو کړنلارې او لارښود ټکي تهیه او صادر کړي.*

د رایې اچونې د ځایونو د بشپړو شویو نتایجو له فورمو څخه د کاربُن د دریو نسخو د وېش لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسیون په کړنلارو کې کاندیدانو ته د یوازې یوې نسخې ورکول شاملیږي، پرته له دې چې د دوی شمېر په پام کې ونیسي؛ د کاندیدانو نمایندګان د هغه چا د ټاکلو په موخه چې دا نسخه ترلاسه کوي باید پخپله اچونه وکړي. د وروستي یا دویم پړاو کاندیدانو په غوښتنه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د دویم پړاو ټاکنو څخه دوه ورځې وړاندې، دواړو کاندیدانو ته د بشپړو شویو نتایجو له فورمو څخه د کاربُن د یوې نسخې په ورکړه موافقه وکړه او دا د دې څرګندونه کوي چې د رایې اچونې په ځای کې خلکو د ښودلو لپاره کاپي باید د دویم کاندید استازي ته ورکړل شي. دغه کار د دی څرګندونه کوی چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د روڼتیا یو مهم وضع شوی تدبیر چې د محلي رایه ورکوونکي او څارونکي د ټاکنو رسمي نتایجو ته لاس رسی و، حذف کړ.

*د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید باوري کړي چې د رایې اچونې هر ځای ته په کافي شمېر کې د نتایجو د فورمو په ورکولو سره رایه ورکوونکي او څارونکي د ټاکنو په ورځ د رایې اچونې په ځای کې د رایې اچونې د نتایجو په هکله رسمي معلومات ترلاسه کولای شي.*

په عمومي ډول د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او نورو ټاکنیزو همکارانو مطابق د رایې اچونې په ځایونو کې د نتایجو شمېرل او له مراحلو تېرېدل د لومړي پړاو ټاکنو په نسبت په دویم پړاو ټاکنو کې ډېر ګړندي و.

## 10. ثبت او جدول بندي

په کابل کې د رایې شمېرنې ملي مرکز د جمهوري ریاست ټاکنو په دواړو پړاونو کې له ټاکنې څخه دوه ورځې وروسته عملیاتي ښه غوره کړه. د رایې شمېرنې په ملي مرکز کې عموماً کړنلارې داسې ښکارېدلې چې په سمه توګه طرحه او له وړاندې په هراړخیزه توګه ازمایل شوې دي. د ولایتي شوراګانو او د جمهوري ریاست ټاکنو د دواړو پړاونو لپاره د معلوماتو د ثبت پروسه په نورمال ډول پرمخ روانه وه.

د ټاکنیزو نتایجو لرونکو د فورمو هغه کڅوړې چې په ولایتي کچه په آبي رنګه پلاستیکي صندقونو کې د رای شمېرنې ملي مرکز ته د لېږد په موخه بسته بندي شوې وې. نوموړي صندوقونه د رای شمېرنې ملي مرکز ته راوړل شول او د هر بکس پرله پسې ثبت شوی شمېره د هغه شمېرې سره پرتله شوه چې د اړونده ولایت په کمپیوټري سیسټم کې ثبت شوې وه. دا کار د دې لپاره ترسره شوی ؤ څو د رایې اچونې له مرکزونو د رای شمېرنې ملي مرکز ته د لېږد په جریان کې د حساسو موادو تعقیب (د څارنې لړۍ) یقیني کړي. د ټاکنو په لومړي پړاو کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون کارکوونکو د ناظرانو له حضور پرته آبي رنګ لرونکي صندوقونه څېړلي او پرانیستي وو. د یادونې وړ ده چې په دویم پړاو ټاکنو کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د آبي رنګ لرونکو صندقونو د څارنې پروسه رسمي کړې او د دغو صندقونو د پرانیستې پرمهال یې د دواړو کاندیدانو نمایندګان او ملي څارونکي وربللي وو. خو کله چې د ډاکټر عبدالله عبدالله نمایندګان د رای شمېرنې د ملي مرکز څخه ووتل (لاندې یې وګورئ)، د صندقونو پرانیستلو لړۍ ته د ناظرانو او ډاکټر اشرف غني احمدزي استازو په حضور کې دوام ورکړل شو.

د ټاکنو په دواړو پړاونو کې د نتایجو یو شمېر فورمې د آبي رنګه کڅوړو په ځای په نصواري رنګه پاکټونو کې د نتایجو د جمع کولو ځای ته رسېدلې وې.[55] د لومړي پړاو ټاکنو په بهیر کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون دا دول پاکټونه د تفتیش لپاره ګوښه کوله . باید و ویل شي چې په عمومي ډول، د نتایجو فورمې ځکه منل شوې وې چې په هغې کې د هېڅ ډول لاس وهنې نښې نه وې لیدل شوې. خو د دویم پړاو ټاکنو څخه وړاندې د نصواري رنګه پاکټونو موضوع د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د کارکوونکو د روزنې په جریان کې مطرح شوه او په دې اړه کړنلارې نورې هم غښتلې شوې وې. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د یو نیک اقدام په ترڅ کې په یوه غونډه کې چې د ناظرانو، استازو او رسنیو پر مخ پرانیستی وه د نتایجو ۱۰۹ هغه فورمې په اړه یې دقیقه څېړنه وکړې چې په نصواري رنګه پاکټونو کې رارسېدلې وې. دا په داسې حال کې ده چې د لومړي پړاو نه وروسته د داسې فورمې په اړه کومې شمېرې نه وې خپرې شوې، خو د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمایوي ټیم ته خبر ورکړل شوی ؤ چې په وروستي پړاو ټاکنو کې د نصواري رنګه پاکټونو شمېر کم ؤ. څرنګه چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د تفتیش او تدقیق په نتیجه کې دیری لړۍ توپیر د نتایجو د فورمو او نصواري رنګه فورمو ترمنځ وموندله نو د ټاکنو خپلواک کمېسیون هم د وروستۍ رارسېدونکو فورمو په نورمال ډول د مراحلو د طی کولو ترڅنګ پرېکړه وکړه چې د لاسلیکونو یا نښو

55 نصواري رنګه اضافي پاکټ د رایې اچونې په ځای کې د اړتیا وړ ټاکنیزو توکو سره تهیه شوی ؤ. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د جون میاشتې د ۱۲- ۲۰ مې نېټې له پرېکړې سره سم، که چېرې د TEB کڅوړه نه وي موجود (ممکن د بسته بندۍ له کبله وي)، د ټاکنو ولایتي آمر باید د هغو نصواري رنګه پاکټونو سره یو ځای رپوټ ولیکي چې په هغې کې د ټاکنو نتایج شاملې وي.

ترمنځ هر ډول توپیرونه، یا له حده ډېرې رایې به د طی مراحلو د عادي بهیر[56] په ترڅ کې وڅېړل شي.

په راتلونکې مرحله کې د رای شمېرنې ملي مرکز د چمتوالي ځانګې د نتایجو د فورمو هغه پرله پسې شمېرې د هغه کمپیوټري پرله پسې شمېرو سره پرتله کړه چې د رایې اچونې په مرکز کې ورکړل شوې وې. د جدول بندۍ د بهیر په جریان کې په نتایجو کې د هر ډول بدلون د مخنیوي په موخه د نتایجو په هره هغه فورمه چسپېدونکې پټۍ نښلول شوې وه چې دا پټۍ یې نه درلوده. وروسته بیا د نتایجو فورمې د دقیقې کتنې په موخه اسکن ته ولېږل شوې او د کتونکې لخوا د اړنده انځور کیفیت او د فورمو پرله پسې شمېرې تصدیق کیده. د دقیقې کتنې د بهیر تر بشپړېدو وروسته د نتایجو فورمې بېرته د رایې اچونې د ځای په پاکټ کې اچول شوې او ارشیف ته لېږل شوې وې. د یادونې وړ ده چې د فورمو دسکن کولونه وروسته د نتایجو د فورمو ټول پاتی پروسیس دس کن شوی تصویرونو له مخې ترسره کیدې او د فورمو اصلي پاڼې ته ګوتې نه وې وروړل شوې.

د لومړي پړاو ټاکنو لپاره، د رای شمېرنې ملي مرکز کارکوونکو د رایه ورکوونکې د کارت د شمېرې فهرست د رایې اچونې د ځای له پاکټ څخه ایستل او ډاټابیس کې یې ثبتول. دا د دې لپاره ځو په دې ډول وتوانیږي د اچول شویو ټولټال رایو پر وړاندې د رایه ورکوونکو د ترلاسه شویو رای پاڼو شمېره تطبیق کړي. که څه هم چې د کړنلارو له مخې د دوه ډوله ارقامو تطبیق ته اړتیا نه لیدل کېده او نه هم دا چاره د رای شمېرنې د ملي مرکز په پروسه کې ترسره شوې وه؛ خو داکار یوازې هغه مهال ترسره کیدو چې د نتایجو فورمه به تر پوښتنې لاندې ونیول شوه. د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمایوي ټیم ته هم په دې اړه خبر ورکړل شوی ؤ چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په دویم پړاو ټاکنو کې پرېکړه کړې ده چې د رایه ورکوونکې د کارت د شمېرې په فهرست کې د هغو ثبتونو د ټولو شمېرو د معلوماتو څخه تېر شي چې دغه کار د ټاکنو د روڼتیا او ځواب ویلو پر بهیر[57] یې منفي اغېزه درلوده.

*دا باید د رای شمېرنې د ملي مرکز د کړنلارې یوه برخه شي چې باید د رایه ورکوونکې د کارت شمېرې راجستر کتاب دتابیس کی ثبت او د اچول شویو رای پاڼو سره تطبیق شي.*

د معلوماتو ثبتولو پروسه د کمپیوټرکارانو لخوا د دوه ګونې پروسې په ترڅ کې د دوو ۲۵ کسیزو کمپیوټرکارانو لخوا پرمخ بېول کېده. د کمپیوټري سیسټم په مټ د کره کتل شویو نتایجو انځور په غېرمنظم ډول د لومړي ګروپ کمپیوټرکار ته سپارل کېدو. کمپیوټرکارانو د خپلو کمپیوټرونو پر پردو دغه انځورونه کتل او د هر کاندید لپاره یې د هغوی د رایو ټول شمېر او سپینې، ایسته شوې او باطلې رای پاڼې به ثبتولې. د اړتیا په صورت کې د معلوماتو په فهرست کې د مربوطه کمپیوټرکار هویت هم ترلاسه کېدای شو. د الګوریتم سیسټم پر اساس انځورونه د کمپیوټرکارانو ترمنځ د دې لپاره وېشل شوي وو، دا سیستم د هغه ولایت نتایج د کتار په سر کې یې ثبت کوی کوم چې په سیستم کې یې د رای ځایونو د ثبت شوی نتایج یې تر ټولو ټیټه وی.[58] د معلوماتو د لومړنی ثبتونې وروسته، ټاکل شوي کمپیوټر په دویم ټیم کې یوه کمپیوټرکار ته ورته انځور لېږلو. په دې صورت کې که چېرې د دوو کمپیوټرکارانو لخوا د معلوماتو په ثبت کې کوم توپیر موجود ؤ، بیا موضوع د ستونزې حل د ټیم سره مطرح کېده. د یادونې وړ ده چې نوموړي ټیم هم په خپل وار سره معمولاً د لوستلو او ثبتونې اړوند نورو تېروتنو سره هم سروکار درلود.

د ټاکنو په لومړي پړاو کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون له دې امله تر کلکې نیوکې لاندې راغلی ؤ چې د کاندیدانو استازو، ملي او نړیوالو ناظرانو ته یې د رای شمېرنې د ملي مرکز ته د لاس رسي زمینه نه وه برابره کړې. زیات شمېر ناظرانو او ښکېلو استازو ته د ځای ورکولو په برخه کې د محدودیتونو له کبله د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رای شمېرنې د پروسېس خونې ته د ساعت پر اساس د لیدو پرته، د لوړ څخه د ټولو ناظرانو لیدنه محدوده کړې وه.

د وروستي پړاو ټاکنو په جریان کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په خپلو فعالیتونو کې بدلون راوست. په دې ډول سره یې ناظرانو او نمانیدګانو ته د رای ترلاسه کولو ځای، رای شمېرنې د پروسېس ځای او هغه ځای ته د آزاد لاس رسي اجازه ورکړې وه چې هلته رای پلټل کېدې. همدارنګه دوی د انځورونو د تفتیش او فورمو له نږدې څارنې، پوښتنو او انځورونو[59] اخیستو اجازه هم درلوده. دغو ټاکنیزو ځایونو ته د پورتنیو ذکر شویو کسانو پراخ لاس رسی پرته له دې چې د رایې شمېرنې عملیاتو کار د کوم ځنډ او خنډ سره مخ شي په نورمال ډول پرمخ روان وو او پر ټاکنیز بهیر یې د اعتماد په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړه.

---

56 د جون میاشتې د ۱۹ مې نېټې د ورکړل شویو رپوټونو پر اساس د ټاکنو خپلواک کمېسیون هره ورځ خپل معلومات تجدیدول.

57 د ټاکنو خپلواک کمېسیون د OSCE/ODIHR EST سازمان ته خبر وکړی ؤ، چې لا هم د ټولو رایه ورکوونکو د شمېرنې په منظور له دغو شمېرو څخه هېڅ استفاده نه وه شوې، نو پرېکړه یې وکړه چې د معلومات و/ډاټا د ثبت د وخت سپمولو په ګټه د وروستي پړاو ټاکنو څخه دا ټکی حذف کړی.

58 د الګوریتم سیسټم د قسمي نتایجو د اعلان په موخه په داسې ډول ډیزان او طرحه شوی ؤ چې عملاً هغه مهال اجرا کیږي چې کله په ټولو ولایتونو کې د نتایجو ځانګړې سلنه پروسېس شوې وي.

59 دغه بدلون د جون میاشتې په ۱۳ مه نېټه د یوه مطبوعاتي خبر په ترڅ کې اعلان او د ټاکنو خپلواک کمېسیون پر وېب پاڼه خپور شوی ؤ. په داسې حال کې چې د دې موضوع د حل په هکله د ټاکنو خپلواک کمېسیون هېڅ ډول پرېکړه یا کړنلار نه درلوده.

*د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد د رای شمېرنې ملي مرکز ودانۍ ته د لاس رسي خپله آزاده پالیسي د کړنلارې په وسيله د نتايجو د پروسېس په جريان کې او هم د ناظرانو او استازو لپاره د انځور اخيستنې حق رسمي کړي، خو دا حق بايد د رای شمېرنې د ملي مرکز په عملياتو کې د لاس وهنې تر بريده و نه رسيږي.*

## 11. د قسمي او لومړنيو نتايجو اعلان

### الف. قسمي نتايج

د ټاکنو خپلواک کمېسيون د قانون له مخې د ټاکنو د لومړنيو او وروستيو نتايجو د اعلان او خپرولو مسووليت په غاړه لري او هم د قسمي نتايجو د خپرولو صلاحيت لري.[60] که څه هم چې په عمومي ډول د نړيوالو معيارونو لخوا د قسمي نتايجو خپرول نه دي په ګوته شوي، خو دا ممکن د روڼتيا د يوه تر ټولو مهم هغه تدبير په توګه په پام کې ونيول شي چې د شمېرل شويو نتايجو په کره والي کې د خلکو د اعتماد په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون دخپلی مقرری په اساس" د رای شمېرنې په بهير کې د رسنيو په مرکز کې د رای اچونې د ځای د نتايجو مطابق د قسمي نتايجو د اعلان او پر خپله ويب پاڼه دهغې نشرولو ته" ژمن ؤ. خو په عملي ډګر کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون خپلو کړيو ژمنو ته په نسبي ډول ژمن پاتې شو.

په لومړي پړاو ټاکنو کې قسمي نتايج پرته له دې چې د ذکر شوې مقررې پر اساس د اړتيا سره سم د رايې اچونې د هر ځای له مخې تفکيک شوې وي د رايي اچونې د مرکز له مخې د هر کانديد لپاره د سمو اچول شويو رايو د مجموعې په توګه اعلان شوې وې، او نه هم په دې هکله د ايسته شويو رای پاڼو په هکله کوم معلومات وړاندې شوي وو. دغه فارمټ يا نمونې د رايې اچونې په ځايونو کې د ناظرانو او کانديدانو د استازو لخوا د نتايجو له فورمو څخه اخيستل شويو نتايجو سره د پرتلې يا مقايسې په برخه کې هېڅ ډول آسانتيا رامنځ ته نه کړه.

سربېره پر دې، په ټول هېواد کې له دريو "بستو" پرته چې د يو شمېر ولايتونو څخه د راټولو شويو نتايجو ځانګړې ونډه يې لرله، د ټاکنو خپلواک کمېسيون لخوا لکه څنګه چې په رای شميرنی د ملی مرکز کی شميرل کيدل، قسمي نتايج په دوامدار ډول نه وې نشر شوې. په عملي ډګر کې دا کار د ټاکنيزو همکارانو د هغو اندېښنو د راټوکېدو سبب شو چې د مخه يې داسی انګيرل کيده چی د ټاکنو خپلواک کمېسيون هڅه کوی څو د ټاکنو نتايج د خپلې خوښې سره سم عمومي افکارو بڼه يو ټاکلي لوري ته واړوي.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون د اپرېل په ۱۳ مه د ټاکنو د لومړي پړاو قسمي نتايج (د رايې اچونې د ځايونو د شمېرل شويو رايو ۱۰ سلنه)، د اپرېل په ۲۰ مه (۴۹،۷۵ سلنه)، او د اپرېل په ۲۴ مه نېټه (۸۲،۵۹ سلنه) رايې اعلان کړې وې. د دويم پړاو ټاکنو لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسيون د قسمي او لومړنيو نتايجو د اعلان په هکله پرېکړه وکړه چې له مخې به يې د ټولو ولايتونو د رايې اچونې د ځايونو د شمېرل شويو نتايجو څخه په لومړي سر کې ۳۵ سلنه او وروسته ۷۰ سلنه نتايج اعلانيږي. خو بيا هم د ټاکنو په دويم پړاو کې د قسمي نتايجو اعلان ته عملي بڼه ور نه کړل شوه.

*څرنګه چې د OSCE د دموکراتيکو او بشری حقوقو د ادارې په تېرو سپارښتنو کې يادونه وشوه چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد د سپينو، ايسته شويو، باطلو او سمو رای پاڼو په هکله د معلوماتو په ګډون د رايي اچونې د ځای په کچه د قسمي، لومړنيو او وروستيو نتايجو د تفکيک په هکله معلومات نشر او وړاندې کړي. همدارنګه د منظمې وقفې په ترڅ کې د ټولو قسمي نتايجو نشرول تر غور لاندې نيول کېدای شول، د بېلګې په توګه، د جدولبندۍ په موده کې د هرې دويمې يا درېيمې ورځې په پای کې اعلانول. د قسمي نتايجو ترمنځ د لنډې مودې ځنډ شونې وه چې نتايجو ته د عامه افکارو د بنې ورکولو د تورونو پر وړاندې نسبتاً يو اغېزمن ګام او تدبير ګڼل شوی وای.*

د ټاکنو په دواړو پړاونو کې د رايې اچونې يو شمېر ځايونه د ټاکنو په ورځ د رايه ورکوونکو پر وړاندې خلاص نشول يا دا چې د امنيتي يا نورو لاملونو له کبله يې نتايج ترلاسه نشوې. د هرکلې وړ په يو ګام کې، د ټاکنو خپلواک کمېسيون د خپلو نتايجو د رپوټ ورکولو د يوې برخې په توګه د رايې اچونې د دغو ځايونو د تعداد په هکله معلومات خپاره کړه. همدارنګه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د جدول بندۍ په جريان کې د هغه واقعيت پر بنسټ د هغو ګډوډيو يادونه وکړه چې د رايې اچونې يو شمېر مرکزونو د ټاکنيز احتمالي مواد ترلاسه کړي وو، خو د رايې اچونې هغه ځانګړي ځايونه نه وو ايجاد شوي چې په کړنلارو کې يې ذکر او يادونه شوې وه. د دې ترڅنګ دوی د رايې اچونې عادي ځای د احتمالي رايو د نتايجو په هکله مشترکه (يوځايي) رپوټ ورکړی ؤ. د لومړي پړاو ټاکنو په ترڅ کې د مشترکو ورکړل شويو رپوټونو له مخې د دا ډول رايې اچونې د ځايونو شمېر د ۲۰۰ په شاوخوا کې وو.

---

[60] په ترتيب سره د قانون د جوړښت ۱۴،۱۵ مې او ټاکنو قانون ۵۹،۳ مادې ته مراجعه وکړئ

**لومړني نتايج:**

د قسمي نتايجو برعکس د لومړنيو نتايجو اعلانول د ټاکنو خپلواک کمېسيون پرېکړې ته اړتيا لري او نتايج هم په خپل ورا سره د قانون پر بنسټ د کانديدانو لخوا ننګول کېدای شي. دا موضوع ځکه د اهميت وړ ده چې د نتايجو اړوند معلومات داسې بشپړېدای او نشر کيږي چې کانديدانو ته د شکايتونو د فورمولبندۍ او څېړنې اجازه ورکوي. د دې کار د اغېزمنتيا په موخه کانديدان بايد د رايې اچونې د هر ځای (د کارول شويو، سپينو، قانوني او ايستل شويو رای پاڼو په ګډون) څخه بشپړ معلومات په لاس کې ولري. سربېره پر دې، دوی د نشر يا اعلان شويو نتايجو څېړنې او کانديدانو د استازو لخوا د رايې اچونې په هر ځای کې د اخيستل شويو نتايجو پر وړاندې د پرتلې په موخه کافي وخت ته اړتيا لري. سره له دې چې د قسمي نتايجو اعلان ته په کتو سره د ټاکنو خپلواک کمېسيون يوازې د هر کانديد لپاره اچول شوې سمو نتايج په پام کې نيولي وې، خو سپينې يا ايستل شوې رای پاڼې يا باطلې رايې يې په قسمي نتايجو کې نه وې حساب کړې. د يادونې وړ ده چې د لومړنيو نتايجو د اعلان وروسته له څنډ پرته دغه نتايج د ټاکنو خپلواک کمېسيون وېب پاڼې ته نه وې پورته شوي او دا موضوع همداسې ګونګه پاتې شوه چې د شکايتونو د فورمې ډکولو لپاره د تطبيق وړ کوم مهالوېشونه بايد په پام کې ونيول شوي وای.

*د لومړنيو او وروستيو نتايجو پر وړاندې د شکايتونو درجولو په منظور د تطبيق وړ وروستۍ نېټې بايد له هغه مهاله محاسبه شي چې د نتايجو اړوند معلومات د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د وېب پاڼې له لارې د خلکو په واک کې ورکړل شي، څو باوري کړي چې سيالو کانديدانو او د هغوی استازو ته د معلوماتو د څېړلو او نتايجو پر وړاندې د احتمالي استيناف غوښتنې د چمتووالي په موخه برابر او کافي وخت ورکړی ؤ.*

د روڼتيا د يوې هڅې په ترڅ کې د ټاکنو په لومړنيو نتايجو کې د رايې اچونې د هر ځای د نتايجو د فورمو سکېن شوې نسخې هم شاملې شوې وې. په داسې حال کې چې د معلوماتو د ثبت د دقت په برخه کې وروستۍ ارزونه پر وخت د شکايت د درج په موخه يوازې د نتايجو سکېن شوې فورمې د يوه کانديد د اړتيا وړ معلوماتو د څېړنې د اسانتيا لپاره کفايت نه کوي. سربېره پر دې، د ټاکنو په دواړو پړاونو کې د رايې اچونې د ځای له مخې د کانديدانو ټولټال رايې په داسې اوږدو سندونو کې ترتيب شوې وې چې پلټل يې ستونزمن او د هر ولايت، ولسوالي او رايې اچونې د مرکز لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسيون لخوا د ورکړل شويو رسمي شمېرو سره يې مطابقت نه درلود. په دې سره پر وخت د احتمالي شکايتونو د درج د چمتووالي او پرتلې په موخه د کانديدانو او هغوی د استازو مخه نيول شوې وه.

*د OSCE د دموکراتيکو او بشري حقوقو د اداري د سپارښتنو سره سم د ټاکنو نتايج بايد په داسې يوه فارمټ يا بڼه اعلان او نشر شي چې په اسانۍ سره د معلوماتو د څېړنې په موخه ډاونلوډ او کارول کېدو توان ولري.*

د لومړي پړاو د جمهوري رياست ټاکنو لومړنۍ نتايج د اپرېل مياشتې په ۲۶ مه او ولايتي شوراګانو د ټاکنو لومړنۍ نتايج د مۍ مياشتې په ۲۰ مه نېټه نشر او اعلان شوې وې. د ټاکنو خپلواک کمېسيون په مشوره او سپارښتنه د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون د ولايتي شوراګانو د ټاکنيزو شکايتونو بهير د جمهوري رياست ټاکنو د بهير د پای ته رسېدو تر وخته ځنډولې وې.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون په وينا د لومړي پړاو ټاکنو په لومړنيو نتايجو کې ټولټال ۶،۸۹۲،۸۱۶ اچول شوې رايې شاملې وې چې له دې جملې څخه يې ۲۳۴،۶۷۴ (درې عشاره څلويښت فيصده) د رايې اچونې په ځايونو کې باطل شوې وې، او ۴۰،۴۷۶ نورې رايې بيا د هغو کانديدانو لپاره اچول شوې وې چې د ټاکنيز بهير څخه لاس په سر شوي وو او د ټاکنو خپلواک کمېسيون لخوا دغه رايې باطلې اعلان شوې وې. د ټاکنو خپلواک کمېسيون هماغه مهال د رايې اچونې د ۴۴۴ ځايونو نتايج د ټاکينزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ته د لا نورې تفتيش په موخه راجع کړې وې، چې له دې جملې څخه يې د ۲۹۱ ځايونو رايې وروسته په بشپړه توګه د لومړنيو نتايجو په بهير کې شاملې کړای شوې.[61] هغه سمو رايې چې د اتو سيالو کانديدانو لپاره اچول شوې وې په دې ډول دي: ډاکټر عبدالله " عبدالله" – ۲،۹۷۰۳،۷۰۳، ډاکټر محمد اشرف غني "احمدزي" – ۲،۰۸۲،۴۱۷، ښاغلي زلمي رسول – ۷۵۹،۵۴۰، ښاغلي عبدالرب رسول سياف – ۱۰۶،۶۷۳، ښاغلي داود سُلطان زوی – ۳۰،۷۳۷، او ښاغلي هدايت آمين ارسلا – ۱۵،۳۹۴ رايې ترلاسه کړې وې. د يادونې وړ ده چې د ټاکنو په لومړي پړاو کې د ټولو په ګډون سره يوازې ۳۳ فيصده رايې د رايې اچونې په ښځينه ځايونو کې اچول شوې وې.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون د جمهوري رياست د دويم پړاو ټاکنو لپاره خبر ورکړی ؤ چې لومړنۍ نتايج به د جولای په ۲ مه نېټه اعلانيږي، خو د لومړنۍ نتايجو اعلانول وځنډول شول، او دغه ځنډ کوم تخنيکي دليل نه درلود، بلکې د

61 پاتې نورې ۱۵۳ نتايج چې د رايې اچونې په ۹۱ ځايونو پورې يې اړه لرله تر صفر (۰) رايو پورې راټيټې شوې، له دې جملې څخه يې د رپوټ له مخې ۳۶ هغه نتايج وې چې په اړه يې رسمي فورمه نه وه کارول شوې او ۲۶ نورې بيا مشخص او په ګوته نه کړای شوې.

ټاکنو ورځې په پای ته رسېدو سره دغه ځنډول د سیاسي نفوذ د یو شمېر دلایلو او ملحوظاتو پر اساس ؤ.[62] د ټاکنو خپلواک کمېسیون د پنځو ورځو په ځنډ سره د دویم پړاو ټاکنو لومړنی نتایج اعلان کړې.

د ټاکنو له بهیر وروسته د ټاکنو خپلواک کمېسیون رپوټ ورکړی ؤ چې ۸،۱۰۹،۴۹۳ رای پاڼې اچول شوې وې، چې ۳۷,۶ سلنه یې د رایې اچونې په ښځینه ځایونو کې اچول شوې وې. د رایې اچونې په ځای کې د شمېرنې پرمهال د اچول شویو رایو له جملې څخه یې ۱۳۶،۷۶۶ رای پاڼې (۱,۶۸ سلنه) باطلې شوې وې. وروسته بیا د ټاکنو خپلواک کمېسیون د پرېکړې پر اساس د پاتې ۷،۹۷۲،۷۲۷ سمې رای پاڼو څخه ۲۵،۰۰ ۲نورې رایې هم باطلې شوې وې.[63] په دې سره د دواړو کاندیدانو ټولې سمې رای پاڼې ۷،۹۴۷،۵۲۷ شوې، چې ډاکټر اشرف غني ۴،۴۸۶،۸۸۸ رایې (۵۶,۴۴ سلنه) او ډاکټر عبدالله ۳،۴۶۱،۶۳۹ (۴۳,۵۶ سلنه) رای ترلاسه کړې دي.

## 12. د دویم پړاو ټاکنو له ورځې وروسته انکشافات

### الف. د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د اجرایوي رییس استعفا:

د ټاکنو په ورځ په کابل کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په شاوخوا کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د اجرایوي رییس ضیاالحق آمرخېل د ساتونکو او افغان ملي پولیسیو د موظفینو ترمنځ د جلال آباد پر لویه لاره یوه پېښه رامنځ ته شوه. د پولیسو لخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون په اجرایوی رییس پورې اړوند د موټرو هغه کاروان په لاره کې ودرول شو چې د رپوټونو له مخې یې ظاهراً احتیاطي رای پاڼې په کابل کې د رایې اچونې د دوو ولسوالیو هغو ځایونو ته لېږدولې چې د اضافي رای پاڼو غوښتنه یې کړې وه. د ورکړل شویو رپوټونو له مخې د ښاغلي امرخېل د ساتونکو لخوا د پولیسو هغه افسران وګواښل شول چې دوی ته د درغلۍ د ترسره کولو په شک د ایسارو شویو رای پاڼو د پرېښودو اجازه ور نه کړل شوه. د درغلیو د دغو تورونو ملاتړ د کابل د امنیې قوماندان ظاهر "ظاهر" لخوا کېدو. د یادونې وړ ده چې رامنځ ته شوې پېښه د هغو ادعاوو په تعقیب واقع شوې چې په وار وار د ټاکنو د کمپاین په جریان کې ترسرګو شوې وې چې د کورنیو چارو وزارت د یوه کاندید څخه په ملاتړ او د ټاکنو خپلواک کمېسیون د بل کاندید پر وړاندې په یو اړخیز قضاوت تورنېدل.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون ومنله چې د احتیاطي ټاکنیزو موادو اړوند کړنلارې د دې کمېسیون د دارالانشاء لخوا په جدیت سره نه وې تعقیب شوې، خو په لومړي سر کې دغه پېښه ناسم پوهاوی بلل شوی ؤ او پولیس له خپلو صلاحیتونو څخه په تجاوز کولو سره تر کلکې نیوکې لاندې راغلل. خو بیا هم، په دې منځ کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون پر وړاندې د ډاکټر عبدالله د ټیم لخوا زیاتېدونکې نیوکې او د خلکو زیاتېدونکې اندېښنه، په ځانګړې ډول د ټاکنو د اجرایوي مشر د تبعیض په برخه کې، د ټاکنو خپلواک کمېسیون موافقه وکړه چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون او کورنیو چارو وزارت له منسوبینو څخه مشترکه کمېټه جوړه کړي، څو د ټاکنو خپلواک کمېسیون د اجرایوي رییس پر وړاندې د درغلیو اړوندو مواردو پلټنه او څېړنه وکړي.

د جون میاشتې په ۲۲ مه نېټه د ډاکټر عبدالله د ټاکنیز کمپاین لخوا هغه صوتي ریکارډونه نشر شول چې د دوی په آند په دغو ریکارډونو کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون اجرایوي مشر لخوا لاربښوونه کېدله چې د رای پاڼو صندوقونه باید د ډاکټر غني په ګټه ډک کړل شي. خو د عبدالله د ټاکنیز کمپاین ټیم د دغو ریکارډونو د سرچینې له افشاء کولو څخه ډډه وکړه. په همدې وخت کې ډاکټر عبدالله د ټاکنو خپلواک کمېسیون او ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون سره خپل کارونه وځنډول او هممهاله د یوناما تر څارنې لاندې د نړیوالې ټولنې لخوا هم د منځګړیتوب خبرې د دې لپاره روانې وساتل شوې، څو نوموړی بېرته ټاکنیز بهیر ته ورستون کړي.

د جون په ۲۳ مه نېټه د ټاکنو خپلواک کمېسیون یو مطبوعاتي کنفرانس راوغوښت، چې د دې مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې ښاغلي امرخېل د درغلیو د ټولو تورونو په ردولو سره له دندې لاس په سر شو او زیاته یې کړه چې د ده استعفا د ټاکنو او په هېواد کې د ولسواکۍ د بنسټ او بهیر د خوندیتوب په برخه کې یوه هڅه ده. د امرخېل پر وړاندې د پاروونکې درغلۍ د مسوول بللو په موخه شکایت درج شو، خو د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون لخوا په دې دلیل و نه منل شو چې دې کمېسیون له مدعي څخه د دوی د ربښتینوالۍ او تصدیق په موخه د اصلي صوتي ریکارډونو د ورسپارلو غوښتنه وکړه او هم یې د خپلو معیارونو په پام کې نیولو سره د وړاندیني شرط په توګه او د دې لپاره چې موضوع تر غور لاندې ونیول شي د اصلي سرچینو د افشا کولو غوښتنه وکړه. وروسته بیا د ډاکټر عبدالله ټاکنیز کمپاین د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون پر مشر هم د تبعیض د تورونو په لګولو سره نیوکې وکړې او د

---

[62] د رای شمېرنې ملي مرکز (NTC) د شمېرنې پروسو هغو نویو معلومات و په اړه قضاوت کول چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون به هره ورځ د ټاکنیزو همکارانو سره شریکول څرګندیږي چې په لومړي سر کې د لومړنیو نتایجو د اعلان په موخه د جولای ۲ مه د وروستۍ نېټې په توګه په پام کې نیول شوې وه.

[63] د ټاکنو خپلواک کمېسیون په خپله پرېکړې سره په ۱۳ ولایتونو کې د رایې اچونې د ۵۰ ځایونو ټولټال ۲۵،۲۰۰ رایې د رای پاڼو د صندقونو د بندولو یا رایه ورکوونکو یا رایې اچونې د کارکوونکو پر وړاندې د ګواښونو له کبله باطلې کړې وې.

نوموړي د استعفا غوښتنه يې هم وکړه.

**ب. د ټاکنو د خپلواک کمېسيون تفتيش**

لکه څرنګه چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د رايې اچونې له ځايونو څخه د نتايجو د فورمو د ترلاسه کولو لپاره يو کارنده لړۍ درلوده او د رای شمېرنې ملي مرکز هم د معلوماتو د ثبت منظمه پروسه درلوده، خو دوی په دی باندی نه پوهېدل چې آيا د نتايجو د هغو فورمو معلومات چې د رايه ورکوونکو د اچول شويو واقعي رايو استازيتوب کوي يا دا چې نتايج د رای پاڼو د صندقونو د ډکولو په څېر د درغليو سنجول شوي نتايج دي. له همدې امله د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ټاکنو په دواړو پړاونو کې د بېلابېلو ورتياوو پر اساس يو شمېر پلټونکي په دندو ګمارلي وو، څو د رای پاڼې د يوه صندوق د محتوياتو د څېړلو د وخت په هکله پرېکړه وکړي.

هر هغه طرحه چې د يوه بهير په ترڅ کې د فعاليتونو له اجرا وروسته وړاندی کيږی د فساد د بنسټيزو لاملونو د تشخيص په موخه وړاندی کيږی نه د درغليو او فساد د له منځه وړلو او يا د مخنيوي په موخه . د وخت څخه وړاندې د دې ډول طرحو اعلانول کولای شي چې هغه چا ته د پام وړ معلومات ورکړي چې د درغلی يا فساد نيت ولري او له دغو طرحو څخه د خلاصون په موخه د تېښتې د څرنګوالي په لټه کې وي. خو له بل لوري بيا د رايې اچونې څخه وروسته د دا ډول طرحو اعلانول هغه څه دي چې روڼتيا کمرنګه او کېدای شي د داسي انديښنو د راټوکېدو لامل شي چې له مخې يې د يادې خاص طرحې څخه په ګټې اخيستنې سره د ځانګړي کانديد په ګټه وکارول شي. د يادونې وړ ده چې د پرېکړې په بهير کې د دې تشخيص د اهميت وړ دی چې د تطبيق وړ کومې طرحې په احتمالي ډول سياسي بڼه غوره کوي. هغه رايې چې د ځانګړي کمېښت له کبله يې د رايو د نهايي شمېر حد تر خپلې سيورې لاندې راوستلی شي د محاسبې وړ دي او له څنګ پرته دا په ګوته کوي چې آيا وروستۍ طرحه د دواړو کانديدانو ترمنځ د رايو پر کچه بالقوه اغېز کولای شي او که نه؟، څو په دې ډول نتايجو ته بدلون ورکړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون رسماً د ټاکنو د دويم پړاو په پای کې د پلې کېدو وړ طرحې تصويب کړې، نه دا چې د لومړي پړاو ټاکنو د ورځې څخه وروسته. په دغو طرحو کې د نتايجو هغه فورمې چې د اړتيا سره سم نه ټاپه شوې او نه هم لاسليک شوي وې، د رايې اچونې د ځايونو لخوا غوښتل شوې د رای پاڼو احتياطي بکسو چې د کانديدانو ترمنځ په برابر ډول ۶۰۰ وېشل شوي رايې، هغه رای پاڼې چې غبرګې شوې نه وې، مشابه يا ورته نښې لرونکې رای پاڼې، د رای پاڼو په نښه کولو "د کړنلارو خلاف،" او د ښځو نامناسبې رايې شاملې وې.[64] دويم ځل شمېرنه (پرته د لومړنی تفتيش څخه) د دې لپاره په لار اچول شوې وه چې که چېرې د کمپيوټر په وسيله د جمع شويو رای پاڼو مجموعه مساوي يا هم د ۶۰۶ رای پاڼو څخه زياتې وي (۶۰۰ + ۱ سلنه).[65] په پايله کې د هغو نتايجو فورمې چې د رای پاڼو مجموعه يې له ۶۰۱ څخه تر ۶۰۵ پورې وه د سمو رايو په توګه منل شوې وې. د ټاکنو په لومړي پړاو کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون او ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون د مشترکو هڅو په ترڅ کې د ۱،۹۶۴ رايې اچونې ځايونو نتايج وپلټلې او د ۸۱۰ د انتخاباتی موادو د بستې د بيا شمېرنې حکم وکړ، او د صادر شوي حکم پر بنسټ ۲۳۳،۲۱۹ رايې باطلې کړای شوې.

د وروستۍ ټاکنو څخه دوه ورځې وړاندې، د ټاکنو خپلواک کمېسيون د دويم پړاو ټاکنو لپاره د ټاکنيزو پلټنو اړوند اقداماتو يوه نوې او متفاوته مجموعه تصويب کړه. نويو تصويب شويو طرحو د رايې اچونې د ځايونو د نتايجو په فورمه کې بايد درې کليدي هغه ځانګړتياوې په ګوته کړې چې له هغې څخه لږ ترلږه دوه يې بايد د رای شمېرنې د ملي مرکز د منلو وړ وی: د رايې اچونې د ځای د رييس لاسليک، د دواړو کانديدانو د استازو لاسليکونه، او د رايې اچونې د ځای ټاپه. د رايې اچونې هر هغه ځای د تفتيش لپاره استول کېدو چې دا معيارونه به يې نه وو پوره کړي.

د دې پرېکړې د شروطو مطابق که چيرې د رايې اچونې د ځای د نتايجو فورمه په مناسبه توګه ټاپه، لاسليک او ټولټال محاسبه شويو له ۶۰۰ رای پاڼو څخه تجاوز نه کاوه، نو نتايج به تر پوښتنې لاندې نه راتلل؛ د نتايجو د شمېر په ۵۰ او ۱۰۰ کې ضربېدو، يا دا چې د ښځو د رايې اچونې په هغو ځايونو کې به ډېرې رايې اچول چې په احتمالي ډول به د درغلی شک پرې کېدو په دې طرحو کې نه و شامل. په پايله کې د رايې اچونې څخه وروسته د رايې اچونې ۲۹۹ ځايونه پلټل شوي و او له سره شمېرل شوي و. د يادونې وړ ده چې له دې جملې څخه ۹۳۴ رايې چې ۲۵۰ يې د ډاکټر غني او ۶۸۴ د ډاکټر عبدالله لپاره اچول شوې وې باطلې کړای شوې.

د جون مياشتې په ۱۸ مه نېټه ډاکټر عبدالله خپل استازي د رای شمېرنې د ملي مرکز څخه و ايستل او ټاکنو د خپلواک

[64] د اپرېل د مياشتې په ۱۲ مه نېټه د ټاکنو د خپلواک کمېسيون ۲ نمبر پرېکړه (د رايې اچونې د مشکوکو ځايونو او مرکزونو د رايو پلټل او بيا شمېرل)؛ د اپرېل د ۱۵ مې نېټې ۳ نمبر پرېکړه (د استازو او رايې اچونې د ځای د رييس د لاسليکونو او ټاپې پرته د نتايجو فورمې)؛ د اپرېل د ۱۷ مې نېټې ۵ نمبر پرېکړه (د تفتيش او تفتيش په پايله کې د لغو کولو او باطلولو په هکله مقرره)؛ او د اپرېل په ۲۳ منه نېټه ۸ نمبر پرېکړه (د ۵ نمبر پرېکړې په ورته عنوان).

[65] د رايې اچونې د کابو ۴۰ هغه مرکزونه چې ۶۰۶ يا له دې څخه ډېرې رايې يې لرلې په رسمي ډول د لومړي پړاو په نتايجو کې منل شوي وې. په دويم پړاو کې د ۱ سلنې تېروتنې شرط هم له پامه وغورځول شو او د رای پاڼو هغه صندوقونه چې د ورکړل شوی ريپوټ له مخې به له ۶۰۰ رای پاڼو حخه ډېرې وې په اتومات ډول له سره شمېرل کېدې.

کمېسيون او ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون سره يې خپله همکاري وځنډوله، ځکه چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ډاکټر عبدالله لخوا د دې امله تر پوښتنې لاندې راغی چې د لومړنيو معلوماتو له مخې يې د ټاکنو په ورځ د رايه ورکوونکو د ګډون شمېر د ۷ ميليونو څخه ډېر اټکل کړی ؤ چې دا نوموړي په اند له حد څخه ډېر وو[66]. د يادونې وړ ده چې د ټاکنو هغو غېررسمي نتايجو هم د نوموړي په غبرګون کې د پام وړ اغېزه درلوده چې د ناڅرګندې منبع لخوا نشر او د نوموړي سيال کانديد ډاکټر غني په څرګند ډول بريالی ښکارېدو. له دې وروسته د ده او د ټاکنو د خپلواک کمېسيون ترمنځ يو لړ ليکونه تبادله شول چې په هغې کې د ۷ ميليونو خلکو د ګډون څرنګوالی تشريح شوی ؤ او ډاکټر عبدالله هم په خپل وار سره د ټاکنو د خپلواک کمېسيون د دارالانشاء اجرايوي رييس د استعفا ترڅنګ ټاکنيز بهير ته د بيا ور ننوتو د وړانديني شرط په توګه په شمېرل شويو نتايجو کې د باطلولو د معيارونو او تفتيش د يو شمېر پراخو اقداماتو د تطبيق غوښتونکی شو.

د دغو پرمختګونو په رڼا کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د جون په ۲۵ مه نېټه په علني توګه اعلان وکړ چې د باور ترلاسه کولو په موخه به نوموړی کمېسيون په هر ولايت کې د رايې اچونې په سلو کې ۱۵ نور اضافي ځايونه هم وپلټي. خو بيا هم دغه پلان نه ؤ تطبيق شوی. اما برعکس د جون په ۲۹ مه نېټه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ۵۹۹ يا له دې څخه د ډېرو (د رايې اچونې ۱،۹۳۰ محلونه، يا د ټولټال ځايونو له جملې څخه ۸ سلنه) د رايې اچونې د ټولو ځايونو د علني تفتيش اعلان وکړ. دا پلټنه د هغو اصلي اقداماتو سربېره وه چې د دويم پړاو تفتيش په هکله يې وړاندوينه شوې وه. د يادونې وړ ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون لخوا د "۵۹۹ جمع" د طرحې له مخې چې د جولای په لومړۍ نېټه پلټنه پيل شوې وه، د ادعا له مخې په دې معنی وه چې د کمېسيون دا ګام له سياسي پلوه بې پلوه څرګند کړي.

د "۵۹۹ جمع" د طرحې په چوکاټ کې د رايې اچونې د ۱،۹۳۰ ځايونو د اضافي تفتيش چارې د جولای په لومړۍ نېټه پيل شوې وې چې له مخې يې د ۱۰،۸۵۵ باطلو شويو رايو څخه ۶،۴۲۷ د ډاکټر غني او ۴،۴۲۸ د ډاکټر عبدالله وې. دا په داسې حال کې وه چې د ډاکټر غني استازو د ټاکنو په بهير کې ګډون کړی وو، خو د ډاکټر عبدالله نمايندګان له دې بهيره وتلي وو. د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم د کابل ولايت د تفتيش له بهير څخه ليدنه وکړه او د پلټنو لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسيون لخوا تصويب شوی د ۱۱-پوينټ د چېکلسټ د تطبيق د څرنګوالي په اړه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ټاکنيزو پلټنو دوو کسيزو ټيمونو د ترمنځ د پام وړ توپير يې په ګوته کړی ؤ.[67] په دې ترڅ کې د پلټنو ټيميونو لخوا يو شمېر پرتله شوې رای پاڼې ليدل شوې چې نښې يې کټ مټ يو شان وې؛ دغه ټيمونه نورې رای پاڼې د نورو پرتله شويو رای پاڼو سره نه وې په نښه کړې، خو رای پاڼې به يوازې يو ځل له سترګو تېرولې.

د دې تفتيش د بشپړېدو وروسته او تر زياتېدونکي او سخت فشار لاندې د دواړو د جمهوري رياست کانديدانو يا هم د دوی په استازيتوب ډېری وختونه متضادې غوښتنې کېدې، چې باالآخره د ټاکنو خپلواک کمېسيون د پلټنو نتايج او بيا د دويم پړاو ټاکنو لومړنۍ نتايج اعلان کړې.[68] خو څرنګه چې د لومړنيو خپرو شويو نتايجو سره سم د ټولو اچول شويو رايو په پام کې نيولو سره د ډاکټر غني رايې تقريباً يو ميليون ډېرې وې چې د ډاکټر عبدالله لخوا د پلټل شويو رايو نتايج د منلو وړ نه وې او د ټاکنو خپلواک کمېسيون د چارواکو په اړه يې خپلو تنقيدي پوښتنو ته دوام ورکړ.

څرنګه چې د ټاکنو پر خپلواک کمېسيون پراخې نيوکې کېدې او دغو نيوکو د دې کمېسيون پر خپلواکۍ منفي اغېز کړی ؤ چې په پايله کې يې د پرېکړې کولو صلاحيتونه او واکونه محدود کړل. خو د سياسي کړکېچ په رابرسېره کېدو او د جمهوري رياست د دوو کانديدانو ترمنځ د يوه مصلحت په موخه د نړيوالې ټولنې مداخلې د ټاکنو خپلواک کمېسيون په زياتېدونکي ډول يوې خوا ته کړ او د کمېسيون په دې ډول ځنډې کولو کې د اجرايوي رييس ناڅاپي استعفا هم خپل اغېز درلود. سره له دې چې د تفتيش چارې په هراړخيز ډول پيل شوې وې، د ټاکنو خپلواک کمېسيون هم خپل کار ته چټکتيا ورکړې وه او د موجودو ستونزو په حل يې لاس پورې کړی ؤ.

**بشپړ تفتيش**

د ډاکټر عبدالله او د هغه د ټاکنيز کمپاين د ټيمونو لخوا د ټاکنيزو ادارو پر وړاندې د راپورته شويو انتقادونو د حل د يوې هڅې په ترڅ کې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د جولای په ۱۴ مه نېټه پرېکړه وکړه چې د رای پانو ټول صندوقونه د درغليو يا فساد د نښو د تشخيص او بشپړې څېړنې په موخه کابل ته راوړل شي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ۲۷

66 د دويم پړاو ټاکنو د ورځې ماښام ناوخته، د ټاکنو خپلواک کمېسيون رييس وويل چې: "په داسې حال کې چې د وروستيو ارقامو نهايي کولو ته لا هم وخت شته، خو لومړنيو نښو څخه څرګنديږي چې په ټاکنو کې له ۷ ميليونو څخه ډېرو خلکو ګډون کړی دی"، لاندې لينک وګورئ: http://www.iec.org.af/media-section/press-releases/387-electionday-news.

67 د ۱۱-پوينټو چېکلسټ د ټاکنو خپلواک کمېسيون د جون مياشتې د ۲۰ نمبر پرېکړې د يوې برخې په توګه تصويب او تاييد شوی ؤ. په دې کې د غېرمنظمو نښو د پلټنو په ګډون د شنو صندقونو او د هغې اړوندو محتوياتو بشپړې څېړنې موجودې وې.

68 د جولای د مياشتې د ۵ مې نېټې، د ټاکنو خپلواک کمېسيون ۲۶ نمبر پرېکړه "د ۱،۹۳۰ د پلټل شويو ځايونو د نتايجو پلټنه".

نمبر مشابه پرېکړې ترڅنګ چې په مستقیم ډول د هراړخیزې تفتیش حکم کوي د دواړو کاندیدانو ترمنځ د خبرواترو او ملګرو ملتونو او متحدو ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر په منځګړیتوب د دوی هوکړې ته په اشارې سره وایي چې د رایې اچونې ټول ځایونه باید د دواړو کاندیدانو[69] سره په مشوره د ملګرو ملتونو د وړاندیز شوي پیشنهاد سره سم وپلټل شي.

په وروستیو ورځو کې د رای پاڼو صندوقونه د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو (ISAF) لخوا په کابل کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ګدامونو ته لېږدول شوي وو، او نوموړي صندوقونه د کاندیدانو د استازو او ملي او نړیوالو ناظرانو پر وړاندې خلاص او پلټل شوي وو.[70] د تفتیش پروسه د بېلابېلو فشارونو لاندې د جولای له ۱۷ مې څخه بیا د سپټمبر تر ۱۵ مې نېټې پورې پای ته ورسېدو، خو په دغو وختونو کې نوموړې بهیر د تطبیق وړ کړنلارو یا هم د لانجمنو رای پاڼو پر سر د جنجال وروسته بیا د تفتیش د بهیر څخه د یوه یا هم بل کاندید د استازو د وتلو له امله د ځنډ او ځنډ سره مخ شوی ؤ. وروسته د ټاکنو خپلواک کمېسیون لخوا د هراړخیزې تفتیش په جریان کې د دوی د فعالیتونو د تنظیم او اداري د یوې هڅې په ترڅ کې د کاندیدانو د استازو لپاره یو طرزالعمل تصویب شو.

د تفتیش چارې د هر ډول معیارونو پر سر له موافقې پرته پیل شوې وې چې له مخې به یې د رایې اچونې ځایونو باطلول یا بیا شمېرل مطرح کېدل. د جولای میاشتې په ۱۵ مه نېټه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د تفتیش په ترڅ کې د ملګرو ملتونو لخوا د وړاندیز شویو او کاندیدانو لخوا د منل شویو پنځو ضمیمه شویو شرطونو کارول په نسبتاً وسیع توپیر سره ومنل.[71] په دې ضمیمه شویو شرطونو کې په یوه لاس د رای پاڼو په نښه کولو اړوند څېړنې، د رایې اچونې د ثبت په کتاب کې د کارت د شمېرو په مقابل کې د رای پاڼو د شمېرې پرتله کول، او د اړتیا وړ ځانګړې کره کتنې په موخه د رای پاڼو د صندقونو د پېژندلو معیارونه شامل وو. د یادونې وړ ده چې د دې مسلې تشخیص چې آیا د ځانګړو رای پاڼو په نښه کول یا دا چې د رای پاڼو د باطلولو په باوري کولو سره د یوه کاندید ماتې څرګنده شوې وه، پېچلې او لانجمنه موضوع وه.

د کاندیدانو ترمنځ تر ټولو ستر اختلاف دا و چې آیا د باطلولو لپاره د رای پاڼو هغه بیلګې باطل شي چې ناسمې او د درجعل شک پرې کیږي او که د دغسې صندوق ټول رایونه باطلې شي. دا موضوع د دواړو کاندیدانو ترمنځ د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب د خبرواترو د لړۍ د دوام اساسي ټکې ؤ چې په پایله کې د جولای په ۳۰ مه نېټه، تقریباً دوه اونۍ وروسته له هغې چې د تفتیش چارې پیل شوې وې، یوې موافقې ته ورسېدل. د هغو معیارونو او شرایطو په تعریفولو کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون ورته پرېکړه څرګنده او هراړخیزه وه چې له مخې به یې د رایې اچونې د ځای قسمي یا هم ټولې نتایج باطلېدلې.[72] په دې سره د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه دا موضوع لا روښانه کوي چې د تفتیش په بهیر کې د رای پاڼو د باطلولو یا بیا شمېرنې د غوښتنې په ګډون، ټولې پرېکړې باید د کاندیدانو، استازو او ناظرانو په حضور کې په علني غونډې کې ترسره شي.

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د پرېکړې پر اساس د تفتیش پروسې ته په کتو سره د تفتیش د نتایجو د چېکلستونو د اړوند معلوماتو ثبت او د نتایجو د فورمو بیا شمېرنه د رای شمېرنې په ملي مرکز کې ترسره شوه. د دې کار چمتووالي په موخه د ټاکنو خپلواک کمېسیون په څلورو کټګوریو (یوه کټګوري د سمو، یوه د باطلو، یوه د قسماً باطلولو او یو کټګوري هم د بیا شمېرلې شوې د رایو لپاره) کې د نتایجو د طبقه بندي کولو پرېکړه وکړه. د پرېکړې د هر پړاو لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسیون دا خبره لا باوري کوله چې دوی د بېلابېلو ولایتونو بېلانس او اړوندو کاندیدانو قوي مرکزونه په پام کې نیولې دي.

د اګست په ۳۰ مه نېټه د ډاکټر عبدالله ټاکنیز ټیم د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته د یو لیک د لېږلو په ترڅ کې ادعا کړې وه چې د رای اچونې په مشخص شمېر ځایونو کې د نتایجو پر پاڼو د ورته لاسلیکونو د موجودیت په ګډون د نتایجو په بشپړو شویو فورمو کې لاس وهنه شوې ده او د کاندید د استازو لاسلیکونه یې جعلي وبلل او غوښتنه یې کوله چې دا رایې باید له نتایجو څخه و ایستل شي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د یاد لیک په ځواب کې د ټاکنو خپلواک کمېسیون د لوړپوړي کارکوونکي او ملګرو ملتونو د ټاکنیزو سلاکارانو څخه یو ګډ پلاوی وټاکه ترڅو په دې برخه کې څېړنه وکړي او هم یې د ثبت شویو ادعاوو د سپیناوي او حل په موخه یوه مفصله کړنلاره تصویب او غوره کړه. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د هرکلي وړ د یو ګام په ترڅ کې د دویم ځل لپاره د ناظرانو او کاندیدانو د استازو پرمخ د هراړخیزې تفتیش د نتایجو په مقصد د بیا کتنې پروسه بېرته پرانیستله، او کاندیدانو ته یې د دې حق هم ورکړ چې د

69 د دواړو کاندیدانو لخوا د هراړخیز تفتیش په موخه د تخنیکي کاري چوکاټ پر سر شوې هوکړه خپره نشوه، خو داسې ښکارېده چې دا به په لویه کې یوه سیاسي هوکړه وي چې له مخې به یې د یووالي د حکومت تشکیل، د دولت د ریاستي سیستم بدلون، او په اساسي قانون کې تعدیل شامل ؤ.

70 همدارنګه د ټول هېواد څخه د رای پاڼو لېږد د دواړو کاندیدانو د استازو او ناظرانو لخوا وڅارل شو. وروسته بیا د ټاکنو خپلواک کمېسیون خبرو ورکړ چې د رای اچونې د ۲۲،۷۷۸ ځایونو د رای پاڼو ټول صندوقونه په لومړنیو نتایجو کې نه دي شامل چې ممکن د ولایتونو څخه بېرته ترلاسه شي.

71 د ټاکنو خپلواک کمېسیون د جولای د ۱۵ مې نېټه ۳۰ نمبر پرېکړه "د ټولو سل سلنې رایې اچونې د ځایونو لپاره شرایط". نوموړي شرایط وروسته د اګست په ۸ مه نېټه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د تفتیش د کړنلارې په وسیله تقویه او روښانه کړل شول.

72 د ټاکنو خپلواک کمېسیون د جولای د ۳۰ مې نېټې ۳۳ نمبر پرېکړه "د وروستي پړاو د رایې اچونې د ټولو ځایونو د تفتیش په منظور د رایو د لغو/باطلولو او بیا شمېرنې شرایط".

پرېکړو پر خلاف د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون څخه په اړوندو برخو کې د استيناف غوښتنه وکړي.

په دې توګه د ټاکنو خپلواک کمېسيون د هراړخيزې تفتيش د پای ته رسېدو د هڅو په ترڅ کې په علني ډول د کانديدانو له کمپونو څخه غوښتنو او ادعاوو ترغور لاندې نيولو ته دوام ورکړی ؤ او د ټاکنو د وروستی نتايجو د اعلان په لور مخ په وړاندې روان ؤ. نوموړي کمېسيون د پلټل شويو رای پاڼو د نتايجو په هکله د پرېکړې کولو ۹ علنی غونډې دايرې کړې وې چې د کانديدانو د استازو، ملي او نړيوالو ناظرانو، د خبري رسنيو د استازو او ملګرو ملتونو د سلاکارانو پر وړاندې پرانيستي وې او د موافقه شويو معيارونو سره سم خپل فعاليتونه پرمخ بېول.[73]

*د ټاکنو خپلواک کمېسيون د روڼتيا او حساب ورکولو د زياتوالي د يو ګام په توګه بايد د هر ډول تفتيش له پيل څخه وړاندې د انفرادي رای پاڼو د باطلولو اړوند شرايط او د رای پاڼو د ټولو صندقونو نتايج د مربوطه مقررې په بڼه اعلان کړي وای، او هم يې د جنجالي قضيې په برخه کې د تصميم نيوونکې اداری صلاحيت مشخص کړی وای.*

د يادونې وړ ده چې د ټولو پلټنو په هکله به د رای اچونې د هر نوي ځای نتايج په ډاټابيس کې د اصلی نتايجو پر ځای درج کېدل. د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونواو بشري حقوقو د اداري د ټاکنو حمايوي ټيم ته د دې موضوع په هکله خبر ورکړل شو چې دا کار د هراړخيز تفتيش په بهير کې هم ترسره او تعقيب کړای شي. په دې کار سره د رای اچونې په هغو ځايونو کې د لومړنيو او پلټل شويو ارقامو د پرتلې مخه نيول کېده چې د ارزښت وړ هغه نکتې يې په ډاګه کولای شوې چې په نتايجو کې رامنځ ته شوي تغيرات د انسان د تېروتنې يا هم د درغلی او فساد له مخې دي او هم يې د تطبيق د کيفيت بنسټيزې څېړنې ته چې په رای ځايونو کې ترسره شوی وه اجازه ورکوله. په دې ډول سره يې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د راتلونکو کړنلارو، فورمو او روزنيزو پروګرامونو د طرحې او پلان جوړونې په هکله چمتو والی نيولای شول.

*د ټاکنو خپلواک کمېسيون د روڼتيا په منظور کولای شول چې اصلي نتايج او د پلټنو په نتيجه کې تعديل شوي نتايج يو له بله بيل نشر کړي. په دې سره د پراخو پلټنو او احتمالي مطابقتونو يا درغليو لاملونه په ډاګه او په راتلونکو ټاکنو کې يې کشف شويو ستونزو ته د ځوابونو په طرحه کولو کې مرسته کولای شوای.*

## 13. شکايتونه او استيناف غوښتنې

### الف. بنسټيزحقوقي چوکاټ

د شکايتونو ترلاسه کول او په اړه يې د قضاوت کولو واک د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون او د همدې کمېسيون د ولايتي دفترونو له مسووليتونو څخه دی. د قانون له مخې رايه ورکوونکي کولای شي چې د کانديدانو د لومړني لست پر خلاف شکايت درج کړي، همدا شان، د ادعا شويو تورونو ماهيت ته په پام سره کانديدان، سياسي ګوندونه او د دوی نمايندګان هم کولای شي چې خپل شکايتونه درج کړی. د ټاکنو د قانون او ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون د کړنلارو سره سم د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون ولايتي دفترونه په ۳۴ ولايتونو کې د شکايتونو په اړه د قضاوت او پرېکړې لومړني ارګانونه دي. د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون د ولايتي دفترونو د پرېکړو پرخلاف وروسته بيا د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون څخه د شوې پرېکړې په اړه د استيناف غوښتنه هم کېدای شي. قانون په دې برخه کې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ته پراخ مسووليت او پرېکړو کولو واکونه ورکوي.

د OSCE اداري د پخوانيو سپارښتنو او وړانديزونو سره سم د نوي حقوقي چوکاټ په تصويبولو سره د يوه دايمي او مسلکي ارګان په توګه د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون تاسيس او رامنځ ته کول يو مثبت پرمختګ او پر ځای کار ؤ. او په دې برخه کې د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون کميشنران د ۲۰۱۳ کال د سپټمبر مياشتې په نيمه يې کې ګمارل شوي وو. خو د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون د نورو کارکوونکو ګمارنه د پام وړ زيات وخت لپاره له ځنډ سره مخ شوې وه چې له امله يې د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون ولايتي دفترونو د کانديدانو د نوم ليکنې په جريان او د ټاکنو د کمپاين د مودې په ترڅ کې د بشپړ فعاليت نه درلوده. د يادونې وړ ده چې دې کار د ولايتي شوراګانو د ټاکنو لپاره د ثبت شويو کانديدانو لومړني لست پر وړاندې د شکايت کولو په برخه کې د پام وړ منفي اغېز کړی ؤ. د همدې کال د مارچ مياشتې په وروستيو کې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ټولو ولايتي دفترونو په استثنا د څلورو ولايتی دفترونو، خپلې دندې په رسمي ډول پيل کړې.

د قانون سره سم د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون کولای شي چې د قانون د هر ډول نقض، درغلی يا فساد يا تېروتنې په

---

[73] په دی اړوند مفصل معلومات د ټاکنو د خپلواک کمېسيون پر ويب پاڼه باندې نشر شوي وو: http://www.iec.org.af/runoff-audit.

هکله د خبر ترلاسه کولو په صورت کې د نيوکې يا شکايت پرته هم په خپل نوښت يو شمېر قضيې تر غور لاندې ونيسي. سربېره پر دې، د امنيتي لاملونو او هغو پېښو د واقع کېدو په ګډون چې د قضاوت بهير له ځنډ سره مخ کوي په ځانګړيو او استثنايي شرايطو کې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ته هم د دې حق ورکول کيږي چې د لومړني قضاوت کوونکي په توګه عمل وکړي.[74] دا کار د هغو نړيوالو معيارونو او غوره تجربو سره په ټکر کې دی چې د سمون آغېزمنې لارې چارې او اداري پرېکړو د لومړنيو بېلګو د غوښتنې ورتيا تامينوي.[75]

*د نړيوالو معيارونو سره سم د يوه اغېزمن سمون د بشپړې باورې کولو په موخه د ټاکنو په قانون کې تعديل بايد په پام کې ونيول شي، تر څو د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون پر پرېکړو د قضايي قوا څرګند نظارتي رول تامين کړي.*

د ټاکنو قانون د ټاکنيزو سرغړونو په څېر د تطبيق وړ هغه مجازات په ګوته کوي لکه يوې ټاکنيزې اداري ته د ګواښنې، ويرول يا پر کانديدانو يا رايه ورکوونکو بريد کول، ټاکنيزو اداره ته ناسمه معلومات وړاندې کول او همدارنګه په ټاکنيز بيهر کې د نفوذ کولو په منظور د رشوت ورکول يا ترلاسه کول يا هم د نورو امتيازاتو وړانديز چې د ټاکنيزو پروسې د اغېزمن کولو په موخه صورت موندلی شي. د يادونې وړ ده چې په دې کې د رايي اچونې د يوه کارت څخه د ډېرو کارتونو درلودلو، غېر قانوني فعاليتونو له لارې د راټولو شويو بسپنو کارولو يا بهرنی منشاء درلودلو يا هم نورې سرغړونې چې د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون يا د ټاکنو د خپلواک کمېسيون لخوا د صادرو شويو مقرراتو يا کړندود په ګډون هغه سرغړونې شامليږي چې په قانون کې يې يادونه شوې ده.

د کانديدانو استازو ته يو لړ پراخ کاري حقونه ورکول کيږي. دوی د نيوکې يا انتقاد د سپارلو يا هم د شکايت د درجولو حق لري، په داسې حال کې چې ملي څارونکي ګروپونه يوازې د هغو موندنو په اړه د رپوټ ورکولو حق لري چې د خپلو څېړنو او څارنو په ترڅ کې يې ترلاسه کړي وي، خو د دې حق نلري چې په رسمي توګه شکايتونه درج کړي. په احتمالي ډول د ټاکنيزو موضوعاتو په اړه د سرغړونو پر وړاندې د ناظرانو لخوا د شکايتونو درجولو نشتوالی د اغېزمن قانوني سمون په برخه لاس رسی محدودوي او هم د دې بهير مشروعيت تر خپلې سورې لاندې راولي. د يادونې وړ ده چې په ورته وخت کې نړيوالو ناظرانو ته هم د دې حق ورکړل شوی دی چې د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون سره خپل شکايتونه ثبت کړي.

*د باورليک لرونکو ملي ناظرانو او څارونکو ګروپونو ته د ټاکنيز کمپاين په جريان کې او هم د ټاکنيزو نتايجو پر وړاندې او د کمپاينونو په بهير کې د غېر قانوني کړنو په ګډون د ټاکنيزو شکايتونو، پرېکړو او ټاکنو د کمېسيونونو د کړنو او فيصلې په هکله د شکايتونو درجولو د حق په ورکولو سره د ټاکنو په قانون کې تعديلات راوړل شي.*

کله چې د ټاکنو قانون د ټاکنو خپلواک کمېسيون او ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون اړوند مسووليتونه ټاکي، نو په دې برخه کې د نورو موضوعاتو ترڅنګ د ثبت شويو کانديدانو د لومړني لست پر سر د ننګونو د واک او ټاکنو وروستيو نتايجو په هکله يو لړ ضد او نقيص احکام موجود دي.

د ټاکنو قانون او ټاکنو د خپلواک کمېسيون مقررې د کانديدانو د ثبت کولو په هکله او د ټاکنو دشکاياتو خپلواک کميسيون طرزالعمل چې د شکاياتو د درجولو او دټاکنيزو ستونزو او شکاياتو په هکله جوړ شوی د نوماندانو د نوم ليکنی پروسه تنظيموی، خو د دې ترڅنګ د مربوطه شکايتونو د سپارلو په مقصد درې بېلابېلې نېټې ټاکي: د ۴۸ ساعتونو وروستۍ نېټه، د ۸ ورځو وروستۍ نېټه او د دوو اونيو وروستۍ موده. د درې ډوله بېلابېلو نېټو ټاکل نه يوازې دا چې قانوني توپيرونه په ګوته کوي، بلکې د دواړو کمېسيونونو ترمنځ په همغږۍ کې د ښه والي اړتيا ته هم اشاره کوي. سربېره پر دې، د ټاکنو خپلواک کمېسيون او د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون ترمنځ تفاهم ليک هغه اساسي سند دی چې د همکارۍ په غښتلتيا کې يې مرسته کړې او اړوندو کمېسيونونو ترمنځ هغه کاري اړيکې مطرح کوي چې د ټاکنيز بهير له پيلېدو څخه ډېر وروسته د ۲۰۱۴ کال د اپرېل په ۴ مه نېټه لاسليک شوی ؤ.

د ټاکنو د قانون د ۶۶,۵ مادې او د تشکيل قانون د ۲۶,۱۲ مې مادې سره سم د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون پرېکړې نهايي دي او پر وړاندې يې د استيناف غوښتنه نشي کېدای. خو بيا هم د ټاکنو د قانون د ۵۹ مه ماده او ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون او د ټاکنو د خپلواک کمېسيون تفاهم ليک د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته اجازه ورکوي چې د ټاکنو د وروستيو نتايجو په اړه د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون پرېکړه وننګوي. د يادونې وړ ده

---

74 د ټاکنو قانون، ۶۶,۱ مه ماده او تشکيلاتو د قانون ۲۶,۸ مه ماده. سربېره پر دې، د ټاکنيزو ننګونو او شکايتونو په هکله د قضاوت او ثبت په اړه د ټاکنيزو شکايتونو د خپلواک کمېسيون د کړنلارې په ۳۱ مه ماده کې استثنايي حالات او شرايط هم ثبت شوي دي.

75 د ICCPR د ۲ مې مادې (۳) مې فقرې د (ب) بند حکم کوي چې، "د دې باوري کولو په موخه چې هر څوک د دا ډول سمون ادعا کوي د نوموړي حق بايد سربېره پر دې د صلاحيت لرونکي قضايي، اداري يا هم قانوني مراجعو، يا هم د هرې بلې هغه صلاحيت لرونکې مرجع لخوا تعين شوی وي چې د دولت د قانوني سيسټم لخو جوړه شوې وي، او همدارنګه د قضايي سمون د امکاناتو د رامنځ ته کولو په برخه کې." د OSCE د ۱۹۹۰ کال د کوفن‌هاګن د هغه سند ۵,۱۰ مه فقره وګورئ چې وايي: "د اداري پرېکړو پر وړاندې د سمون په موخه به هرڅوک يوه اغېزمنه وسيله ولري، څو په دې ډول د بنسټيزو حقونو پيروي تضمين او قانوني يووالی باوري کړي،" او په ټاکنيزو موضوعاتو کې د اروپايي شورا د وينيز ښار د کمېسيون د غوره تجربو قانون II. ۳,۳ برخه وګورئ.

چې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون مکلف دی چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته د ۲۴ ساعتونو په ترڅ کې د خپلې پرېکړې په اړه په ليکلي ډول وضاحت ورکړي. خو قانون په دې ځای کې نه ده واضح کړې چې د ټاکنو وروستيو نتايجو په هکله د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون وضاحت تر کومه بريده قانوني بڼه لري.

*د ټاکنو د بېلابېلو اداري ارګانونو اړوندو دندو او مسووليتونو د تعريف په موخه د حقوقي چوکاټ د بيا کتنې په هکله سپارښتنه کيږي، چې په هغې کې د کانديدانو د لومړنۍ لېست د ننګونې په مقصد په څرګندو ټکو کې د تطبيق وړ وروستۍ نېټې په ګوته شوې وې او هم د ټاکنو وروستۍ يا نهايي نتايجو ته منسوبه مرجع په واضح ډول په ګوته شوې وي.*

د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون د خپلو حقوقي او ولايتي همغږۍ د کارکوونکو لپاره د عامه اړيکو او پوهاوي يو شمېر فعاليتونه د ترلاسه شويو تجربو او روزنيزو پروګرامونو په ګډون په لار اچولي وو. خو بيا هم د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون او ټاکنو د خپلواک کمېسيون ترمنځ د دواړو کمېسيونونو په رهبرۍ د وروستۍ ټاکنو په رارسېدو سره د همغږۍ يوه ګډه غونډه دايره شوه او په نتيجه کې دواړو کميسيونونه د همغږۍ د سمون اړتيا تاييد او د اړوندو ولايتي کارکوونکو د همغږۍ، چمتووالی او روزنيز کچه يې مالوم کړل. د مشترکې غونډې رپوټ د دې واقعيت په ګډون چې د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون د ولايتي دفترونو کارکوونکو اکثره وختونه د لومړنيو قانوني اصطلاحاتو د درک او پوهې د نيمګړتياوو ترڅنګ يو شمېر نورې ستونزې هم درلودې او هغه دا چې دوی اطمينان نه درلود چې د ټاکنو په ورځ د شکايتونو د درج لپاره څوک په شرايطو برابر وو او هم دا چې څنګه په سم ډول د شکايتونو فورمه ډکه کړل شي.

*پر ټاکنيز بهير د اعتماد د زياتوالي په منظور د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون بايد خپلو مالي او بشري سرچينو ته پراختيا ورکړي او وار د مخه د اړوندو شکايتونو او استيناف غوښتنو د مطرح کولو په مقصد د ظرفيت د لوړلو فعاليتونه په لاره واچوي. د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کمېسيون او د ټاکنو خپلواک کمېسيون دواړه کولای شي چې د ۲۰۱۵ کال پارلماني ټاکنو څخه وړاندې د خپلو ولايتي کارکوونکو د پوهې د کچې د لوړولو په منظور د روزنيزو پروګرامونو اړوند يوه هراړخيزه او همغږې ستراتيژي معرفي او ترغور لاندې ونيسي.*

**ب. شکايتونو ته رسيدنه**

وروسته له هغه چې د ټاکنو خپلواک کميسيون د لومړنيو کانديدانو لست خپور کړ، په مجموعي ډول ۳۲۹ شکايتونه درج شوي و چې ۳۱۶ يې نارينه و او ۱۳ يې ښځو د ولايتي شورا لپاره د کانديدانو په هکله درج کړي شوی وو. بر سيره پر هغو د ټاکنيزو شکايتونو خپلواک کميسيون ۱۰ قضيې د جمهوري رياست د کانديدانو په هکله تر غور لاندې ونيوې. دغه راز د شکايتونو کميسيون د ټاکنو د قانون د ۶۴مادې مطابق د ۲۲۱۲ ولايتي کانديدانو اسناد وکتل او نهايي لست يې د مارچ په ۱۹ د ټاکنو د خپلواک کميسيون د اجرااتو د مهال ويش څخه بهر او د کمپاين د پيل څخه مخکې تيار کړ. د شکايتونو کميسيون ۳۰۰۴ قضيې د ټاکنو د پيل څخه مخکې د کانديدانو د په شرايطو برابريدو په هکله ترلاسه کړې چې په نتيجه کې د ديری دغه کانديدانو وړتيا مسترد شوی.[76]

بر سيره پر دې د شکايتونو کميسيون ۲۱۳۳ شکايتونه د لومړيو ټاکنو د ورځې په هکله ترلاسه کړل. د شکايتونو د کميسيون د ټاکنيزو ننګونو او شکاياتو د طرزالعمل مطابق ټول شکايتونه د الف، ب، ج او د په کټه ګوريوسره ويشل شوي و. [77] د ټولو شکايتونو له جملې څخه ۹۲۱ شکايتونه تر الف کټه ګورۍ لاندې تنظيم شوي چې د ټاکنو پر نتايجو مستقيمه اغيزه لري. د ټولوثبت شويو شکايتونو له جملې څخه ۴۶۳ شکايتونه د جمهوري رياست د کانديدانو په هکله، ۵۲۸ د ولايتي شورا لپاره د کانديدانو په هکله او ۱۱۴۲ يې د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کارمندانو پر خلاف درج شوي و.

له هغه وروسته چې د ټاکنو خپلواک کميسيون د اپريل په ۲۶ د جمهوري رياست د لومړي دور لومړني نتايج اعلان کړل په مجموعي ډول ۱۲۱ شکايتونه يې په اړه درج شوي و چې اکثره يې د ډاکټر عبدالله د ټيم د کسانو لخوا و. د اکثرو دغو قضاياو په هکله د امنيت د خرابوالي له امله د شکايتونو کميسيون معلومات ورنکړل چې دغه کار د پروسې شفافيت تر سوال لاندې راوست. اکثر شکايتونه درايو د صندوقونو، د ناظرينو د حقوقو د نقض، د رايه اچونکو د تهديد، د ټاکنو په ورځ کمپاين کول، او تقلبي رايو په هکله و.

که څه هم په لومړي دور ټاکنو کې د شکايتونو د کميسيون ولايتي دفترونه د شکايتونو د ځواب ويلو يوازنی مرجع وه خو

---

76 د شکايتونو د کميسيون احصايه پلاندې لينک کې وګورى:See IECC statistics at

77 د ټاکنيزو قضيو درجه بندي د شکايتونو د کميسيون د شکاياتو د رسيدنې په لارښود کې (الف) چې د ټاکنو پر نتايجو مستقيمه اغيزه کوي (ب) چې هغه قضيې چې د تعزيراتو سبب کيږي، (ج) هغه قضيې چې د شکايتونو شروط نه شي پوره کولای او (د) هغه قضيې چې د شکايتونو د کميسيون د صلاحيت څخه بهر دي.

د شکايتونو کميسيون په مرکز کې لومړی د ولاياتو شکايتونه تر غور لاندې ونيول او دغو دفترونو هم پرته لدې چې په خپله څېرنه وکړي مرکز ته به يې شکايتونه راجع کول.

په مجموعي ډول، د شکايتونو کميسيون د مي د ۴ څخه تر ۹ پورې شپږ غونډې لرلې او د الف د کټګورۍ ۸۹۱ شکايتونه يې تر غور لاندې ونيول چې پکې ۶۴ قضيې د شکايتونو د کميسيون د ولايتي دفترونو د پريکړو په هکله استئناف غوښتنې وې او ۲۱ يې د لومړيو نتايجو په هکله وې. د اکثره شکايتونو په هکله شواهد نه و موجود او يا هم بې ارتباطه او نيمګړي و چې پايله يې د شکايتونو د رديدو څخه نورڅه نه و.

که څه هم د شکايتونو کميسيون شکايتونه د رسنيو او همکارانو تر مخ تر غور لاندې ونيول خو د شکايتونو په اړه پريکړې د تړلو دروازو شاته وشوې چې دغه کار د شکايتونو د کميسيون د طرزالعمل د ۴۷ مادې او د نړيوالو قوانينو او قبول شويو اصولو پر خلاف عمل و چې شفافيت ته اړتيا درلوده تر څو رايه اچونکي پدې پوه شي چې د دوی حقوقو ته درناوی شوی دی.[78] د شکايتونو کميسيون ادعا وکړه چې په عام محضر کې د شکاياتو په هکله د پريکړو د اعلانولو حق نلري ځکه چې د ټاکنو کميسيون په حقوقي ډول د نتايجو د اعلان مسوليت درلود. په لومړي پړاو کې د ټاکنو کميسيون د شکايتونو د کميسيون پريکړې د اضافي صفايي له غوښتلو پرته منظورې کړې او وروسته يې نتايج اعلان کړل.

*قانون بايد د شکايتونو د کميسيون د پريکړو او اجراآتو د شفافيت غوښتونکی شي. په عام محضر کې د شکاياتو په هکله د پريکړو اعلان بايد په قانون کې وضاحت ولري او بايد داصولو مطابق وي تر څو د شخړو د حل پروسه د نړيوالو معيارونو سره سم تر سره شي.*

په عام ډول د شکايتونو د فيصلو او څېړنې په نتيجه کې د ۵۲۵ رايو اچونو د مرکزونو نتايج د ټاکنو د کميسيون لخوا باطل کړای شول او د ۳۳۱ رايو اچونو د مرکزونو نتايج د شکايتونو د کميسيون لخوا باطل اعلان شول. د ټاکنو کميسيون د ۵۲۵ مرکزونو له جملې څخه يوازې د ۳۶۵ محلونو د باطل شويو اوراقو نتايج اعلان کړل او بيايې د ارزونې لپاره د شکاياتو کميسيون ته يې وسپارل. او پدې کار سره اړوندو مراجعو د شکاياتو په هکله د څېړنې او درجولو نه بې برخه کړ.

*د دې لپاره چې په حقوقي ميعاد کې د ټاکنو دباطلې شوی نتايجو په هکله د شکايتونو د تسليمولو فرصت برابر شي، د ټاکنوخپلواک کميسيون بايد له ځنډ څخه پرته د ټولو مرکزونو د باطل شويو رايو لست په يوه ساده او آسان فارمټ کې خپور کړي.*

د شکايتونو کميسيون د ولايتي شوراګانو په هکله ۲۹۱۸ شکايتونه ترلاسه کړل چې ۱۲۸۳ يې د رايه اچونې او رايې شميرنې، او ۱۶۳۵ يې د لومړنيو نتايجو په هکله و چې دغه شکايتونه په ۶ پړانيستو غونډو کې تر غور لاندې ونيول شول. د ټاکنو د قانون د ۶۳،۵ مادې مطابق د شکايتونو کميسيون بايد شکايتونو ته رسيدنه د ټاکنو د ورځې نه وروسته په يوه مياشت کې د ننه ترسره کړي او ويې نه ځنډوي. د شکايتونو کميسيون د ولايتي شوراګانو په هکله شکايتونو ته رسيدنه د مي په ۳۱ نيټه پيل کړه خو په حقوقي ميعاد کې يې د ننه نهايي نشوی کړای. د شکايتونو په هکله پريکړې د د ټاکنې څخه د حمايت هيآت تر تلو وروسته هم وځنډيدې.[79]

*په حقوقي ميعاد کې د ننه شکايتونو ته د رسيدنې په خاطر بايد زياتې هڅې وشي. قانون بايد د هغو شکايتونود پريکړو ميعاد چې په مستقيم ډول د شکايتونو کميسيون ته رسيدلي دي واضح کړي او د ټاکنو په وخت کې دغه پروسې چټکه کړي.*

د جمهوري رياست له دوهم پړاو ټاکنو نه مخکې، د شکايتونو کميسيون د کمپاين اړوند ۱۱ شکايتونه ترلاسه کړل چې بې اعتباره کړای شول. د ټاکنو به دوهم پړاو، د شکايتونو کميسيون د ټاکنو اړوند ۲۷۳۵ شکايتونه ترلاسه کړل چې۷۲۴ شکايتونه د الف کټګورۍ لاندې راغلل. په مجموعي ډول ۹۹۱ شکايتونه د ټاکنو د کميسيون د کارمندانو، ۵۰۷ د دولت د مامورينو، پوليسو، او محلي کارکونکو او ۱۲۳۷ شکايتونه د دوو کانديدانو په هکله درج شول.

د شکايتونو کميسيون هغه شکايتونه هم ترلاسه کړل چې د ټاکنو کميسيون د ټاکنو په ورځ د رايې اچولو له مرکزونو له ۴ ولايتونو څخه تر لاسه کړي وو. د ټاکنو کميسيون د دغه شکايتونو تسليمول وځنډول او د شکايتونو کميسيون پريکړه وکړه چې نور شکايتونه به نه قبلوي تر څو شکايتونو ته د رسيدنې ۱۰ ورځې ميعاد پوره کړای شي. دغه پريکړه بيا وروسته رد شوه. د جمهوري رياست له لومړي پړاو ټاکنو کې د يوه مثبت انکشاف په توګه د شکايتونو کميسيون هغه

[78] دICCPR ۱۴ ماده وايي چې هر فيصله چې د قانون مطابق وي بايد په عام ډول خپره شي. دغه راز وګورۍ CDL Guidelines, II, 3.3.

[79] د سيپتمبر تر ۲۹ پورې، د شکايتونو کميسيون له ۳۴ ولايتونو څخه د ۹ ولايتونو په هکله پريکړې وکړې.

شکایتونه چې په مرکز کې ترلاسه شوی وو اړوندو ولایتونو ته راجع کړل چې د دخیلو اشخاصو لپاره یې د استناف غوښتنې زمینه برابره کړه.

د سیاسي شخړو په منځ ته راتلو سره ډاکټر عبدالله خپل پلویان د شکایتونو د کمیسیون له پرانیستو ناستو غونډو و ایستل او د شکایاتو د غور له پروسي سره یې په عام محضر د ګډون څخه انکار وکړ چې علت یې د ټاکنو په ادارو باندې د باور نه شتون وښود. خو د شکایتونو کمیسیون ۵ پرانیستي غونډې ترسره کړې چې دا هغه وخت و چې دوی د ډاکټر عبدالله وینا د شکایتونو د کمیسیون او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د پریکړو په هکله استیناف غوښتنه وبلله او په پرله پسې ډول یې ټولې ۲۵۷۶ قضیې چې د ولایتونو په کچه وې بیا وکتلې. د ۲۷۳۵ شکایتونو له جملې څخه اکثره یې رد شول، ۹ قضیو ته د اخطاریې او ۲۵ نورو قضیو ته د جریمې حکم ورکړل شو.

*شکایتونو ته د رسیدنې د اوسنې حقوقي چوکاټ او د اړوندو ادارو صلاحیتونو ته باید د ټاکنیزو پروسې د سیالی کونکو او ټولو ګډون کونکو لخوا درناوی وشي.*

کاندیدانو ۲۴ ساعته وخت درلود تر څو د لومړنیو نتایجو په اړه چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له خوا د جولای په ۷ نیټه اعلان شوې و شکایتونه درج کړي. یوازې ډاکټر غني دغه کار وکړ. د ټاکنو د ورځې او د لومړنیو نتایجو په هکله شکایتونو ته رسیدنه د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د تفتیش له امله معطل کړای شوه.

د شکایتونو د کمیسیون د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري د ټاکنو د ملاتړ ټیم خبر کړ چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د تفتیش د شکایتونو په هکله یې ۳۸۹ پریکړې کړې دي. د دغو له جملې څخه ۳۶۰ شکایتونه تایید کړای شول او ۲۹ یې رد کړای شول. پردې برسیره د شکایتونو کمیسیون ټول هغه شکایتونه باطل و شمیرل چې د دوهم پړاو ټاکنو د لومړیو پایلو په هکله و او د باطلولو علت یې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د یوه بشپړ تفتیش په لاره اچول وګڼل.

د ټاکنیزو شخړو د حل په سیستم کې د بنسټیز پرمختګ سره سره د شکایاتو درسیدنې پروسې د شکایتونو د کمیسیون د ظرفیت ټیټوالی په ګوته کړ. دغه راز د دې کمیسیون په کارمندانو کې د ظرفیت نه شتون او دوی ته د روزنې اړتیا دا وښوده چې دوی نشی کولای چې د ولایتونو په کچه مناسبه څېړنه تر سره کړي. د غه پروسه یوه سیمبولیکه پروسه وه او د شکایتونو د کمیسیون لخوا مناسبې څېړنې تر سره نه شوې او د شواهدو د وړاندی کولو او استنطاق لپاره لږ وخت ورکړل شوی و. هغه طریقه چې د شکایتونو کمیسیون د هغو پواسطه شکایتونو ته رسیدنه کوله د بشر دحقوقو د اعلامیې د ۸ مادې پر خلاف و او د ځنې همکارانو پر ادعاو باندې د نه غور لامل وشوه.[80]

*د شکایتونو کمیسیون د ټاکنو په اړه د شکایتونو د حل په برخه کې باید له ډیر رسمي تګلارې څخه کار وانخلي، په خاص ډول دغه کمیسیون باید د شکایاتو ماهیت په نظر کې و نیسي او ټول شواهد په بشپړه توګه وڅیړي. د شکایتونو کمیسیون او د هغه ولایتې څانګې باید د شواهدو په راټولو کې لا فعال رول ولوبوي تر څو د شکایتونو د حل لپاره لاره پیدا کړي او د همکارۍ فضا رامنځ ته کړي. د دې لپاره چې د شکایتونو د حل لپاره موثره لاره پیدا شي باید د شکایتونو د کمیسیون او د هغه د ولایتې څانګې د کارکونکو لپاره د قضیو د مدیریت، قضایي اداري او د قوانینو د تطبیق د مهارتونو په برخه کې روزنیزو پروګرامونو ته زیاته پاملرنه وشي.*

### 14. د نهایي نتایجو اعلان او خپرول

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د نتایجو د اعلان او خپرولو مقرره د نهایي نتایجو د اعلان او خپرولو د شروطو په هکله وضاحت نلري، یوازې دا څرګندوي چې نهایي نتایج به د ټاکنو د کمیسیون په ویب پاڼه کې اعلان او خپرېږي خو دا په ګوته نکوی چې د نهایي نتایجو اعلان د خپرولو سره یو ځای وشي. د جمهوري ریاست د لومړي پړاو ټاکنو نتایج د ټاکنو د خپلواک کمیسیون لخوا د مې په ۱۵ نیټه اعلان شول خو د ټاکنو د کمیسیون په ویب پاڼه کې د جون په پیل کې نشر شول.

د سپیتمبر په ۲۱ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون رییس ښاغلي یوسف نورستاني ډاکټر غني د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د ګټونکي په توګه اعلان کړ. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون رییس جامع تفتیش بې پایلې وباله او ویې ویل چې که څه هم دا تفتیش د اعتبار وړ او په کار کې یو بې ساری تفتیش وو خو و یې نشوی کولای چې د دواړو خواو د ادعاوو سره سم درغلي ومومي.[81] دغه راز د ټاکنو نهایي نتایج په بشپړ ډول څرګند نه شول. د سپیتمبر په ۲۹ ډاکټر غني د جمهور رییس او ډاکټر عبدالله د ملي یووالي د حکومت د اجراییه رییس په توګه اعلان کړای شول.

---

[80] د بشر دحقوقو د اعلامیې په ۸ ماده کې داسې راغلي دي : هر څوک د خلاف ورزی په وړاندې د یوې ملې محکمې لخوا د تلافی حق لري، هغه حق چې اساسي قانون او یا بل کوم قانون ورکړی وي.:

[81] د UNDP ELECT II معلومات د سیپتمبر ۱۷ – ۲۹

د ولايتي شورا د ټاکنو نتايج د ۲۰۱۴ کال د اکتوبر په ۲۵ نيټه اعلان شول.

## 15. سپارښتني

د نړيوالو معيارونو سره سم د ډيموکراتيکو ټاکنو د ترسره کولو لپاره د مدني ټولني د سازمانونو، سياسي ګوندونو، او دولتي چارواکو د غور لپاره لاندينی سپارښتني وړاندې کيږي. دغه سپارښتني بايد د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو د اداري له پخوانيو سپارښتنو سره يو ځای تر غور لاندې ونيول شي. د OSCE د ډيموکراتيکو بنسټونو او بشري حقوقو اداره حاضره ده تر څو د افغانستان د دولتي چارواکو سره د پخواني ريپوټ د سپارښتنو په تعقيب کې مرسته وکړي تر څو د ټاکنو پروسه لا پرمخ تللي شي.

### الف. د لومړيتوبونو په هکله لنډ مهاله سپارښتني

لنډ مهاله سپارښتني د ټاکنو د هغه اړخونو په هکله دي چې د ۲۰۱۵ کال د پارلماني ټاکنو څخه مخکې اصلاحات پکې راتلی شي. د دغو سپارښتنو په وروسته تعقيبي ممکني لارو کې د مقررو بياکتنه، د ټاکنو د خپلواک کميسيون او د شکايتونو د کميسيون لاربښودونه او پريکړې او د موجود حقوقي چوکاټ په عمل کې د پلي کولو لپاره د تغيراتو معرفي کول شامل دي. د شکايتونو د کميسيون او د ټاکنو د خپلواک کميسيون لاربښودونه، مقررې او طرزالعملونه بايد په مشورتي توګه تصويب کړای شي تر څو د دغو دوو کميسيونو ترمنځ همکاري لا زياته او د صلاحيتونو تکرار واقع نشي.

1. سپارښتنه کيږي چې ملي شورا د ټاکنيزو ادارو او نورو همکارانو په مشوره سره، چې پکې دداخلي څارونکي ډلې شاملې دي بايد د نوي جوړ شوي ټاکنيز حقوقي چوکاټ د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د تجربو په پام کې نيولو سره د دغه چوکاټ عملي تطبيق ارزونه ترسره کړي تر څو راتلونکي ټاکني لاهم په ښه ډول ترسره شي.
2. د نړيوالو معيارونو او تجربو مطابق، د ټاکنو دپاره قانون جوړونی بايد د ټاکنو د پيل څخه مخکې تصويب شي تر څو ټاکنيزو همکارانو او رايه اچونکي کافي وخت ولري چې په هغه اصولو او قواعدو ځان پوه کړي چې په ټاکنو کې پلي کيږي.
3. د کانديدانو د ثبت په اړه حقوقي احکام او طرزالعملونه بايد اصلاح کړی شي او د دوی د کانديداتوری د وړتيا لپاره د ارزوني د نتايجو په هکله دوی ته پوره معلوماتورکړای شي او دا ورته په ډاګه شي چې د دوی په اسنادو کې څه ستونزې موجودې وې تر څو دوی ته د بيا ثبت لپاره د دوهم ځل درخواست يا استيناف زمينه برابره شي.
4. *نړيواله ټولنه بايد خپلو مرستو ته دوام ورکړي ترڅو د ستراتيژيک پلان سره سم او د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو د تجربو د تطبيق او په پام کې نيولو سره د ټاکنو د خپلواک کميسيون ظرفيت لوړ شي.*
5. د ټاکنو خپلواک کميسيون او د کورنيو چارو وزارت بايد په ګډه د رايې اچوني د مرکزونو او د ښځينه تلاشۍ لپاره د ښځينه کارمندانو د استخدام يو ښيړ پلان جوړ کړي. په دغه هکله بايد زياته پاملرنه د ټاکنو په ادارو کې د ښځينه کارمندانو روزني او ساتني ته وشي.
6. د دې لپاره چې اعتبار او شفافيت لا ښه شي د ټاکنو خپلواک کميسيون بايد خپلي فيصلي او پريکړې د څارونکو او کانديدانو د استازو په وړاندې په ښکاره سره تر سره کړي . د ټاکنو په اړه معلومات بايد د ټاکنو خپلواک کميسيون د ويب پاڼي څخه په منظم ډول عامه محضر ته په خپل وخت سره خپاره شي.
7. سپارښتنه کيږي چې مقامات بايد په غير قانوني ډول د دولتي منابعو څخه د ګټي اخيستو په مورد کې ډير حساس وي، چې پکې د حکومتي چارواکو لخوا په غير قانوني ډول د کمپاين کولو قضيي هم شاملې دي. مقامات بايد په داسي مواردو کې په جدي او موثره توګه اقدام وکړي تر څو د داسي تخلفونو مخه ونيول شي.
8. سپارښتنه کيږي چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون لخوا د رسنيو کمېسيون د اعتماد او باور د لوړوالي لپاره د رسنيزو کميشنرانو د ګمارنې په بهير کې د روڼتيا د زياتوالي لپاره نور ګامونه پورته کړل شي او باوري کړي چې له ګمارنې وروسته دې کمېسيون ته د بودجوي موضوعاتو او کارکوونکو د ګمارنې په برخه کې نور زيات مسووليت ورکول کيږي.
9. سپارښتنه کيږي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون هم په دې برخه کې اضافي ګامونه واخلي، څو باوري کړي چې د رسنيو کمېسيون د خپل مسووليت پر مهال د اړوندو فعاليتونو د پيل په موخه په کافي اندازه او پر وخت تمويل شوی دی. د رسنيو اړونده کمېسيون د کارکوونکو ګمارني او روزني په موخه د اړتيا وړ وخت او

مهال هم بايد په ځانګړي ډول په پام کې ونيول شي.

10. داسې سپارښتنه کيږي چې پر حقوقي چوکاټ بايد له سره غور وشي تر څو د کمپاين د تمويل د يوه پياوړي جامع او بشپړ نظارت په اړه د ټاکنو د کميسيون صلاحيت په واضح ډول تعريف کړای شي. دغه راز د کمپاين د تمويل په مسايلو کې د ټاکنو د شکايتونو د کميسيون د تطبيق ظرفيت هم بايد واضح کړای شي.

11. د رايې اچونې او رايه اچوونکو د نوم ليکنې په ځايونو کې د ناظرانو، د کانديدانو د استازو او سياسي ګوندونو او رسنيو د استازو د موجوديت په هکله د وخت محدودول بايد لرې کړل شي. که چېرې د خلکو ګڼه ګونه يوه له مهمو ستونزو څخه وي، نو په دې صورت کې د رايې اچونې يا نوم ليکنې په مرکز کې د هر نهاد لپاره بايد د اړوندو ناظرانو د شمير کچه باندی له سره بياکتنی وشي. همداشان هغه قواعد هم د بيا کتنی لپاره په پام کې نيول کېدای شي چې د کانديدانو او سياسي ګوندونو د پلانونو د مخکی له مخکی هماهنګ کول و شريکول پکښی را نغاړی.

12. داسې سپارښتنه کيږي چې سياسي احزاب او کانديدان بايد د ټاکنو د خپلواک کميسيون او نړيوالې ټولنې په همکارئ د استازو لپاره د روزنيزو پروګرامونو برابرولو ته پاملرنه وکړي تر څو دوی د ټاکنو په پروسه کې د ښه ريپوټ ورکولو او څارنې لپاره چمتووالی ولري.

13. د ملي ناظرانو ګروپونو وکولای شول چې د ټاکنو په ورځ د ځای پر ځای کولو پلان ته دوام ورکړی او د ټاکنو له ورځې څخه وروسته د لا زياتو معلوماتو د شريکولو او ريپوټ ورکولو ته عملي بڼه ورکړي.

14. نړيواله ټولنه بايد د موندنو د تصديق او د پيښو د مستند کولواو ريپوټ ورکولو په برخه کې په نړيواله کچه د څارنې د منل شويو اصولو په پام کی نيولو سره د ملي څارنې ګروپونو د ظرفيت لوړولو له هڅو ملاتړ وکړي.

15. ثابت او دايمي امنيتي پرسونل ترممکنه حده پورې په بېلابېلو وختونو کې د دوو ساعتونو لپاره په دوه پړاوه کار وېشل کېدای شي. کړنلارې بايد د افغان امنيتي ځواکونو هر غړي ته په دقيق، روښانه او اغېزمنه توګه ورسول شي. امنيتي پلټنه هم بايد د خطر د کمولو په موخه په منظم او يو ډول ترسره شي.

16. د يادونې وړ ده چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون او افغان ملي امنيتي ځواکونو ترمنځ په همکارئ او همغږئ کې هم بايد په ټولو کچو کې سمون رامنځ ته شي. د راتلونکو ټاکنو لپاره بايد د مراتبو د منظمې سلسلې يا اطاعت روښانه لړئ هم بايد رامنځ ته کړای شي او د مراتبو دا سلسله بايد په ټول هېواد کې د رايې اچونې د مرکز له کارکوونکو نيولې بيا د افغان ملي امنيتي ځواکونو ،د کانديدانو د استازو او ناظرانو پورې ورسول شي.

17. د ټاکنو خپلواک کمېسيون ته په کار ده چې د رايې اچونې ځايونو د کارکوونکو روزنه او ارزونه جاري وساتي او د غېر مجازو فعاليتونو د مخنيوي په منظور د محدوديتونو يو روښانه ټولګه وړاندې او وضع کړي.

18. د ټاکنو خپلواک کميسيون بايد د هر رايه اچونکي د رايې د رسيد په مقابل کې دهغه د کارت پر لمبر برسيره د هغه لاسليک او يا د ګوتې نښان په نظر کې ونيسي تر څو د درغليو په وړاندې او د در غليو د تفتيش په وخت کې د رايې اچونې د راجستر د کتاب ارزښت زيات شي.

19. سپارښتنه کيږي چې د هم مهاله ټاکنو په صورت کې بايد د هرځل ټاکنو لپاره د رايه ورکوونکو د کارت د شمېرې د ثبت جلا کتاب موجود وي او همدا راز د ثبت کتاب ته بايد د ټاکنو اړوند د حساس مواد درجه ورکړل شي.

20. د ټاکنو پر قانون بايد له سره غور وشي تر څو دا شرط پکې درج شي چې د رايو شميرنه دې بايد د رايې اچونې د مرکز د نتايجو په فورمه کې د ناظرانو او کانديدانو د استازو په مخکې ورسول شي. د ټاکنيزو نا هواريو د حل لپاره د ټاکنو خپلواک کميسيون بايد د رايو د شميرنې طرزالعمل او يو لارښود بايد جوړ کړي او اړوندو ټاکنيزو کارکونکو ته يې په هکله لازمه روزنه ورکړي.

21. د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد باوري کړي چې د رايې اچونې هر ځای ته په کافي شمېر کې د نتايجو د فورمو په ورکولو سره رايه ورکوونکي او څارونکي د ټاکنو په ورځ د رايې اچونې په ځای کې د رايې

اچونې د نتایجو په هکله رسمي معلومات ترلاسه کولای شي.

22. په ډیټابیس او راجستر کتاب کې د رایې اچونې د ټولو کارتونو ثبتول باید د رایو د شمیرلو ملي مرکز ته یو شرط وګرځول شي تر څو د اچولو شویو رایو د شمیر سره وروسته مقایسه کړای شي.

23. د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید د رای شمیرنې ملي مرکز ودانۍ ته د لاس رسي خپله آزاده پالیسي د کړنلارې په وسیله د نتایجو د پروسېس په جریان کې او هم د ناظرانو او استازو لپاره د انځور اخیستنې حق رسمي کړي، خو دا حق باید د رای شمېرنې د ملي مرکز په عملیاتو کې د لاس وهنې تر بریده و نه رسیږی.

24. لکه څرنګه چې د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو د ادارې په پخوانیو سپارښتنوکې ورته اشاره وشوه، د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د لومړیو، نهایي او قسمي نتایجو په اړه د رایې د اچونې د مرکزونو په سطح معلومات خپاره کړي چې په کې د صحیح، باطلو، خراب شویو، او سپینو رایو په اړه معلومات هم شامل شي. په منظمو قسطونو کې لکه د جدول بندۍ دریمي اودوهمي ورځې په پای کې د قسمي نتایجو خپریدو ته باید پاملرنه وشي. د قسمي نتایجو په منځ کې د لنډو قسطونو له طریقه د معلوماتو وړاندې کول کولای شي د ټاکنو په اړه د تورونو د مخنیوي لپاره د خلکو نظریات مثبت کړي.

25. د لومړنیو او وروستیو نتایجو پر وړاندې د شکایتونو درجولو په منظور د تطبیق وړ وروستۍ نېټې باید له هغه مهاله محاسبه شي چې د نتایجو اړوند معلومات د ټاکنو د خپلواک کمېسیون د وېب پاڼې له لارې د خلکو په واک کې ورکړل شي، څو باوري کړي چې سیالو کاندیدانو او د هغوی استازو ته د معلوماتو د څېړلو او نتایجو پر وړاندې د احتمالي استیناف غوښتنې د چمتووالي په موخه برابر او کافي وخت ورکړل شی.

26. د OSCE د دموکراتیکو او بشری حقوقو د اداري د سپارښتنو سره سم د ټاکنو نتایج باید په داسې یوه فارمټ یا بڼه اعلان او نشر شي چې په اسانی سره د معلوماتو د څېړنې په موخه ډاونلوډ او کارول کېدو امکان ولري.

27. د شفافیت او حساب ورکولو د زیاتوالي د یوه اقدام په توګه د هر ډول تفتیش څخه مخکې د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د مقررې په شکل کې د انفرادي رایو د باطلولو او د رایو د صندوقونو د پایلو د نتایجو لپاره شروط اعلان کړي او دا خبره باید مشخصه کړي چې کوم ارګان د سیالۍ په قضیه کې د پریکړې د کولو صلاحیت لري.

28. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د روڼتیا او حساب ورکولو د زیاتوالي د یو ګام په توګه باید د هر ډول تفتیش له پیل څخه وړاندې د انفرادي رای پاڼو د باطلولو اړوند شرایط او د رای پاڼو د ټولو صندقونو نتایج د مربوطه مقررې په بڼه اعلان کړي وای، او هم یې د جنجالي قضیې په برخه کې د تصمیم نیوونکې ادارې صلاحیت مشخص کړی وای.

29. پر ټاکنیز بهیر د اعتماد د زیاتوالي په منظور د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون باید خپلو مالي او بشري سرچینو ته پراختیا ورکړي او وار د مخه د اړوندو شکایتونو او استیناف غوښتنو د مطرح کولو په مقصد د ظرفیت د لوړلو فعالیتونه په لاره واچوي. د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون او د ټاکنو خپلواک کمېسیون دواړه کولای شي چې د ۲۰۱۵ کال پارلماني ټاکنو څخه وړاندې د خپلو ولایتي کارکوونکو د پوهې د کچې د لوړولو په منظور د روزنیزو پروګرامونو اړوند یوه هراړخیزه او همغږې ستراتیژي معرفي او ترغور لاندې ونیسي.

30. د شکایتونو کمیسیون باید خپل د عامه پوهاوي پروګرام لا هم ګړندی کړي تر څو ټول همکاران په رسمي ډول د شکایتونو د درج کولو د میکانیزم څخه د ګټې اخیستلو په هکله خبر کړي. دا باید یو اوږدمهاله تمرین وي او د کاندیدانو د نوماندۍ څخه باید مخکې پیل شي چې هدف یې ناظران، سیاسي ګوندونه، کاندیدان، او رایه اچونکي وي.

31. په حقوقي میعاد کې د ننه د ټاکنو د نتایجو د باطلولو په هکله د شکایتونو د درج کولو لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د رایې اچونې د ټولو مرکزونو د نتایجو پاڼې په یوه ساده فارمټ کې خپرې کړي، په هغه ځایونو کې چې نتایج یې له ځنډه باطل کړل شوي وي.

32. قانون باید د شکایتونو کمیسیون اړ کړي تر څو په خپلو کړنو او طرزالعمل کې پوره شفافیت ولري. د دې لپاره چې ټاکنیزې شخړې د نړیوالو معیارونو سره سم حل شي، د شکایتونو د کمیسیون د پریکړو په عام ډول

اعلان او د هغوی په ځپل وخت سره خپرول بايد په قانون کي واضح حکم ولري.

33. په حقوقي ميعاد کي د شکايتونو د حل او رسيدني لپاره بايد زيات کوښښونه وکړای شي. قانون بايد د هغو شکايتونو د حل او رسيدني لپاره چي په مستقيم ډول د شکايتونو مرکزي دفتر ته رسيدلي يو حقوقي ميعاد په واضح ډول وټاکي او په ټاکنيزه پروسه کي د حل هڅي ګړندی کړي.

34. د شکايتونو د حل او رسيدني موجود حقوقي چوکاټ او د اړوندو دخيلو اداروصلاحيت ته بايد د ټولو ګډونکونکو او حتي سيالو کانديدانو لخوا درناوی وشي.

35. د شکايتونو کميسيون د ټاکنو په اړه د شکايتونو د حل په برخه کي بايد له ډير رسمي تګلاري څخه کار وانخلي، په خاص ډول دغه کميسيون بايد د شکاياتو ماهيت په نظر کي و نيسي او ټول شواهد په بشپړه توګه وڅيړي. د شکايتونو کميسيون او د هغه ولايتي څانګي بايد د شواهدو په راټولو کي لا فعال رول ولوبوي او تر څو د شکايتونو د حل لپاره لاره پيدا کړي او د همکاری فضا رامنځ ته کړي. د دي لپاره چي د شکايتونو د حل لپاره موثره لاره پيدا شي بايد د شکايتونو د کميسيون او د هغه د ولايتي څانګي د کارکونکو لپاره د قضيو د مديريت، قضايي اداري او قوانينو د تطبيق د مهارتونو په برخه کي روزنيزو پروګرامونو ته زياته پاملرنه وشي.

**ب. اوږد مهاله سپارښتني**

اوږد مهاله سپارښتني هغه احتمالي پرمختګ په ګوته کوي چي د بشپړو ټاکنيزو ريفورمونو لپاره يي سپارښتنه کيدای شي چي پکي د اساسي قانون او د ټاکنو د قانون تعديلات شامليږي.

1. د ټاکنو د حقوقي چوکاټ خلا ګاني بايد د لا ښه والي په هدف تشخيص کړای شي تر څو د نړيوالو معيارونو سره مطابقت ومومي. تقنيني ريفورمونه د ټاکنيزو همکارانو، سياسي ګوندونو او د مدني ټولني له سازمانونو سره د آزادو او جامعو مشورو له لاري بايد د ټاکنو د پروسي څخه مخکي په لاره واچول شي.
2. د رايي په مرکزونوکي د رايه اچونکو لخوا د شکايتونو تسليمول او د لومړنيو نتايجو په اړه د دغو شکايتونو د درج کولو ميعاد بايد په واضح ډول په قانون کي مشخص کړای شي. د ناهواريو د مخنيوي لپاره بايد د ټاکنو قانون په مقرروکي د موجودو اصولو په نظر کي نيولو سره بيا وکتل شي.
3. سپارښتنه کيږي چي د حقوقي ثبات، د کانديدانو د ثبت، د کمپاين د ترسره کولو، د کمپاين د مالي چارو د اړتياو او د قانون له مخي د لومړنيو نتايجو د ستونزو د حل لپاره بايد هڅي وشي
4. که چيري د اساسي قانون د تعديل هڅي پيل شي، د افغانستان لخوا په لاسليک شويو ميثاقونو کي مندرج معيارونه، د کانديداتوري د حقوقو په هکله مخکيني سپارښتني او د ټاکنو د قانون د تصويب په اړه د جمهوري رياست صلاحيتونه بايد په جدي ډول په پام کي و نيول شي.

5. د مختلفو ټاکنو لپاره ميعادونه بايد د اساسي قانون مطابق د جمهور رييس د مودي د پای ته رسيدو سره مطابقت ولري او بايد نور هم تعديل کړای شي تر څو د ټاکنو د چمتووالي او د احتمالي دوهم ځل ټاکنو د سيالی لپاره پوره وخت موجود وي.

6. د دي په هکله چي کومه اداره په ټاکنيزو مسايلو کي د اساسي قانون د تفسير مسوليت لري، بايد حقوقي وضاحت را منځ ته شي. په ټاکنيزو مسايلو کي د ستري محکمي او د اساسي قانون د تطبيق څخه د څار د خپلواک کميسيون مسؤليت بايد د خاصو شرايطو په لرلو سره په قانون کي په واضح ډول ذکر شي.

7. د ټاکنو د خپلواک کميسيون د کارمندانو د تعيين د ميکانيزم د شموليت او بي طرفی په اړه او د خلکو د اعتماد د جلبولو لپاره د يوه احتمالي ميکانيزم پر رامنځ ته کيدو بايد خاص غور وشي.

8. سپارښتنه کيږي چي په ولايتي شورا ګانو کي د ښځو د ګډون د سهم پر کموالي بايد تجديد نظر وشي او په سياسي ژوند کي د دوي ګډون بايد لا پراخه شي.

9. د جمهوری رياست د کانديدانو د ثبت لپاره د پيسو د ديپوزيټ او د لاسليکونو د وړاندی کولو دواړه شروط کولای شي دوی د کانديداتوری د مشروع حق څخه محروم کړي. دغه شرط يا خو بايد د پيسو د ديپوزيټ او يا هم يوازي د لاسليکونو وړاندی کولو ته وګرځول شي. که څه هم د پيسو د ديپوزيټ مقدار د دي لپاره کافي دی چي د بي ځايه کانديداتوری د نوماندانو مخه ونيسي، خو دغه مقدار بايد په احتياط سره

عيار شي تر څو د کانديداتورۍ د حق څخه د محروميت سبب نشي.

10. د ولايتي شورا ګانو لپاره د تحصيلاتو شرط په پراخه اندازه محدوديت رامنځ ته کړی او بايد له سره پرې غور وشي.

11. د افغانستان دولت د ثبت لپاره په يوازې ځان د چمتووالي پر پريکړه تجديد نظر کولای شي تر څو د ټاکنو خپلواک کميسيون په راتلونکي کې د رايو اچونکو د ثبت پر نورو لارو باندې په مستقلانه ډول تصميم ونيسي. يا خو د رايو اچونکو ثبت د مدني ثبت د ديتابيس سره و نښلوي او يا هم په مستقلانه ډول د رايو اچونکو لپاره په يوازې ځان د ثبت سيستم جوړ کړي.

12. لکه څرنګه چې مخکې هم سپارښتنه وشوه ، که چيرې د د رايو اچونکو کارتونه وکارول شي نو بايد ټول نارينه او ښځينه رايه اچونکي په خپلو کارتونو کې عکسونه ولري تر څو د درغلۍ مخه ونيول شي.

13. سپارښتنه کيږي چې د ټاکنو پر حقوقي چوکاټ بايد له سره غور وشي او پکې د احتمالي دوهم پړاو ټاکنو او سيالۍ لپاره د کمپاين د موده اوږدوالی درج شي.

14. د کانديدانو او سياسي ګوندونو لپاره د عامه تمويل پر سيستم بايد غور وشي. د عامه تمويل د پيسو تخصيص بايد يوازې په جدي ډول د کمپاين د مالي مقررې مطابق تر سره شي او پدې اړه ريپوټ ورکول هم بايد حتمي شي او دا سيستم بايد داسي ډيزاين شي چې د ښځو لپاره په سياسي ډګر کې د ګډون لپاره اضافي امتيازات په نظر کې و نيول شي.

15. سپارښتنه کيږي چې د کمپاين د لګښتونو لپاره تر يوه مناسبه بريده حدود وټاکل شي تر څو د پروسې شفافيت يقيني شي او د کمپاين د تمويل د مقررې سره د ټکر خطرونه کم شي.

16. د ټاکنو خپلواک کميسيون بايد د ناظرانو د باور د تأييد موضوع په رسمي ډول تنظيم کړي او د دوهم پړاو د ټاکنو د پيښيدو په صورت کې د اضافي ناظرانو، کانديدانو د استازو او رسنيو لپاره د غوښتنليک او باور ليک ورکولو لپاره يو مشخص ميعاد وټاکي.

17. د ټاکنو پر حقوقي چوکاټ بايد له سره غور وشي تر څو د کمپاين د تمويل د بې نظميو يو بشپړ لست جوړ او ورته موثراو مناسب تعزيرات وضع شي. د جمهوري رياست کانديدان بايد د ټاکنو د خپلواک کميسيون سره د همکارۍ د نه کولو په صورت کې د کمپاين د تمويل ټول مسوليتونه په غاړه واخلي.

18. د دې لپاره چې د نړيوالو معيارونو سره سم ټاکنيزې مسلې په ښه توګه حل شي، د ټاکنو قانون بايد تعديل شي تر څو د شکايتونو د کميسيون په اړه د قضاييه قوا صلاحيتونه واضح کړای شي.

19. د ټاکنو قانون بايد تعديل شي تر څو ناظرانو او نورو ګروپونو ته د ټاکنيزومسايلو، د ټاکنو د کميسيون د کړنو، د ټاکنو د نتايجو او د کمپاين اړوند غير قانوني فعاليتونو په اړه د شکايتونو د درج حق ورکړل شي.

20. سپارښتنه کيږي چې د ټاکنو پر حقوقي چوکاټ بايد له سره غور وشي تر څو د ټاکنيزو ادارو مسوليتونه تعريف کړای شي ، د کانديدانو د لومړني لست په اړه يو د شکايتونو د درجولو لپاره يو ميعاد وټاکل شي او په واضح ډول د ټاکنو د نهايي نتايجو د اعلان په هکله صلاحيت روښانه کړای شي.

**لومړی ضميمه:  د جمهوري رياست د ټاکنو  نتايج**

**د لومړي پړاو ټاکنو تاييد شوي نهايي نتايج**

| **کانديد** | **د ترلاسه شويو رايو مجموعه** | **فيصدي** |
|---|---|---|
| ډاکتر عبدالله عبدالله | 2,972,141 | 45.00 % |
| ډاکتر محمد اشرف غني احمدزی | 2,084,547 | 31.56 % |
| ښاغلی زلمی رسول | 750,997 | 11.37 % |
| ښاغلی عبدالرب  رسول سياف | 465,207 | 7.04 % |
| ښاغلی قطب الدين هلال | 181,827 | 2.75 % |
| ښاغلی شفيق شيرزوی | 103,636 | 1.57 % |
| ښاغلی داود سلطان زوی | 30,685 | 0.46 % |
| ښاغلی هدايت ارسلا | 15,506 | 0.23 % |
| **د ټولو مجموعه** | **6,604,546** | |

منبع:www.iec.org.af

**د دوهم  پړاو ټاکنو د لومړنيو نتايجو مجموعه**

| **کانديد** | **د ترلاسه شويو رايو مجموعه** | **فيصدي** |
|---|---|---|
| ډاکتر عبدالله عبدالله | 4,485,888 | 56.44 % |
| ډاکتر محمد اشرف غني احمدزی | 3,461,639 | 43.56 % |
| **د ټولو مجموعه** | **7,947,527** | |

منبع:www.iec.org.af

## دOSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقود اداری په اړه

د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو اداره د OSCE یو مهم بنسټ دی چې د ګډونکونکو هیوادونو سره د بشر ي حقوقو د پوره درناوي او اساسي آزادی د تآمین په هکله مرسته کوي. دغه راز د قانون مراعاتول، د ډیموکراسی اصولو ته وده ورکول او د ډیموکراتیکو بنسټونو پیاوړي کول او له هغه څخه دفاع کول، په ټولنه کې زغم ته وده ورکول د دغې اداری له اهدافو څخه دي ( د ۱۹۹۲ کال د هلسینکي اسناد) چې د OSCE بشري پروګرام هم ورته ویل کیږي.

د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو اداره په وارسا ( پولنډ ) کې میشته ده اود ۱۹۹۰ کال د پاریس په کنفرانس کې د آزادو ټاکنو د اداری په توګه رامنځ ته شوه چې د ۱۹۹۱ کال د مې په میاشت کې یې په فعالیت پیل وکړ. یو کال وروسته یې نوم تغیر وکړ او د بشري حقوقو او ډیموکراسی په اړه یو پراخه پروګرام یې په فعالیتونو کې ځرګند شو. اوس مهال دغه اداره ۱۳۰ تنه کارمندان لري.

د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو اداره د ټاکنیز څار په باره کې په اروپا کې یوه مخکښه اداره ده. هر کال دغه اداره په زرهاو ټاکنیز ناظران هغه هیوادونو ته استوي چې هلته ټاکني تر سره کیږي تر څو وګوري چې ټاکني د OSCE په سیمه کې د OSCE د ژمنو، د نورو نړیوالو معیارونو او قوانینو سره سم تر سره کیږي او که نه. د دغې اداري بې ساری میتودالوژي د ټاکنو د ټولې پروسې په هکله یو ژور لید وړاندې کوي. د ډیموکراتیکو بنسټونو او بشري حقوقو اداره د مرستندویه پروژو له طریقه د OSCE د ګډونکونکو هیوادونو سره مرسته کوي ترڅو خپل حقوقي چوکاټ ته وده ورکړي.

د ډیموکراسی په اړه د دغې اداري فعالیتونه په لاندې ډول دي: د قانون حاکمیت، تقنیني ملاتړ، دیموکراتیکه حکومت داري، مهاجرت، د خوځښت آزادي او د جنسیت مساوات. د E OSC د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو اداره یو شمیر خاص کلني پروګرامونه تطبیق کوي چې هدف یې د ډیموکراتیکو تشکیلاتو جوړول دي.

د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو اداره د ګډونکونکو هیوادونو سره د دوی د وجایبو او مکلفیتونو په اړه مرسته کوي تر څو بشر ي حقوق او اساسي آزادی ته د OSCE د بشري حقوقو اړوند اصولو سره سم وده ورکړي او ترې دفاع وکړي. دغه هدف د مختلفو همکارانو سره د همغږۍ په تامینولوکې لاس ته راتلی شي تر څو همکاری وده وموميې، ظرفیتونه لوړ شي، او د تروریزم پرخلاف جګړه کې بشري حقوق وده وموميې، د قاچاق شویو انسانانو بشري حقوق تآمین شي، د بشري حقوقو تعلیم او روزنه پیاوړی شي، د بشري حقوقو په هکله نظارت او ریپوټ ورکول ښه شي، د ښځو بشري حقوق او امنیت تامین شي او په نورو اړوندو ساحو کې مهارتونه انکشاف وکړي.

د زغم او د تاوتریخوالي د نشتون په ساحه کې، د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو اداره ګډونکونکو هیوادونو ته د Roma اوSinti په اړه د پالیسو په ساحه کې مشوری ورکوي. دغه اداره ظرفیتونه لوړوي او د Roma اوSinti ټولنو تر منځ شبکې منځ ته راوړي او د Roma او Sinti استازې د پالیسیو جوړلو په ادارو کې ګډون ته راغواړي.

د OSCE د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو د اداري ټول فعالیتونه د دغې اداري د ګډونکونکو هیوادونو، د OSCE بنسټونو او ساحوي فعالیتونو او نورو نړیوالو سازمانونو سره په همغږی او همکاری تر سره کیږي.

نور معلومات د ډیموکراتیکو بنسټونواو بشري حقوقو د اداري له لاندې ویب پاڼې څخه ترلاسه کولای شی.(www.osce.org/odihr)